د افغانستان بانک

# اقتصادي
# او
# احصائیوي بولټن

د افغانستان بانک کلنی اقتصادي او احصائیوي بولټن
د ۱۳۹۵ مالي کال (۲۰۱۶)

د افغانستان بانک

# اقتصادي
# او
# احصائیوي بولټن

د افغانستان بانک کلنی اقتصادي او احصائیوي بولټن
د ۱۳۹۵ مالي کال (۲۰۱۶)

ابن سینا واټ

کابل

افغانستان

ټلیفون: ۲۱۰۳۹۳۲-۲۰-۹۳+

وب پاڼه: www.dab.gov.af

بریښنالیک: info@dab.gov.af

ټول حقونه خوندي دي

حقونه او اجازه لیکونه

په دې بولټن کې د ټولو مطالبو د خپرولو حق خوندي دی؛ خو نقلول او بیاځلي چاپول یې په آزاده توګه ترسره کېدای شي. د بیا چاپ لپاره د تصدیق پاڼې او د بولټن یوه کاپي لازمي ده.

**یادداښت:**

د افغانستان مالي کال له ۱۳۹۱ (۲۰۱۲) کال راهیسې بدلون موندلی دی. نوی مالي کال هر کال د ډیسمبر په ۲۱ پیلیږي. دا کلنی بولټن د ۱۳۹۵ مالي کال اقتصادي او احصائیوي بدلونونه رانغاړي.

## د محتویاتو لړلیک

**عمومي کتنه** ........ ۱

**۱. نړیوال اقتصادي وضعیت** ........ ۵

۱.۲.۱ د چین اقتصاد ........ ۷

**۲. د پانګې او پولي بازار بدلونونه** ........ ۱۳

۱.۲ پولي پروګرام ........ ۱۳

۲.۲ د نقدینګۍ حجم ........ ۱۴

۱.۲.۲ خالصه نړیوالې زیرمې ........ ۱۷

۳.۲ د اسعارو د مبادلې بازار ........ ۱۷

۱.۳.۲ د اسعارو د مبادلې نرخ ........ ۱۷

۲.۳.۲ د اسعارو لیلام ........ ۱۸

۴.۲ د پانګې بازارونه او د سیالیت شرایط ........ ۲۴

۱.۴.۲ د پانګه ایزه پاڼو (کپیټل نوټ) لیلام ........ ۲۴

۲.۴.۲ الزامي او اضافي زیرمې ........ ۲۵

**۳. د انفلاسیون بهیر او لیدلوری** ........ ۳۷

**۱.۳ په افغانستان کې د مصرفي توکو بیې** ........ ۳۷

۲.۳ د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې د شاخص بدلونونه ........ ۳۸

۳.۳ د کابل د مصرفي توکو د بیې په شاخص کې بدلونونه ........ ۴۲

۴.۳ د انفلاسیون لنډ مهاله لید لوری ........ ۴۶

**۴. د بهرني سکتور بدلونونه** ........ ۴۹

۱.۴ د اداینو بیلانس ........ ۴۹

۱.۱.۴ د جاري حساب بیلانس ........ ۴۹

۲.۱.۴ پانګه ایز حساب ........ ۵۰

۳.۱.۴ مالي حساب ........ ۵۰

۴.۱.۴ بهرنۍ مستقیمې پانګونې او د پورتوفولیو بهیدنې(جریانونه) ........ ۵۱

۵.۱.۴ د توکو سوداګري ........ ۵۱

**۲.۴ د سوداګرۍ لوری** ........ ۵۲

**۳.۴ د سوداګرۍ ترکیب** ۵۴
۱.۳.۴ د وارداتو ترکیب ۵۴
۲.۳.۴ د صادراتو ترکیب ۵۵
**۴.۴ بهرني پوراينې** ۵۶
**۵.۴ خالصه نړیوالې زیرمې** ۵۷
**۵. د حقیقي سکتور بدلونونه** ۶۳
**۱.۵** کورني ناخالصه تولیدات د اقتصادي کړنو پر اساس ۶۳
**۲.۵** د لګښت پر اساس کورني ناخالصه تولیدات ۶۶
**۳.۵** د ۱۳۹۶ مالي کال لپاره د کورني ناخالصه تولیداتو لید لوری ۶۷
**۶. د مالي سکتور بدلونونه** ۷۱
**۱.۶ د بودجې د اجراء نرخ** ۷۲
**۲.۶ اصلي بودجه (کسر او ډېریدنه)** ۷۲
**۳.۶ ټولیزه عواید** ۷۳
۱.۳.۶ غیر مالیاتي عواید ۷۳
**۴.۶ د بسپنه ورکوونکو مرستې** ۷۳
**۵.۶ لګښتونه** ۷۴
**۷. د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی** ۷۵
**۱.۷ د بانکي نظام شتمنی** ۷۶
۱.۱.۷ ناخالصه پورونه ۷۷
۲.۱.۷ د پور د زیان زېرمې ۷۷
۳.۱.۷ د کریډېټ وېشنه ۷۷
**۲.۷ د پورونو ډله بندي** ۸۰
۱.۲.۷ صعب الحصول پورونه ۸۰
۲.۲.۷ معکوس ډله بندي شوي پورونه ۸۰
۳.۲.۷ تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه ۸۱
۴.۲.۷ په خساره کټګورۍ کې پورونه ۸۱
۵.۲.۷ د بانکونو ترمنځ طلبات ۸۱
۶.۲.۷ پانګه اچونه ۸۲
۷.۲.۷ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات ۸۲

**۳.۷ پوراینې** ........ ۸۲
۱.۳.۷ امانتونه ........ ۸۲
۲.۳.۷ پور اخیستنې ........ ۸۴
**۴.۷ نقدینګی (سیالیت)** ........ ۸۴
۱.۴.۷ د سیالیت نسبت (پراخه کچه) ........ ۸۵
**۵.۷ پانګه** ........ ۸۵
**۶.۷ ګټورتیا (نافعیت)** ........ ۸۵
**۷.۷ د اسعارو خطر** ........ ۸۶
**۸.۷ د ټکټانې د نرخ خطر** ........ ۸۷

**د ګرافونو لیست**


۱.۱ ګراف: د نړۍ د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ( کال په کال ) سلنه ........ ۵

۲.۱ ګراف: د پرمختللو اقتصادونو د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ( کال په کال) سلنه ........ ۵

۳.۱ ګراف: د راغوړیدلو بازارونو او پرمختلګ په حال کې هېوادونو د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ( کال په کال) سلنه.. ۷

۴.۱ ګراف: په ۲۰۱۶ کال کې د لږ عاید لرونکو هېوادونو د ودې واقعي نرخ........ ۸

۱.۲ ګراف: پولي زیرمې، ۱۳۹۵ مالي کال (ډیسمبر ۱۵ - ډیسمبر ۱۶)........ ۱۴

۲.۲ ګراف: خالصه بهرنۍ زېرمې، خالصه داخلي زېرمې او د پراخه مهفوم په توګه پیسې ( په میلیون افغانۍ)........ ۱۵

۳.۲ ګراف: په ګردښت کې پیسې، جاري امانتونه او پیسه وزمه د پراخه مفهوم (M2) د ونډې په توګه........ ۱۵

۴.۲ ګراف: خالصه نړیوالې زیرمې، حقیقي او ټاکل شوی هدف، ۱۳۹۵ کال (په میلیون ډالر)........ ۱۷

۵.۲ ګراف: د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی اوسط نرخ، ۱۳۹۴ مالي کال........ ۱۸

۶.۲ ګراف: د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی اوسط نرخ، ۱۳۹۵ مالي کال........ ۱۸

۷.۲ ګراف: د ایراني تومانو او پاکستانۍ روپیو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی اوسط نرخ، ۱۳۹۵ مالي کال........ ۱۸

۸.۲ ګراف: د ایراني تومانو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی اوسط نرخ، ۱۳۹۵ مالي کال........ ۱۸

۹.۲ ګراف: ناتصفیه شوې پانګه ایزې پاڼې، ۱۳۹۵ مالی کال........ ۲۴

۱۰.۲ ګراف: د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ........ ۲۵

۱۱.۲ ګراف:د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ........ ۲۵

۱۲.۲ ګراف: د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ........ ۲۵

۱۳.۲ ګراف: د ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ........ ۲۵

۱.۳ ګراف: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص ( کال په کال)........ ۳۸

۲.۳ ګراف: اصلي انفلاسیون ( ۳۰ سلنه د اوسط پیدا کولو میتود)........ ۳۸

۳.۳ ګراف: د ملي انفلاسیون درې میاشتني بدلونونه........ ۴۰

۴.۳ ګراف: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص (کال په کال)........ ۴۲

۵.۳ ګراف: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص (ربعه په ربعه)........ ۴۴

۱.۴ ګراف: د افغانستان د اداینو، جاري حساب، توکو، خدمتونو، عوایدو او جاري لیږدونو بیلانس........ ۵۰

۲.۴ ګراف: پانګه ایز او مالي حسابونه........ ۵۰

۳.۴ ګراف: د افغانستان د بهرنیو مستقیمو پانګونو جریانونه........ ۵۱

۴.۴ ګراف: د صادراتو لوری، ۱۳۹۵ مالي کال........ ۵۳

۵.۴ ګراف: د صادراتو لوری، ۱۳۹۴ مالي کال........ ۵۳

۶.۴ ګراف: د وارداتو لوری، ۱۳۹۵ مالي کال........ ۵۴

۷.۴ ګراف: د وارداتو لوری، ۱۳۹۴ مالي کال ........................ ۵۴
۸.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب، ۱۳۹۴ مالي کال ........................ ۵۵
۹.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب، ۱۳۹۵ مالي کال ........................ ۵۵
۱۰.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب، ۱۳۹۴ مالي کال ........................ ۵۶
۱۱.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب، ۱۳۹۵ مالي کال ........................ ۵۶
۱۲.۴ ګراف: د بهرني پورواینې پرتله کول، د ۱۳۹۴ مالي کال پای او د ۱۳۹۴ مالي کال ........................ ۵۷
۱۳.۴ ګراف: د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې خالصه نړیوالې زیرمې ........................ ۵۸
۱.۵ ګراف: د اقتصادي کړنو پربنسټ کورني ناخالصه تولیدات ........................ ۶۳
۱.۶ ګراف : د ټولیزه عوایدو، ټولیزه لګښتونو او ټولیزه بودجې پرتله کول ........................ ۷۱
۲.۶ ګراف: د عملیاتي، پراختیایي او ټولیزه بودجې د اجراء د نرخونو پرتله کول، ۱۳۹۴– ۱۳۹۵ مالي کلونه ........................ ۷۲
۳.۶ ګراف: د ټولیزې اصلي بودجې پرتله کول، ۱۳۹۴– ۱۳۹۵ مالي کال ........................ ۷۲
۴.۶ ګراف: د ټولیزې بودجې پرتله کول، ۱۳۹۴– ۱۳۹۵ مالي کال ........................ ۷۲
۵.۶ ګراف: ټولیزه عواید، ۱۳۹۵ مالي کال ........................ ۷۳
۶.۶ ګراف: د ټولیزه عوایدو پرتله کول، ۱۳۹۴– ۱۳۹۵ مالي کال ........................ ۷۳
۷.۶ ګراف: د ټولیزه غیر مالیاتي عوایدو ترکیب ........................ ۷۳
۸.۶ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د عوایدو ترکیب، ۱۳۹۴– ۱۳۹۵ مالي کال ........................ ۷۴
۹.۶ ګراف: د ټولیزه لګښتونو پرتله کول، ۱۳۹۴– ۱۳۹۵ مالي کال ........................ ۷۴
۱.۷ ګراف: په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي نظام ونډه ........................ ۷۶
۲.۷ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو په پورتوفولیو کې د بانکونو د ګروپونو ونډه ........................ ۷۷
۳.۷ ګراف: د پورونو د پورټوفولیو کیفیت ........................ ۸۰
۴.۷ ګراف: د بانکي ګروپونو ترمنځ د خپل منځي طلباتو ونډه ........................ ۸۲
۵.۷ ګراف: د بانکي ګروپونو ترمنځ پورواینې زیاتې شوي دي ........................ ۸۲
۶.۷ ګراف: په افغانۍ ایښودل شوي امانتونه ........................ ۸۳
۷.۷ ګراف: د امانتونو اسعاري ترکیب ........................ ۸۳
۸.۷ ګراف: د بانکي ګروپونو ترمنځ په امانتونو کې زیاتوالی راغلی دی ........................ ۸۳
۹.۷ ګراف: د امانتونو ډله بندي ........................ ۸۴
۱۰.۷ ګراف:د بانکي نظام ګټورتیا ........................ ۸۶
۱۱.۷ ګراف: د بانکي نظام له شتمنۍ ترلاسه شوي ګټه او له پانګې ترلاسه شوې ګټه ........................ ۸۶
۱۲.۷ ګراف: نهایي خالصه ټکټانه ........................ ۸۶

**د جدولونو لیست**


۱.۲ جدول: تحلیلي بیلانس شیټ او د نقدینه ګۍ حجم، ۱۳۹۵ مالي کال........ ۱۶
۱.۲ جدول: د اسعارو د لیلام لنډیز، ۱۳۹۵ مالي کال........ ۱۹
۳.۲ جدول: د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام ( په میلیون افغانۍ)........ ۲۶
۴.۲ جدول: د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام ( په میلیون افغانۍ)........ ۲۸
۵.۲ جدول: د ۹۱ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام ( په میلیون افغانۍ)........ ۳۰
۶.۲ جدول: د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام ( په میلیون افغانۍ)........ ۳۱
۷.۲ جدول: د ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام ( په میلیون افغانۍ)........ ۳۲
۱.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه (کال په کال)........ ۳۹
۲.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه (ربعه په ربعه)........ ۴۱
۳.۳ جدول: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه (کال په کال)........ ۴۳
۴.۳ جدول: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه (ربعه په ربعه)........ ۴۵
۱.۴ جدول: د جاري حساب بیلانس........ ۵۸
۲.۴ جدول: د توکو سوداګري........ ۵۸
۳.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لوری، ۱۳۹۵ مالي کال........ ۵۹
۴.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لوری، ۱۳۹۴ مالي کال........ ۵۹
۵.۴ جدول: بهرنۍ پوراینې، ۱۳۹۵ مالي کال........ ۶۰
۶.۴ جدول: خالصه نړیوالې زیرمې، ۱۳۹۵ مالي کال........ ۶۰
۱.۵ جدول: د تولیداتو د سکتورونو له مخې د حقیقي کورني ناخالصه تولیداتو وده........ ۶۵
۲.۵ جدول: د لګښت د کټګوریو له مخې اسمي کورني ناخالصه تولیدات........ ۶۷
۱.۷ جدول: د بانکي نظام شتمنۍ........ ۷۶
۲.۷ جدول: د کریډټ سکتوري وېش........ ۷۸
۳.۷ جدول: د بانکي نظام د ټینګښت مهم شاخصونه........ ۸۴
۴.۷ جدول: د ګټې/زیان جدول........ ۸۵

# د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی



خلیل صدیق

د افغانستان بانک لوی رئیس



واحد الله نوشیر

د افغانستان بانک لومړی مرستیال



محمد قسیم رحیمي

د افغانستان بانک دویم مرستیال



## د لوی رئیس پیغام

”د پولنې د ډېرو زیانمن کیدونکو وګړو ملاتړ؛ د افغانستان بانک د پالیسیو او هڅو موخه ده. دا چاره د سالم او اغیزناکه پولي سیاست د تطبیق له لارې ترسره کیږي، هغه سیاست چې د بانک پر لومړني هدف (د بیو پر ثبات) تمرکز کوي.“

**عمومي کتنه**

د افغانستان بانک د ۱۳۹۵ مالي کال اقتصادي او احصائیوي بولټن د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د هېواد د اقتصاد هر اړخیزه بدلونونه رانغاړي.

دا بولټن په ۱۳۹۵ مالي کال کې د نړیوال اقتصاد لنډ راپور، د هېواد د ټولو سکتورونو وروستي بدلونونه او همدا ډول د دې سکتورونو پر وړاندې د ننګونو څېړنه او ارزونه تر بحث لاندې نیسي.

نړیوال اقتصاد د تیر کال په پرتله په ۱۳۹۵ کال کې کمزوره وده تجربه کړې ده. د نړیوال بانک د راپور له مخې، په ۱۳۹۵ مالي کال کې نړیواله اقتصادي وده ۲.۳ سلنه اټکل شوې، حال دا چې نړیوال اقتصاد په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۲.۷ سلنه وده درلوده چې د ۲۰۰۷ – ۲۰۰۸ کال نړیوال مالي کړکیچ راهیسې کمزوره کړنه ښکاره کوي او اصلي لاملونه یې لږه پانګونه، د نړیوالې سوداګرۍ کموالی او په پالیسي باندې په لوړه کچه ناډاډمنتیا ګڼل کیږي.

د لږ عاید لرونکو هېوادونو د کورني ناخالصه تولیداتو وده ۴.۷ سلنه ټیټه ثبت شوې ده چې اصلي لاملونه یې د توکو ټیټه بیه، خرابه هوا او سیاسي او امنیتي ننګونې ښودل شوي دي.

د سیاسي بې ثباتۍ او ناوړه امنیتي وضعیت په پایله کې د دوامداره محدودیتونو او عمده اقتصادي ننګونو سره سره په ۱۳۹۵ مالي کال کې د افغانستان اقتصاد د تیر کال په پرتله پیاوړې وده ثبت کړې ده. د افغانستان اقتصاد په ۱۳۹۵ مالي کال کې د کورني ناخالصه تولیداتو ۳.۶ سلنه مثبته وده ثبت کړې ده چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۲.۲ سلنه منفي ودې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي چې دا زیاتوالی په ټولیزه توګه په دوو سکتورونو کرنې او خدمتونو پورې اړه لري. د کرنیز سکتور کرنې د تیر کال په پرتله په ښې ساري توګه ښې شوې دي. همدا ډول د خدمتونو سکتور ښه والی تجربه کړی، حال دا چې د صنعت سکتور په دې دوره کې کمزوره وده درلوده.

د کرنې سکتور د دولت د ملاتړ او ښې هوا په پایله کې د ۱۳۹۴ مالي کال د پام وړ منفي ۱۶.۹ سلنې څخه ۱۲ سلنې ته لوړه وده ثبت کړې ده. د یادولو وړ ده چې په ۱۳۹۵ مالي کال کې د نشه يي توکو په تولید کې ښه والی راغلی دی ( له منفي ۴۸.۴ سلنې څخه ۴۵.۵ سلنې ته زیات شوی دی) چې د کرنیزه سکتور په وده کې د پام وړ ونډه لري.

د ۱۳۹۵ مالي کال په پای کې، د توکو نړیواله بیې د انرژۍ او غیر انرژۍ توکو لپاره لوړ نرخ ثبت کړی دی. د انرژۍ بیې د ډېرو سکارو د بیو د لوړیدو له امله ۱۱ سلنې ته زیاتې شوي دي، حال دا چې د غیر انرژۍ بیې د اوسپنو د بیو د زیاتیدو له امله یوازې یو سلنه ورو زیاتوالی ثبت کړی دی. له هغه ځایه چې د افغانستان اقتصاد په زیاته کچه په وارداتو متکي دی نو د توکو په نړیواله بیو کې زیاتوالی د افغانستان په داخلي بیو باندې اغیز اچولی دی.

د عمومي مصرفي توکو د بیو د شاخص انفلاسیون د ۱۳۹۵ مالي کال د څلورمې ربعې په اوږدو کې لوړیدونکی بهیر درلوده. د مصرفي توکو په شاخص کې د بدلونونو کال په کال سنجش ښکاره کوي چې د انفلاسیون نرخ د تیر کال د ورته مودې له ۰.۱ سلنې څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په څلورو ربعو کې ۴.۵ سلنې ته لوړ شوی دی.

انفلاسیون د ربعې په ربعې محاسبې پر بنسټ هم د تیر کال د ورته دورې له ۱.۶ سلنه ثبت شوې نرخ څخه ۲.۰ سلنې ته لږ څه زیات شوی دی.

د افغانستان بانک د پولي هدف رژیم ساتي او د انفلاسیون د

کنټرول په موخه پولي زېرمې تر هدف لاندې نیسي. په ۱۳۹۵ مالي کال کې پولي زېرمې ( د افغانستان بانک د عملیاتي هدف) په توګه ۱۰.۹۷ سلنه وده کړې ده چې له ټاکل شوي ۱۰ سلنه هدف څخه لږ څه زیاتوالی ښکاره کوي. د افغانستان بانک په بازار کې د نقدینه ګۍ د مدیریت او د بهرنیو اسعارو په ځانګړې توګه د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلوي نرخ د زیاتو نوساناتو د مخنیوۍ په موخه د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۱،۹۲۶.۲۵ میلیونه امریکایي ډالره لیلام کړي دي چې د ارزونې لاندې موده کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت ۱.۷۸ سلنه لوړ شوی دی.

د افغانستان بانک په نړیوالو زېرمو کې سره زر، د پیسو نړیوال صندوق (IMF) سره د پور زېرمه او ونډه، د برداشت ځانګړی حق (SDR) او همدا ډول مهم اسعار لکه امریکایي ډالر، یورو، انګلیسي پاونډ او داسې نور شامل دي. خالصه نړیواله زېرمې په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۶،۸۲۴.۶۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۳۹۴ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۶.۳۱ سلنه یا ۴۰۴.۸۹ میلیونه امریکایي ډالره زیاتوالي ښکاره کوي.

بهرني سکتور د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې ښه شوی دی چې اصلي لامل یې د توکو د صادراتو معتدله وده، د توکو د وارداتو دوامداره کمښت او د جاري لیږدونو ( بسپنو) زیاتوالی په ګوته شوی دی. د یادونې وړ ده چې د جاري لیږدونو دوامداره زیاتوالي او د توکو له صادراتو څخه تر لاسه شویو عوایدو، د وارداتو لګښتونه لږ څه جبران کړي دي. دا ټول بدلونونه د کارګرانو د لیږدودونکو پیسو او د داخلي جریانونو د عوایدو له زیاتیدو سره یو ځای لامل شوي دي چې د بهرني جاري حساب کسر د ۱۳۹۴ کال له ۴،۷۲۰.۶۸ میلیونه امریکایي ډالره کسر څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۳،۷۷۱.۸۳ میلیونه امریکایي ډالره یعنې ۲۰ سلنې ته راکم کړي. پانګه ایز حساب ته ورودي جریانونه، دولتي سکتور ته د ورودي جریانونو ( د پانګې د لیږدونو) له امله راکم شوي دي. د پانګونې خالصه پورټوفولیو د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې زیاتوالی موندلی، حال دا چې د بهرنۍ مستقیمو پانګونو خالصه داخلي جریانونه په دې موده کې راکم شوي دي.

بانکي نظام په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۴.۲۹ میلیارده افغانۍ خالصه ګټه ترلاسه کړې ده، حال دا چې تیر کال یې ۵۲۲ میلیونه افغانۍ خالصه ګټه کړې وه. دولتي بانکونو او د بهرنیو بانکونو نمایندګیو ۱۳۹۵ مالي کال له ګټې سره پای ته رسولی حال دا چې خصوصي بانکونو د همدې کال په اوږدو کې زیان کړی دی. د یادونې وړ ده چې د بانکي نظام شتمنۍ په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱۰.۵۶ سلنه راکمې شوي دي چې ۲.۸۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي، حال دا چې دا شمېره په تیر کال کې ۱۲.۱۸ سلنه ثبت شوې وه.

# نړيوال اقتصادي وضعيت

د نړیوال بانک د راپور پر بنسټ، د نړۍ کلنۍ وده د تیر کال له ۲.۷ سلنه زیاتوالی څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲.۳ سلنې ته کمه اټکل شوې چې د نړیوال مالي کړکیچ راپدېخوا کمزوره کړنې ښکاره کوي، حال دا چې اټکل کیږي چې د نړۍ کلنۍ اقتصادي وده به په راتلونکي کال کې ۲.۷ سلنې ته زیاته شي. لره پانګونه، د نړیوالې سوداګرۍ کموالی او په لوړه کچه د پالیسۍ نا ډاډمنتیا هغه لاملونه دي چې د نړۍ په اقتصاد یې منفي اغیزې اچولي دي.

۱.۱ ګراف: د نړۍ د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ




سرچینه: نړیوال بانک

### ۱.۱ پرمختللي اقتصادونه

په ۱۳۹۵ مالي کال کې د پرمختللو اقتصادونو د کمزوره ودې او پر پالیسیو باندې د ناډاډمنتیا د زیاتیدو، لږې پانګونې او د تولیداتو د کمې ودې له امله ټیټ انفلاسیون تجربه کړی دی. له همدې امله د دې هېوادونو کلنۍ اقتصادي وده د ۱۳۹۴ کال له ۲.۱ سلنې څخه ۱.۶ سلنې ته ټیټه اټکل شوې ده. تمه کیده چې د دې هېوادونو اقتصادي کړنې په ۱۳۹۶ مالي کال کې زیاتوالی ومومي، خو د متحده ایالاتو د نویو پالیسیو په اړه نا ډاډمنتیا او د اروپا له ټولنې څخه د بریتانیې د وتلو پریکړه (Brexit) کولای شي د دې هېوادونو اقتصادي وده د پام وړ اغیزمنه کړي.

۲.۱ ګراف: د پرمختللو اقتصادونو د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ښکاره کوي.




سرچینه: نړیوال بانک

### ۱.۱.۱ د امریکې د متحده ایالاتو اقتصاد

د امریکې د متحده ایالاتو اقتصادي وده په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱.۶ سلنه اټکل شوې ده چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۲.۶ سلنې په پرتله د پام وړ کموالی ښکاره کوي. د دې هېواد د اقتصادي ودې د کمیدو اصلي لاملونه د صادراتو ټیټه کچه، د توکو د موجودۍ او شخصي لګښتونو دوامداره کموالی په ګوته شوي دي. د امریکې د متحده ایالاتو اقتصادي کړنې د دې هېواد له ټولټاکنو مخکې د نومبر په میاشت کې بیا ځلې زیاتې شوې او د کار بازارونو یې لا پراختیا موندلې چې له امله یې د کارګرانو مزد (اجوره) لږ څه زیاتوالی موندلی دی چې دا کار د عوایدو له دوامداره ترلاسه کولو سره مرسته کوي او کولای شی د بې وزلۍ او بې کارۍ کچه هم راټیټه کړي. د امریکې متحده ایالات له کمزوره اقتصادي ودې سره توانیدلی دی څو د مرکزي بانک (Federal Reserves) د ټولو کارکوونکو ګمارنې ترسره او خپل انفلاسیوني موخو ته نږدې شي. د دې هېواد د بېکارۍ نرخ د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړۍ نیمایي کې له ۵ سلنې څخه ټیټ دی.

### ۲.۱.۱ د یورو د سیمې اقتصاد

د یورو د سیمې اقتصادي وده د ۱۳۹۴ مالي کال له ۲ سلنې څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱.۶ سلنې ته راټیټه شوې ده چې اصلي لامل یې د داخلي تقاضا کموالی او د صادراتو

ټیټه کچه ښودل شوې ده. د یورو په سیمه کې د اعتماد کچه د ۲۰۱۶ کال په جون میاشت کې له اروپایي ټولنې څخه د بریتانیې د وتلو له رایو وروسته بیا ځلې ښه شوې ده.
تمه کیږي چې د بریکسټ پر وړاندې نا ډاډمنتیا به په راتلونکي کال کې د بریتانیې او تر یوه بریده د یورو سیمې اقتصادي وده راکمه کړي. د نفتي موادو بیې چې د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړیو کې راکمې شوې وې، اوس مهال د ارزونې لاندې موده کې زیاتې شوي چې اصلي لامل یې په ۲۰۱۴ـ ۲۰۱۵ مالي کلونو کې د حقیقي عوایدو او شخصي لګښتونو کموالی په ګوته شوی دی. په ۱۳۹۵ مالي کال کې د دې هېواد د کار بازار او د پور شرایط پراخه شوي دي. د یادولو وړ ده چې د ګمارنې کچه له کړکیچ مخکې کچې ته رسیدلې، حال دا چې د بېکارۍ نرخ په ټول هېواد کې له بې ثباتۍ سره سره هم له لوړې کچې څخه راکم شوی دی. د ټکټانې د نرخ منفي پالیسۍ او د اروپا د مرکزي بانک لخوا د شتمنیو د پیر د سترو پروګرامونو له امله د پور اخیستنې لګښتونه د پام وړ راکم شوي دي چې په ورته وخت کې د پور ورکولو په جریانونو باندې په ټولیزه توګه مثبته اغیزه لري.

### ۳.۱.۱ د جاپان اقتصاد

د جاپان اقتصادي وده د ملي حسابونو د نویو او تجدید شویو شمېرو له خپرولو وروسته د ۱۳۹۵ مالي کال لپاره ۱.۰ سلنه اټکل شوې ده. د دې هېواد د پانګونې او صادراتو بهیر په ټولیزه توګه کمزوره ؤ، حال دا چې شخصي لګښتونو یې د دوو کلونو کموالي وروسته ښه والی درلوده. د مزد (اجورو) په وده کې د معتدله زیاتوالي اصلي لامل د کارګرانو کمښت په ګوته شوی دی؛ حال دا چې د کارګرانو ګټې د انفلاسیون د کموالي د غوښتنو او د نیمې ورځې د ګمارنې د ونډې د زیاتیدو له امله راکمې شوي دي. د جاپان مرکزي بانک د ۲۰۱۶ کال په سپټمبر میاشت کې د دولتي پور پاڼو د پیرولو په موخه خپله پالیسي له مقداري هدف څخه ډېر انعطاف منونکي تګلارې ته چې موخه یې صفر ته د ټکټانې د نرخ اوږد مهاله تثبیت دی، بدله کړې ده. دا پریکړه د مرکزي بانک لخوا د پلور لپاره د شرایطو وړ پور پاڼو د ډېرو نیمګړتیاوو د اړوندو محدودیتونو په کموالي کې مرسته کوي او په ورته وخت کې د مالي ادارو د اوږد مهاله منفي محصولاتو معکوسې اغیزې کنټرولوي. د پالیسۍ له بدلیدو سره د جاپان د ین د بیو ارزښت د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړیو کې زیاتوالی موندلی دی. له هغه ځایه چې د جاپان صادرات ډېری د صادراتي هېوادونو په اسعارو سره ترسره کیږي نو له همدې امله په ۱۳۹۵ مالي کال کې د دې هېواد په ګټه او پانګونه کې کموالی راغلی دی.

### ۲.۱ راغوړیدلي او د پرمختګ په حال کې هېوادونه

د راغوړیدلو بازارونو او د پرمختګ په حال کې هېوادونو اقتصاد په ۱۳۹۵ مالي کال کې اټکل شوي نرخ ۳.۴ سلنې ته زیاتوالی موندلی دی. د دې هېوادونو اقتصاد به په راتلونکي کال کې د ودې لوړ نرخ تجربه کړي چې ۴.۲ سلنه اټکل شوی دی. په ۱۳۹۵ مالي کال کې د دې هېوادونو کورنۍ تقاضا لږ څه زیاته شوې ده چې دې کار د نړیوالې سوداګرۍ کموالی جبران کړی دی. په ټولیزه توګه، دې هېوادونو د ۱۳۹۵ مالي کال په ډېرو میاشتو کې ښه مالي وضعیت درلوده، خو دا وضعیت د کال په پای کې د امریکایي ډالرو د بیو د زیاتیدو په پایله کې چې له امله یې د نړیواله پور پاڼو محصولات ډېر شوي، خراب شوی دی.
همدا ډول د نړیوالې سوداګرۍ د کچې او د توکو د بیو کموالي د راغوړیدلو بازارونو او د پرمختګ په حال کې هېوادونو اقتصادي وضعیت له ننګونې سره مخ کړی دی. په ۱۳۹۴ مالي کال کې د دې هېوادونو د اقتصادي ودې له کموالي وروسته، د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د دې هېوادونو اقتصادي وده په داخلي تقاضا کې د ټینګښت له امله ښه شوې ده. په ورته وخت کې برازیل او روسیې د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې په خپلو شخصي لګښتونو کې لږ څه کموالی تجربه کړی دی. همدا ډول په دې موده کې په برازیل، کولمبیا او روسیه کې د پانګونې کچې هم راکمې شوې دي، حال دا چې اقتصادي ودې په ختیځې آسیا او

آرام اقیانوس، ختیځې اروپا او منځنۍ آسیا، لاتیني امریکا او د کارابین په نورو صادروونکو هېوادونو کې زیاتوالی درلودلی دی. سره له دې چې روسیه او برازیل د راغوړیدلو بازارونو او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو د صادراتو ۲/۵ برخه جوړوي، په تیرو دوو مالي کلونو (۱۳۹۴ او ۱۳۹۵) کې یې اقتصادي رکود تجربه کړی دی.

د نفتي موادو ډېرې ستر صادرونکي هېوادونو لکه؛ آذربایجان، انګولا، قزاقستان او نایجیریا چې خپل د مبادلې نرخ یې په شدیده توګه تر کنټرول لاندې نیولی ؤ، په ۱۳۹۴ او ۱۳۹۵ مالي کلونو کې په خپلو زېرمو کې د پام وړ کموالي وروسته په دې هېوادونو کې د مبادلې د نرخ زیاتیدو ته اجازه ورکوي. په آذربایجان، انګولا، نایجیریا، موزمبیک او منګولیا کې له معتدله اقتصادي کړنو سره سره، دا هېوادونه د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه نیمایي کې د ادائینو د بیلانس د فشارونو، د خپلو داخلي پیسو د ارزښت د کموالي او د لوړ انفلاسیوني نرخ په پایله کې د پالیسیو په دوامداره ټینګښت ملکف دي.

د راغوړیدلو بازارونو او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو د توکو د واردونکو هېوادونو اقتصادي وده د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې ۵.۶ سلنه اټکل شوې ده. له چین پرته د دې هېوادونو اقتصادي وده چې د هغو هېوادونو له ډلې څخه دی چې د راغوړیدلو او د پرمختګ په حال کې هېوادونو ۱.۳ برخه محصولات تولیدوي، د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې ۴.۳ سلنه کمه اټکل شوې ده. د دې هېوادونو د اقتصادي ودې د کمېدو اصلي لامل د هند د پراختیایي بهیر کمزوره کیدل ګڼل کیږي. د راغوړیدلو او د پرمختګ په حال کې هېوادونو د توکو واردونکو هېوادونه چې د پخوانۍ سوداګرۍ د شرایطو له پرمختګونو او د لوی اقتصاد له سالمو پالیسیو څخه ګټه پورته کوي، د انفلاسیون د ټیټ نرخ او د انرژۍ له ټیټ لګښت څخه په ګټې اخیستنې سره کرواسیا، تایلنډ، تانزانیا او فلیپین توانیدلي دي چې د لوی اقتصاد انقباظي پالیسی دوامداره وساتي. په همدې ترتیب، تایلنډ د خلکو د اعتماد له ښه والي، فلیپین په لوړه کچه د عامه پانګونې د پروژو له تطبیقه او بنګله دېش او پاکستان د پولي بهر له سترو بېخبنستیزو پانګونو څخه ګټه پورته کړې ده.

د راغوړیدلو او د پرمختګ په حال کې د توکو په واردونکو هېوادونو کې داخلي تقاضا زیاته شوې ده چې اصلي لامل یې د توکو د بیو کموالی او انقباضي پولي او مالي پالیسی په ګوته شوی دی. د توکو په ډېرو واردونکو هېوادونو په ځانګړې توګه په ختیځې اروپا او سویلي آسیا کې شخصي لګښتونه زیات شوي دي، حال دا چې د پانګونې وده د توکو په ډېرې واردونکو هېوادونو په ځانګړې توګه ختیځې اروپا (کرواسیا، رومانیا، سیربیا)، ختیځه آسیا او آرامه اقیانوس (کمبودیا او فلیپین) او سویلي آسیا ( پاکستان) کې ښه شوې ده. د توکو د ډېرو صادرونکو هېوادونو صادرات په اکثره بازارونو کې د کمې تقاضا له امله راکم شوي دي. حال دا چې د یو شمېر هېوادونو له ډلې د جرمنې سوداګریزو شریکانو د جرمني له ښو کړنو؛ ځینو آسیایي هېوادونو ( کمبودیا او هند) له ښو رقابتونو څخه ګټه پورته کړې ده او ځینو هېوادونو ( کرواسیا، هندوستان، لبنان، فلیپین، سریلانکا او تایلنډ) د زیاتو صادراتو او خدمتونو په پایله کې ګټور شوي دي.

۳.۱ ګراف: د راغوړیدلو بازارونو او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ




سرچینه: نړیوال بانک

### ۱.۲.۱ د چین اقتصاد

د چین اقتصادي وده په ۱۳۹۵ مالي کال کې د معتدله کموالي

په درلودلو سره ۶.۷ سلنه اټکل شوې ده چې د دې ودې اصلي لامل د خدمتونو سکتور ښودل شوی دی، حال دا چې صنعتي تولیداتو متوسطه کچه درلوده. د دې هېواد د داخلي لګښتونو وده زیاته شوې او د پانګونې کچه یې متوسطه ښودل شوې ده. په ۱۳۹۵ مالي کال کې د دې هېواد د پانګونې د وده د کمیدو اصلي لامل په خصوصي سکتور پورې اړه لري حال دا چې د غیر خصوصي سکتور پانګونو په دې کال کې لوړېدونکی بهیر درلوده. همدا ډول د چین اقتصادي وده په ۱۳۹۶ مالي کال کې ۶.۵ سلنې اټکل شوې ده.

### ۳.۱ لږ عاید لرونکي هېوادونه (LICs)

د لږ عاید لرونکو هېوادونو اقتصادي وده په ۱۳۹۵ مالي کال کې د کموالي په درلودلو سره ۴.۷ سلنه اټکل شوې ده چې د دې هېوادونو د اقتصادي ودې د کموالي اصلي لاملونه د توکو ټيټه بيه، خرابه هوا او سیاسي او امنیتي ستونزې ګڼل کیږي. د لږ عاید لرونکو هېوادونو په منځ کې د توکو د واردونکو هېوادونو اقتصادي وده راکمه شوې ده، حال دا چې د لږ عاید لرونکو هېوادونو د توکو د واردونکو اقتصادي وده د تیر کال په پرتله هیڅ ډول بدلون نه ښکاره کوي. تمه کیږي چې په راتلونکي کال کې د لږ عاید لرونکو هېوادونو ټولیزه اقتصادي وده د زیاتوالي په درلودلو سره ۵.۶ سلنې ته ورسیږي. هغه ننګونې چې د دې هېوادونو د اقتصادي ودې پر وړاندې پرتې دي، خرابه هوا، وچکالي او سیاسي او امنیتي ستونزې ګڼل کیږي.

۴.۱ ګراف: په ۱۳۹۵ مالي کال کې د لږ عاید لرونکو هېوادونو د ودې واقعي نرخ




سرچینه: نړیوال بانک

په لږ عاید لرونکو هېوادونو کې د انفلاسیون اوسط نرخ په ۱۳۹۵ مالي کال کې ثابت پاتې دی، حال دا چې تیر کال د لږ عاید لرونکو هېوادونو د توکو د واردونکو د انفلاسیون نرخ متعدله کموالی درلوده.

په ځینو برخو کې د بیو کچه د اسعارو د متوسطه بدلونونو او د کرنیزو محصولاتو د زیاتیدو له امله ثابته پاتې ده. د لږ عاید لرونکو هېوادونو د فلزونو د واردونکو هېوادونو د انفلاسیون نرخ زیاتوالی موندلی چې اصلي لامل یې د اسعارو د بیو کموالی او د وچکالۍ له امله د خوراکي توکو د بیو زیاتوالی دی. په ورته وخت کې د لږ عاید لرونکو هېوادونو په منځ کې د نفتو د صادرونکو هېوادونو د انفلاسیون نرخ ټیټ پاتې دی چې عمده لامل یې د کورنی تقاضا د کچې کموالی ښودل شوی دی. د لږ عاید لرونکو هېوادونو د بهرني جاری حساب کسر په ۱۳۹۵ مالي کال کې په لویه کچه راکم شوی دی. د بهرني جاري حساب په کسر کې د کموالي اصلي لامل د لږ عاید لرونکو د فلزونو په صادرونکو هېوادونو کې د وارداتو کموالی په ګوته شوی دی. برعکس، دې کسر د لږ عاید لرونکو د نفتو په صادرونکو هېوادونو کې زیاتوالی موندلی دی. کله چې د پانګه یزه توکو لپاره د تقاضا زیاتوالي د نفتي موادو له ټیټو بیو ترلاسه شوې ګټې جبران کړې، نو د لږ عاید لرونکو په واردونکو هېوادونو کې د جاري حساب کسر لږ څه کموالی وموند‌ه. په ورته وخت کې په لږ عاید لرونکو هېوادونو کې د پانګې بهیدنې (جریانونه) هم راکم شو.

د لږ عاید لرونکو هېوادونو د جاري حساب په کسر او پانګه ایزه بهیدنو (جریانونو) کې د کموالي له امله په ۱۳۹۵ مالي کال کې د دې هېوادونو د مبادلې نرخ او نړیواله زېرمې تر فشار لاندې راغلې دي. په ټولیزه توګه، د لږ عاید لرونکو هېوادونو په ډله کې د توکو له صادرونکو هېوادونو پرته د امریکایي ډالرو پر وړاندې د دې هېوادونو د پیسو ارزښت راکم شوی دی، خو بیا هم د تیر کال په پرتله کموالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د مزامبیک او کانګو هېوادونو د پیسو ارزښت د پام

وړ کموالی ښکاره کوي. دا چې د جاري حساب په بیلانس باندې د نفتي موادو د بیو کموالي مثبتې اغیزې پریښودلې دي، د لږ عاید لرونکو هېوادونو د توکو د واردونکو لکه رواندا او یوګاندا هېوادونو د پیسو ارزښت لږ څه کموالی موندلی. د وارداتو او خدمتونو د میاشتو په اوږدو کې د بوروندي، کوموروس او مزامبیک هېوادونو نړیواله زیرمې ۳۰ سلنه راکمې شوي دي.

سرچینه: د نړیوال بانک د ډلې د Flagship راپور(نړیوالې اقتصادي وړاند وینې) د ۲۰۱۷ جنوري

# د پانګې او پولي بازار بدلونونه

# د پانګې او پولي بازار بدلونونه

د پولي سکتور د بېلابېلو شاخصونو په پام کې نیولو سره چې په ۱۳۹۵ مالي کال کې یې ښې کړنې درلودې، دې سکتور لوړېدونکی بهیر غوره کړی دی. پولي زېرمې (RM) د ۱۳۹۴ مالي کال د ۳.۱۶ سلنه ودې په پرتله په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱۰.۹۷ سلنې ته زیاتوالی موندلی دی. په ورته وخت کې، له مرکزي بانک سره د سوداګریزو بانکونو امانتونو چې د پولي زیرمو له یوې برخې څخه ګڼل کیږي، د تیر کال د کچې په پرتله د ارزونې لاندې موده کې ۱.۶۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د پولي زېرمو وده چې د افغانستان بانک عملیاتي موخه جوړوي، د کال د لومړۍ او دویمې ربعې په اوږدو کې له ټاکل شوي هدف څخه ډېر ټیټ قرار لري، خو د کال په دویمه نیمایي کې یې د لنډ مهال لپاره له ټاکل شوي هدف څخه زیاتوالی موندلی دی. په ګردښت کې پیسې(CIC) د افغانستان بانک د ضمني هدف په توګه ۲۲۳،۵۹۹.۴۶ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې دورې په پرتله ۱۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول د افغانستان بانک خالصه نړیواله زېرمې (NIR) د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د ۶.۳ سلنه (۴۰۴.۸۹) میلیونه امریکایي ډالره زیاتوالی ښکاره کوي.

د محدوده مفهوم په توګه پیسې(M1) د ارزونې لاندې کال په پای کې ۴۲۳،۳۰۶ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې ۸.۶۵ سلنه کلنۍ وده یې ثبت کړې ده. د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2) هم ورته بهیر درلودلی دی چې ۹.۷ سلنه وده ښکاره کوي او کچه یې په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۴۵۵،۲۱۷ میلیونه افغانۍ ته رسیږي.

د افغانستان بانک د پولي زېرمو د ودې او کنټرول لپاره د آزاد بازار تر عملیاتو لاندې د اسعارو د لیلام او د پانګه ایزو پاڼو د پلور له پولي ابزارونو څخه کار اخلي.

د افغانستان بانک په ۱۳۹۵ مالي کال کې په ټولیزه توګه ۱،۹۲۶.۲۵ میلیونه امریکایي ډالره لیلام کړي دي څو په بازار کې د سیالیت د مدیریت ترڅنګ د اسعارو په وړاندې د افغانۍ بې ځایه او له حده زیات نوسانات راکم کړي. د پانګه ایزو پاڼو ټولیزه ناترلاسه شوې کچه د ارزونې لاندې مودې په پای کې ۴۳.۶۱۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي.

په ورته وخت کې په ۱۳۹۵ مالي کال کې د ډالرو په وړاندې د افغانۍ ارزښت ۱.۷۸ سلنه زیات شوی دی.

**۱.۲ پولي پروګرام**

پولي زیرمې د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د پولي سیاست د لوی آمریت د یو مهم عملیاتي هدف (د کړنې د معیار) په توګه او په ګردښت کې پیسې د ضمني هدف په توګه پېژندل شوي دي.

د پولي زېرمو (RM) کره مبلغ چې د کورني بیو د ثبات او د افغانستان بانک د لومړنۍ موخو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي، د پیسو د مقداري تیورۍ په کارولو سره ټاکل کیږي. له همدې کبله د پولي زیرمو او په ګردښت کې د پیسو د ودې لپاره کلني هدفونه د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د اقتصادي ودې او انفلاسیون د تمو پر بنسټ ټاکل کیږي.

د ۱۳۹۵ مالي کال لپاره د پولي زېرمو او په ګردښت کې د پیسو کچه د اټکل شوې لوړې اقتصادي ودې او د انفلاسیون د ټیټ نرخ په پام کې نیولو سره ۱۰ سلنه ټاکل شوې ده.

د ۱۳۹۵ مالي کال په پای کې د پولي زېرمو (RM) حقیقي وده ۱۰.۹۷ سلنې او په ګردښت کې د پیسو حقیقي وده ۱۱

سلنې ته زیاته شوې ده چې له ټاکل شوي هدف څخه لږ څه زیاتوالی ښکاره کوي. حال دا چې دا دوه کټګورۍ د ټاکل شوي هدف له مخې په ښه توګه مدیریت شوي دي.

د افغانستان بانک خپلې انقباضي پالیسی ته دوام ورکوي، خو دا پالیسي د تیرو دورو په پرتله په ټیټه کچه کې تر لاس لاندې نیول شوې ده.

۱.۲ او ۲.۲ ګرافونه د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د پولي زیرمو او په ګردښت کې د پیسو حقیقي کچې وړاندې کوي.




ګراف ۱.۲: ۱۳۹۵مالي کال لپاره پولي زېرمې
(د ۲۰۱۵ ډیسمبر ـ د ۲۰۱۶ ډیسمبر)

سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۲.۲ د نقدینه ګۍ حجم**

د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت د نقدینګۍ حجم یعنې د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) او د پراخه مفهوم په توګه پیسې(M2) د پولي او مالي احصائیې (MFS) د میتودولوژۍ او تعریف له لارې محاسبه کوي.

د محدوده مفهوم په توګه پیسې(M1) د امانت ایښودونکو شرکتونو څخه بهر اسعار او جاري امانتونه رانغاړي، حال دا چې د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2) په ترکیب کې د محدوده مفهوم په توګه د پیسو اجزاوې او داسې نورې لږې سیالې شتمنۍ یا پیسه وزمه شاملې دي.

د ۱.۲ جدول ښکاره کوي چې د محدوده مفهوم په توګه پیسو (M1) د ۱۳۹۴ مالي کال د ۱.۲ سلنې ثبت شوې ودې په پرتله په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۸.۶۵ سلنه وده کړې ده چې ۳۳،۷۱۵ میلیونه افغانی توپیر ښکاره کوي. هغه پیسې چې د امانت ایښودونکو شرکتونو څخه بهر دي یا په ګردښت کې پیسې (CIC) د محدوده مفهوم په توګه پیسو (M1) ۴۸ سلنه جوړوي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۴.۱ سلنې په پرتله په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱۰.۲۹ سلنې ته وده موندلې ده. جاري امانتونه کوم چې د محدوده مفهوم په توګه پیسو (M1) بله برخه جوړوي د ۱۳۹۵ مالي کال په پای کې ۷ سلنه وده تجربه کړې ده چې د تیر کال د منفي ۱.۵ سلنې ودې په پرتله د پام وړ زیاتوالی لري. جاري امانتونه د تیر کال په پرتله ۱۳،۵۴۰ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي.

د پراخه مفهوم په توګه د پیسو (M2) عرضه د تیر کال له ۴۱۴،۹۶۵ میلیونه افغانۍ څخه د ارزونې لاندې کال کې ۴۵۵،۲۱۷ میلیونه افغانۍ ته زیاته شوې ده چې ۹.۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د اوسنۍ دورې شمېرې ښکاره کوي چې د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) د پراخه مفهوم په توګه د پیسو تر ټولو ستره برخه (۹۳ سلنه) جوړوي.

پیسه وزمه (Qusi Money) یا د سوداګریزو بانکونو موده ایزه (میعادي) امانتونه چې د پراخه مفهوم په توګه د پیسو (M2) بله برخه جوړوي، د ۱۳۹۵ مالي کال په پای کې ۲۵.۷۶ سلنه (کال په کال) وده کړې ده. د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې پیسه وزمه یوازې د پراخه مفهوم په توګه د پیسو (M2) ۷ سلنه جوړوي؛ که څه هم د ۱۳۹۴ مالي کال له ۶.۱ سلنه څخه لوړ دی، نو له همدې کبله د پراخه مفهوم په توګه پیسو (M2) باندې د هغه بدلونونه اغیزه ډېره کمه ده. په افغانۍ د موده ایزه امانتونو توپیر (کال په کال) ۵۰ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره ۳،۷۹۲ میلیونه افغانۍ ته رسیږي، حال دا چې پر اسعارو د موده ایزه امانتونو ارزښت د ۱۵ سلنه

کموالي په لړلو سره ۲،۷۴۵ میلیونه افغانۍ ته رسیږي. په افغانۍ موده ایزه امانتونه په ترتیب سره د پراخه مفهوم په توګه د پیسو(M2) ۲.۵ سلنه جوړوي، حال دا چې د اسعارو د موده ایزه امانتونو ونډه د پراخه مفهوم په توګه د پیسو (M2) کې ۴.۵ سلنې ته رسیږي.

همدا ډول د جاري امانتونو ونډه د پراخه مفهوم په توګه پیسو (M2) کې د ارزوني لاندي کال په پای کې ۴۵.۵ سلنې ته راښکته شوې ده، په دا سې حال کې چې دا ونډه په تیر کال کې ۴۶.۶ سلنې ته رسیده. (۲.۱ او ۲.۲ ګرافونه)




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۱.۲ جدول: امانت اېښودونکي شرکتونه**

**د ۱۳۹۵ مالي کال تحلیلي بیلانس شیټ او پولي حجم**

| په میلیون افغانی | ۲۰۱۴ – ډیسمبر (مبلغ) | ۲۰۱۵ـ ډیسمبر (مبلغ) | کال په کال د سلنې بدلون | توپیر | ۲۰۱۶ـ ډیسمبر (مبلغ) | کال په کال بدلون | توپیر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **۱ـ خالصه بهرنۍ شتمنۍ** | **۴۹۹،۰۶۱** | **۵۴۴،۷۸۵** | **۹.۲٪** | **۴۵،۷۲۴** | **۵۸۲،۸۶۸** | **۶.۹۹٪** | **۳۸،۰۸۳** |
| (الف) ناخالصه بهرنۍ شتمنۍ | ۵۰۷،۲۸۹ | ۵۵۵،۶۱۰ | **۹.۵٪** | ۴۸،۳۲۱ | ۵۹۴،۰۱۷ | **۶.۹۱٪** | ۳۸،۴۰۷ |
| د افغانستان بانک اسعاري زیرمې | ۵۷،۷۶۲ | ۱۱۰،۹۴۶ | **۹۲.۱٪** | ۵۳،۱۸۴ | ۱۰۰،۳۴۹ | **-۹.۵۵٪** | -۱۰،۵۹۷ |
| سره زر | ۴۸،۹۸۸ | ۵۱،۹۴۸ | **۶.۰٪** | ۲،۹۶۰ | ۵۳،۳۹۱ | **۲.۷۸٪** | ۱،۴۴۲ |
| نور | ۳۰۸،۹۳۳ | ۲۹۱،۸۲۵ | **-۵.۵٪** | -۱۷،۱۰۸ | ۳۳۱،۱۷۱ | **۱۳.۴۸٪** | ۳۹،۳۴۶ |
| نورې بهرنۍ شتمنۍ | ۹۱،۶۰۵ | ۱۰۰،۸۹۰ | **۱۰.۱٪** | ۹،۲۸۵ | ۱۰۹،۱۰۶ | **۸.۱۴٪** | ۸،۲۱۶ |
| (ب) بهرنۍ پورواینې | ۸،۲۲۸ | ۱۰،۸۲۵ | **۳۱.۶٪** | ۲،۵۹۷ | ۱۱،۱۴۸ | **۲.۹۹٪** | ۳۲۳ |
| **۲. خالصه کورنۍ شتمنۍ** | **-۹۴،۵۳۶** | **-۱۲۷،۴۴۲** | **۳۴.۸٪** | **-۳۲،۹۰۶** | **-۱۲۵،۱۶۲** | **-۱.۷۹٪** | **۲،۲۸۰** |
| (الف) خالصه کورنۍ کریډټ | -۹،۴۰۹ | -۷،۱۰۳ | **-۲۴.۵٪** | ۲،۳۰۶ | -۱۸،۱۰۷ | **۱۵۴.۹۱٪** | -۱۱،۰۰۴ |
| د غیر مالي عامه سکتور لپاره خالص کریډټ | -۵۴،۳۲۰ | -۵۴،۳۸۷ | **۰.۱٪** | -۶۷ | -۶۳،۸۵۰ | **۱۷.۴۰٪** | -۹،۴۶۳ |
| د مرکزي حکومت لپاره خالص کریډټ | -۵۴،۲۰۴ | -۵۴،۴۸۲ | **۰.۵٪** | -۲۷۸ | -۶۳،۹۴۵ | **۱۷.۳۷٪** | -۹،۴۶۳ |
| د مرکزي حکومت لپاره کریډټ | ۲۷،۷۵۴ | ۲۸،۳۱۶ | **۲.۰٪** | ۵۶۲ | ۲۳،۰۲۱ | **-۱۸.۷۰٪** | -۵،۲۹۵ |
| د مرکزي حکومت لپاره پورواینې | ۸۱،۹۵۸ | ۸۲،۷۹۸ | **۱.۰٪** | ۸۴۰ | ۸۶،۹۶۵ | **۵.۰۳٪** | ۴،۱۶۸ |
| د مرکزي او سیمه ایز حکومت لپاره خالص کریډټ | ۰،۰۰۰ | ۰،۰۰۰ | **۰.۰٪** | ۰ | ۰،۰۰۰ | ۰،۰۰۰ | ۰ |
| د عامه غیر مالي شرکتونو لپاره خالصه کریډټ | -۱۱۶ | ۹۵ | **-۱۸۱.۷٪** | ۲۱۱ | ۹۴ | **-۰.۴۸٪** | ۰ |
| د خصوصي سکتور لپاره کریډټ | ۴۶،۳۹۴ | ۴۸،۸۷۲ | **۵.۳٪** | ۲،۴۷۷ | ۴۷،۱۱۱.۸۳ | **-۳.۶۰٪** | -۱،۷۶۰ |
| د نورو مالي شرکتونو لپاره خالصه کریډټ | -۱،۴۸۴ | -۱،۵۸۸ | **۷.۰٪** | -۱۰۴ | -۱،۳۶۸.۷۱ | **-۱۳.۸۰٪** | ۲۱۹ |
| (ب) د پانګې حسابونه | ۱۰۳،۸۸۹ | ۱۴۱،۲۱۴ | **۳۵.۹٪** | ۳۷،۳۲۵ | ۱۲۷،۳۳۶ | **-۹.۸۳٪** | -۱۳،۸۷۸ |
| (ت) نور خالص اقلام | ۱۸،۷۶۳ | ۲۰،۸۷۶ | **۱۱.۳٪** | ۲،۱۱۳ | ۲۰،۲۸۲ | **-۲.۸۴٪** | -۵۹۴ |
| **۳. د پراخه مفهوم په توګه پیسې** | **۴۰۲،۴۸۳** | **۴۱۴،۹۶۵** | **۳.۱٪** | **۱۲،۴۸۲** | **۴۵۵،۲۱۷** | **۹.۷۰٪** | **۴۰،۲۵۲** |
| د محدوده مفهوم په توګه پیسې | **۳۸۴،۷۹۵** | **۳۸۹،۵۹۱** | **۱.۲٪** | **۴،۷۹۶** | **۴۲۳،۳۰۶** | **۸.۶۵٪** | **۳۳،۷۱۵** |
| په ګردښت کې پیسې (CIC) (هغه پیسې چې د امانتونه اېښودونکو شرکتونو څخه بهر دي) | ۱۸۸،۴۵۱ | ۱۹۶،۱۳۴ | **۴.۱٪** | ۷،۶۸۳ | ۲۱۶،۳۰۸ | **۱۰.۲۹٪** | ۲۰،۱۷۵ |
| جاري امانتونه | ۱۹۶،۳۴۴ | ۱۹۳،۴۵۸ | **-۱.۵٪** | -۲،۸۸۷ | ۲۰۶،۹۹۸ | **۷.۰۰٪** | ۱۳،۵۴۰ |
| نور امانتونه (پیسه وزمه) | ۱۷،۶۸۸ | ۲۵،۳۷۴ | **۴۳.۵٪** | ۷،۶۸۶ | ۳۱،۹۱۱ | **۲۵.۷۶٪** | ۶،۵۳۷ |
| په افغانۍ امانتونه | ۵،۱۳۵ | ۷،۶۳۱ | **۴۸.۶٪** | ۲،۴۹۶ | ۱۱،۴۲۳ | **۴۹.۶۸٪** | ۳،۷۹۲ |
| په بهرنیو اسعارو امانتونه | ۱۲،۵۵۳ | ۱۷،۷۴۳ | **۴۱.۳٪** | ۵،۱۹۰ | ۲۰،۴۸۸ | **۱۵.۴۷٪** | ۲،۷۴۵ |
| غیر نغدي پورواینې | **۲،۰۴۲** | **۲،۳۷۸** | **۱۶.۴٪** | ۳۳۶ | **۲،۴۹۰** | **۴.۷۱٪** | ۱۱۲ |

سرچینه: د افغانستان بانک د پولي سیاست د لوی آمریت، پولي سروې

### ۱.۲.۲ خالصه نړیواله زیرمې

د افغانستان بانک په نړیوالو زیرمو کې سره زر، د پیسو نړیوال صندوق سره د پور زیرمه او ونډه، د برداشت ځانګړی حق (SDR) او همدا ډول مهم اسعار لکه امریکایي ډالر، یورو، انګلیسي پاونډ او داسې نور شامل دي. د افغانستان نړیواله زیرمې چې په امریکایي ډالرو څرګندیږي، د شتمنی هغه زېرمې دي چې د پوراینې زېرمې ترې منفي شوي دي.

خالصه نړیواله زېرمې (NIR) په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۴۰۴.۸۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۳۹۴ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۶.۳۱ سلنه زیاتوالی ښیي.

د ۱۳۹۵ مالي کال په پای کې د خالصه نړیواله زیرمو کچه ۲۸۳.۹۱ میلیونه امریکایي ډالره ټاکل شوی ؤ، خو حقیقي کچه یې په دې موده کې ۶،۸۲۴.۶۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي، حال دا چې دا شمېره د همدې کال په پیل کې ۶،۴۱۹.۸۰ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوې وه.

۴.۲ ګراف د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې حقیقي خالصه نړیواله زېرمې او د هغه د هدف بهیر ښکاره کوي.



۴.۲ ګراف: د۱۳۹۵ مالي کال خالصه نړیواله زېرمې؛ حقیقي او ټاکل شوی هدف ( په میلیون امریکایي ډالر) ( د ۲۰۱۵ ډیسمر ـ ۲۰۱۶ ډیسمبر)

سرچینه: پولي سروې، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

### ۳.۲ د اسعارو د مبادلې بازار

#### ۱.۳.۲ د اسعارو د مبادلې نرخونه

د افغانستان بانک لومړنی موخه د بیو د ټیکاو ساتل دي، خو د افغانستان بانک د خپل لومړني هدف ترڅنګ د اسعارو د مبادلې په بازارونو کې د اسعارو د مبادلې نوسانونو ته هم متوجې وي. همدا ډول د افغانستان بانک د دې لپاره چې دا هدف ترلاسه او وساتي د پالیسی د سالمه تطبیق ترڅنګ له خپل پولي ابزارونو څخه په ګټوره توګه کار اخلي.

د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړی نیمایي کې د افغانی ارزښت د امریکایي ډالرو او د داسې نورو اسعارو پر وړاندې ثابت پاتې شوی دی، حال دا چې د همدې کال په دویمه نیمایي کې یې د پام وړ زیاتوالی موندلی دی. د افغانی د ارزښت د زیاتیدو تر ټولو ستر لاملونه د هېواد په سویل او سویل ختیځ سیمه ایزه زونونو کې د افغانی د دودولو پر وړاندې مبارزه او د پاکستان او ایران له هېوادونو څخه د افغان کډوالو راستنیدل په ګوته شوي دي.

د افغانی ارزښت د امریکایي ډالرو په وړاندې ۱.۹۷۸ سلنه زیات شوی دی چې د ارزونې لاندې کال په پای کې یو ډالر په ۶۶.۷۰ افغانی مبادله کیده. په ورته وخت کې د افغانی ارزښت د هندي روپۍ په وړاندې ۴.۷۵ سلنه راکم شوی دی، خو د پاکستانی روپۍ پر وړاندې ۳.۱۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول افغانی د یورو، بریتانیایي پاونډ او ایراني ریال په وړاندې په ترتیب سره ۴.۸۱ سلنه، ۱۷.۷۴سلنه او ۸.۶ سلنه زیاتوالی ثبت کړی دی.

د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانی د مبادلې ورځنی اوسط نرخ په لاندې ګراف کې وړاندې کیږي.

## ۲.۳.۲ د اسعارو لیلام

د پیسو د عرضې د کنټرولولو په موخه د افغانستان بانک په اونۍ کې درې ځلې د اسعارو لیلام او په اونۍ کې یو ځلې د پانګه ایزو پانو لیلام ترسره کوي چې د افغانستان بانک ورڅخه د عمده پولي ابزارونو په توګه کار اخلي. د افغانستان بانک په دوامداره توګه د اسعارو لیلام ترسره کوي څو له بازار څخه اضافه نقدینه ګی لرې کړي او د بهرنیو اسعارو په ځانګړې توګه د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلوي نرخ د زیاتو نوساناتو مخه ونیسي.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۱.۹۲۶ میلیارده امریکایي ډالره لیلام کړي دي؛ دا په داسې حال کې ده چې په همدې موده کې ټولیزه تقاضا ۲.۶۶۹ میلیارده امریکایي ډالره وه. په اوسط ډوله په هر لیلام کې ۴۸ داوطلبانو ګډون کړی دی او له دې ډلې ۳۴ داوطلبان ګټوونکي اعلان شوي دي چې په هر داوطلب باندې په اوسط ډول ۱۳.۲۸۵ میلیونه امریکایي ډالره پلورل شوي دي. د یادونې وړ ده چې په ۱۳۹۴ مالي کال کې په ټولیزه توګه ۲.۷۹۳ میلیارده امریکایي ډالره لیلام شوي دي، حال دا چې په هغه موده کې ټولیزه تقاضا ۳.۹۲۴ میلیارده ډالره وه چې په اوسط ډول په هر لیلام کې ۳۸ داوطلبانو ګډون کړی ؤ چې له دې ډلې ۳۲ تنه ګټونکي اعلان شوي چې په اوسط ډول په هر یو باندې ۲۷.۷ میلیونه امریکایي ډالره پلورل شوي ؤ.

۵.۲ ګراف: د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ـ ۱۳۹۵ مالي کال (د ۲۰۱۵ له ډیسمبر څخه د ۲۰۱۶ کال ډیسمبر پورې)




۶.۲ ګراف: د بریتانیایي پاونډ او یورو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ـ ۱۳۹۵ مالي کال (د ۲۰۱۵ له ډیسمبر څخه د ۲۰۱۶ کال ډیسمبر)




۷.۲ ګراف: د هندي روپۍ او پاکستانی روپۍ په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ـ ۱۳۹۵ مالي کال (د ۲۰۱۵ له ډیسمبر څخه د ۲۰۱۶ کال ډیسمبر پورې)




۸.۲ ګراف: د ایراني ریال په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ـ ۱۳۹۵ مالي کال (د ۲۰۱۵ له ډیسمبر څخه د ۲۰۱۶ کال ډیسمبر پورې)




سرچینه: پولي سروې، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۲.۲ جدول: د ۱۳۹۵ مالي کال لپاره د اسعارو د لیلام لنډیز (په میلیون امریکایي ډالره)**

| د لیلام نیټه | د داوطلبانو شمیر | تر ټولو لوړه بیه | تر ټولو ټیټه بیه | د بازار د مبادلې نرخ | کسر شوې بیه | اعلان شوی مبلغ | ورکړل شوی مبلغ | ټولیزه تقاضا |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۲-دسمبر-۱۵ | ۵۵ | ۶۸.۰۶ | ۶۷.۴۰ | ۶۸.۰۵ | ۶۸.۰۰ | ۲۵.۰۰ | ۲۵.۱۰ | ۴۴ |
| ۲۶-دسمبر-۱۵ | ۵۱ | ۶۸.۱۵۵ | ۶۷.۹۱ | ۶۸.۱۲ | ۶۸.۰۹ | ۱۵.۰۰ | ۱۵.۴۰ | ۴۲ |
| ۲۸- دسمبر-۱۵ | ۵۶ | ۶۸.۸۷ | ۶۸.۳۰ | ۶۸.۸۶ | ۶۸.۸۱ | ۱۵.۰۰ | ۲۰.۱۸ | ۴۹ |
| ۳۰-دسمبر-۱۵ | ۵۴ | ۶۸.۴۸ | ۶۸.۱۰ | ۶۸.۴۵ | ۶۸.۴۳ | ۱۸.۰۰ | ۱۸.۰۲ | ۴۰ |
| ۲-جنوری-۱۶ | ۴۳ | ۶۸.۳۵ | ۶۸.۰۰ | ۶۸.۳۴ | ۶۸.۲۲ | ۱۸.۰۰ | ۱۷.۷۳ | ۴۸ |
| ۴-جنوری-۱۶ | ۵۱ | ۶۸.۶۹ | ۶۸.۲۰ | ۶۸.۶۴ | ۶۸.۵۸ | ۱۶.۰۰ | ۱۶.۳۹ | ۴۷ |
| ۶-جنوری-۱۶ | ۵۰ | ۶۸.۴۶ | ۶۸.۳۰ | ۶۸.۴۹ | ۶۸.۴۳ | ۱۵.۰۰ | ۱۵.۲۵ | ۴۰ |
| ۹-جنوری-۱۶ | ۵۶ | ۶۸.۷۳ | ۶۸.۵۰ | ۶۸.۶۹ | ۶۸.۷۰ | ۱۳.۰۰ | ۱۴.۰۲ | ۴۰ |
| ۱۱-جنوری-۱۶ | ۵۵ | ۶۸.۷۶ | ۶۸.۳۲ | ۶۸.۷۴ | ۶۸.۷۲ | ۱۵.۰۰ | ۱۵.۳۰ | ۴۲ |
| ۱۳-جنوری-۱۶ | ۵۱ | ۶۸.۴۷ | ۶۷.۴۱ | ۶۸.۴۵ | ۶۸.۴۳ | ۱۵.۰۰ | ۱۴.۵۷ | ۳۷ |
| ۱۶=جنوری-۱۶ | ۵۲ | ۶۸.۶۴ | ۶۸.۵۵ | ۶۸.۶۲ | ۶۸.۶۱ | ۱۵.۰۰ | ۱۴.۳۵ | ۳۷ |
| ۱۸-جنوری-۱۶ | ۴۹ | ۶۸.۵۲ | ۶۸.۲۱ | ۶۸.۵۲ | ۶۸.۴۸ | ۱۵.۰۰ | ۱۴.۸۰ | ۳۶ |
| ۲۰-جنوری-۱۶ | ۵۳ | ۶۸.۶۰ | ۶۸.۵۲ | ۶۸.۵۹ | ۶۸.۵۸ | ۱۵.۰۰ | ۱۴.۸۵ | ۳۴ |
| ۲۳-جنوری-۱۶ | ۴۸ | ۶۸.۶۲ | ۶۸.۰۱ | ۶۸.۵۸ | ۶۸.۵۸ | ۱۵.۰۰ | ۱۴.۷۰ | ۳۴ |
| ۲۵-جنوری-۱۶ | ۴۰ | ۶۸.۵۷ | ۶۸.۴۴ | ۶۸.۵۸ | ۶۸.۵۴ | ۱۵.۰۰ | ۹.۹۰ | ۲۵ |
| ۲۷-جنوری-۱۶ | ۴۱ | ۶۸.۶۹ | ۶۸.۶۰ | ۶۸.۶۸ | ۶۸.۶۶ | ۱۲.۰۰ | ۹.۲۷ | ۲۸ |
| ۳۰-جنوری-۱۶ | ۴۱ | ۶۸.۶۷ | ۶۸.۵۸ | ۶۸.۶۷ | ۶۸.۶۳ | ۱۲.۰۰ | ۱۱.۹۵ | ۳۷ |
| ۱-فبروري-۱۶ | ۳۹ | ۶۸.۶۵ | ۶۸.۴۰ | ۶۸.۶۶ | ۶۸.۶۳ | ۱۲.۰۰ | ۹.۳۷ | ۲۷ |
| ۳-فبروري-۱۶ | ۴۰ | ۶۸.۶۵ | ۶۸.۵۸ | ۶۸.۶۵ | ۶۸.۶۲ | ۱۲.۰۰ | ۹.۵۸ | ۲۷ |
| ۶-فبروري-۱۶ | ۵ | ۶۸.۷۵ | ۶۸.۷۰ | ۶۸.۸۵ | ۶۸.۷۰ | ۱۲.۰۰ | ۱.۸۰ | ۵ |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸–فبروری–۱۶ | ۵۳ | ۶۸.۹۲ | ۶۸.۷۶ | ۶۸.۸۸ | ۶۸.۸۶ | ۱۰.۰۰ | ۱۰.۷۰ | ۳۷ |
| ۱۰ فبروری–۱۶ | ۴۲ | ۶۸.۸۸ | ۶۸.۶۷ | ۶۸.۸۸ | ۶۸.۸۷ | ۱۲.۰۰ | ۱۰.۲۰ | ۲۹ |
| ۱۳–فبروری–۱۶ | ۴۷ | ۶۸.۹۰ | ۶۸.۸۵ | ۶۸.۸۹ | ۶۸.۸۸ | ۱۲.۰۰ | ۱۲.۲۱ | ۳۵ |
| ۱۷–فبروری–۱۶ | ۴۱ | ۶۹.۳۸ | ۶۹.۱۰ | ۶۹.۳۶ | ۶۹.۱۰ | ۱۲.۰۰ | ۱۳.۱۶ | ۴۰ |
| ۲۰–فبروری–۱۶ | ۵۱ | ۶۹.۵۰ | ۶۸.۳۹ | ۶۹.۵۳ | ۶۹.۱۶ | ۱۲.۰۰ | ۱۶.۵۹ | ۴۷ |
| ۲۲–فبروری–۱۶ | ۴۹ | ۶۹.۱۹ | ۶۸.۷۰ | ۶۹.۱۴ | ۶۹.۰۰ | ۱۴.۰۰ | ۱۴.۱۸ | ۳۵ |
| ۲۴–فبروری–۱۶ | ۵۲ | ۶۸.۱۱ | ۶۷.۴۰ | ۶۸.۲۵ | ۶۸.۰۱ | ۱۴.۰۰ | ۱۳.۷۶ | ۳۵ |
| ۲۷–فبروری–۱۶ | ۴۶ | ۶۸.۵۳ | ۶۸.۳۱ | ۶۸.۵۳ | ۶۸.۴۸ | ۱۴.۰۰ | ۱۳.۵۵ | ۳۳ |
| ۲۹–فبروری–۱۶ | ۵۳ | ۶۸.۶۴ | ۶۸.۵۷ | ۶۸.۶۳ | ۶۸.۶۱ | ۱۴.۰۰ | ۱۲.۶۰ | ۳۰ |
| ۲–مارچ–۱۶ | ۴۹ | ۶۸.۷۱ | ۶۸.۵۱ | ۶۸.۷۰ | ۶۸.۶۷ | ۱۴.۰۰ | ۱۳.۹۳ | ۳۴ |
| ۵–مارچ–۱۶ | ۴۳ | ۶۸.۵۸ | ۶۸.۴۸ | ۶۸.۵۹ | ۶۸.۵۳ | ۱۴.۰۰ | ۱۲.۳۲ | ۳۲ |
| ۷–مارچ–۱۶ | ۴۷ | ۶۸.۶۱ | ۶۸.۵۵ | ۶۸.۶۱ | ۶۸.۵۸ | ۱۲.۰۰ | ۱۱.۴۱ | ۳۲ |
| ۹–مارچ–۱۶ | ۴۶ | ۶۸.۲۲ | ۶۸.۰۴ | ۶۸.۲۵ | ۶۸.۱۷ | ۱۲.۰۰ | ۱۰.۰۱ | ۲۸ |
| ۱۲–مارچ–۱۶ | ۴۹ | ۶۸.۴۳ | ۶۸.۳۷ | ۶۸.۳۸ | ۶۸.۴۰ | ۱۰.۰۰ | ۱۰.۱۵ | ۳۴ |
| ۱۴–مارچ–۱۶ | ۴۸ | ۶۸.۴۵ | ۶۸.۳۷ | ۶۸.۴۵ | ۶۸.۴۱ | ۱۲.۰۰ | ۱۱.۰۸ | ۳۲ |
| ۱۶–مارچ–۱۶ | ۴۳ | ۶۸.۴۲ | ۶۸.۲۵ | ۶۸.۳۸ | ۶۸.۳۷ | ۱۲.۰۰ | ۱۰.۸۶ | ۴۳ |
| ۲۳–مارچ–۱۶ | ۲۱ | ۶۸.۲۹ | ۶۸.۰۲ | ۶۸.۳۶ | ۶۸.۱۵ | ۲۰.۰۰ | ۸.۹۵ | ۲۰ |
| ۲۶–مارچ–۱۶ | ۴۴ | ۶۸.۶۸ | ۶۸.۳۶ | ۶۸.۶۳ | ۶۸.۶۱ | ۱۲.۰۰ | ۱۱.۸۲ | ۳۳ |
| ۲۸–مارچ–۱۶ | ۴۷ | ۶۸.۶۹ | ۶۸.۵۵ | ۶۸.۶۱ | ۶۸.۵۹ | ۱۵.۰۰ | ۱۴.۵۰ | ۳۳ |
| ۳۰–مارچ–۱۶ | ۵۱ | ۶۸.۶۷ | ۶۸.۵۱ | ۶۸.۶۴ | ۶۸.۶۴ | ۱۴.۰۰ | ۱۴.۰۹ | ۳۵ |
| ۲–اپریل–۱۶ | ۴۵ | ۶۸.۶۴ | ۶۸.۴۰ | ۶۸.۶۴ | ۶۸.۵۵ | ۱۴.۰۰ | ۱۱.۳۳ | ۳۳ |
| ۴–اپریل–۱۶ | ۵۰ | ۶۸.۷۲ | ۶۸.۵۰ | ۶۸.۵۹ | ۶۸.۵۶ | ۱۳.۰۰ | ۱۲.۳۰ | ۳۳ |
| ۶–اپریل–۱۶ | ۴۹ | ۶۸.۷۵ | ۶۸.۵۱ | ۶۸.۵۶ | ۶۸.۵۴ | ۱۳.۰۰ | ۱۲.۳۳ | ۳۳ |
| ۹–اپریل–۱۶ | ۴۸ | ۶۸.۳۴ | ۶۸.۱۸ | ۶۸.۳۴ | ۶۸.۲۸ | ۱۳.۰۰ | ۱۱.۷۲ | ۳۲ |
| ۱۱–اپریل–۱۶ | ۵۳ | ۶۸.۴۲ | ۶۸.۳۱ | ۶۸.۴۳ | ۶۸.۳۹ | ۱۳.۰۰ | ۱۲.۳۸ | ۳۳ |
| ۱۳–اپریل–۱۶ | ۴۷ | ۶۸.۲۳ | ۶۸.۱۰ | ۶۸.۲۵ | ۶۸.۲۲ | ۱۳.۰۰ | ۱۰.۲۸ | ۲۷ |
| ۱۶–اپریل–۱۶ | ۵۲ | ۶۸.۳۷ | ۶۸.۳۰ | ۶۸.۳۵ | ۶۸.۳۵ | ۱۳.۰۰ | ۱۲.۶۴ | ۳۳ |
| ۱۸–اپریل–۱۶ | ۵۷ | ۶۸.۴۰ | ۶۸.۳۵ | ۶۸.۳۹ | ۶۸.۳۸ | ۱۳.۰۰ | ۱۲.۰۸ | ۳۳ |
| ۲۰–اپریل–۱۶ | ۵۳ | ۶۸.۴۷ | ۶۸.۲۵ | ۶۸.۳۴ | ۶۸.۳۲ | ۱۳.۰۰ | ۱۱.۴۳ | ۳۱ |
| ۲۳–اپریل–۱۶ | ۵۱ | ۶۸.۴۷ | ۶۸.۳۵ | ۶۸.۴۲ | ۶۸.۴۰ | ۱۳.۰۰ | ۱۱.۶۳ | ۳۱ |
| ۲۵–اپریل–۱۶ | ۵۰ | ۶۸.۴۱ | ۶۸.۳۳ | ۶۸.۴۱ | ۶۸.۳۹ | ۱۳.۰۰ | ۱۳.۶۵ | ۳۸ |
| ۳۰–اپریل–۱۶ | ۴۴ | ۶۸.۳۷ | ۶۸.۲۱ | ۶۸.۳۷ | ۶۸.۳۶ | ۱۳.۰۰ | ۱۰.۵۶ | ۳۰ |
| ۲–می–۱۶ | ۴۳ | ۶۸.۳۲ | ۶۸.۲۵ | ۶۸.۳۱ | ۶۸.۳۱ | ۱۲.۰۰ | ۱۰.۰۸ | ۲۸ |
| ۴–می–۱۶ | ۴۷ | ۶۸.۴۸ | ۵۸.۴۶ | ۶۸.۴۷ | ۶۸.۴۶ | ۱۲.۰۰ | ۱۰.۴۳ | ۳۰ |
| ۷–می–۱۶ | ۵۲ | ۶۸.۵۷ | ۶۸.۴۲ | ۶۸.۵۴ | ۶۸.۵۵ | ۱۲.۰۰ | ۱۲.۱۹ | ۳۵ |
| ۹–می–۱۶ | ۵۰ | ۶۸.۴۶ | ۶۸.۳۷ | ۶۸.۴۳ | ۶۸.۴۴ | ۱۲.۰۰ | ۱۰.۰۵ | ۲۹ |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۱-می-۱۶ | ۴۴ | ۶۸.۶۰ | ۶۸.۴۵ | ۶۸.۵۹ | ۶۸.۵۷ | ۱۲.۰۰ | ۱۰.۰۴ | ۲۹ |
| ۱۴-می-۱۶ | ۵۱ | ۶۸.۶۱ | ۶۸.۴۵ | ۶۸.۶۱ | ۶۸.۵۹ | ۱۲.۰۰ | ۱۱.۰۹ | ۳۲ |
| ۱۸-می-۱۶ | ۵۲ | ۶۸.۷۳ | ۶۸.۶۳ | ۶۸.۷۲ | ۶۸.۷۱ | ۱۴.۰۰ | ۱۳.۹۸ | ۳۵ |
| ۲۱-می-۱۶ | ۵۲ | ۶۸.۷۲ | ۶۸.۶۵ | ۶۸.۷۱ | ۶۸.۷۱ | ۱۴.۰۰ | ۱۳.۸۱ | ۳۴ |
| ۲۳-می-۱۶ | ۵۳ | ۶۸.۹۶ | ۶۸.۵۷ | ۶۸.۸۶ | ۶۸.۸۵ | ۱۵.۰۰ | ۱۴.۸۰ | ۳۵ |
| ۲۵-می-۱۶ | ۵۱ | ۶۸.۸۷ | ۶۸.۸۰ | ۶۸.۸۶ | ۶۸.۸۵ | ۱۵.۰۰ | ۱۴.۰۰ | ۳۵ |
| ۲۸-می-۱۶ | ۴۵ | ۶۸.۹۱ | ۶۸.۸۲ | ۶۸.۹۰ | ۶۸.۸۹ | ۱۵.۰۰ | ۱۳.۳۵ | ۳۲ |
| ۳۰-می-۱۶ | ۴۷ | ۶۸.۹۳ | ۶۸.۸۲ | ۶۸.۹۱ | ۶۸.۹۱ | ۱۲.۰۰ | ۱۰.۶۲ | ۳۱ |
| ۱-جون-۱۶ | ۴۴ | ۶۹.۱۳ | ۶۸.۰۹ | ۶۹.۱۰ | ۶۹.۰۵ | ۱۲.۰۰ | ۱۲.۷۰ | ۳۷ |
| ۴-جون-۱۶ | ۵۲ | ۶۹.۰۸ | ۶۸.۰۵ | ۶۹.۰۷ | ۶۹.۰۶ | ۱۵.۰۰ | ۱۵.۰۰ | ۳۵ |
| ۸-جون-۱۶ | ۵۰ | ۶۹.۲۹ | ۶۹.۱۰ | ۶۹.۲۸ | ۶۹.۲۵ | ۱۵.۰۰ | ۱۵.۳۷ | ۳۹ |
| ۱۱-جون-۱۶ | ۴۷ | ۶۹.۲۷ | ۶۸.۲۳ | ۶۹.۲۸ | ۶۹.۲۵ | ۱۶.۰۰ | ۱۵.۳۹ | ۳۸ |
| ۱۳-جون-۱۶ | ۵۲ | ۶۹.۳۳ | ۶۹.۲۸ | ۶۹.۳۲ | ۶۹.۳۱ | ۱۶.۰۰ | ۱۶.۰۹ | ۳۶ |
| ۱۵-جون-۱۶ | ۵۳ | ۶۹.۴۶ | ۶۹.۳۹ | ۶۹.۴۶ | ۶۹.۴۴ | ۱۸.۰۰ | ۱۸.۸۹ | ۳۸ |
| ۱۸-جون-۱۶ | ۴۸ | ۶۹.۳۸ | ۶۹.۲۵ | ۶۹.۳۴ | ۶۹.۳۱ | ۱۸.۰۰ | ۱۷.۶۹ | ۳۸ |
| ۲۰-جون-۱۶ | ۵۱ | ۶۹.۱۹ | ۶۹.۱۰ | ۶۹.۱۹ | ۶۹.۱۷ | ۱۸.۰۰ | ۱۶.۹۴ | ۳۵ |
| ۲۲-جون-۱۶ | ۴۹ | ۶۸.۸۷ | ۶۸.۲۵ | ۶۸.۸۵ | ۶۸.۸۴ | ۱۷.۰۰ | ۱۴.۶۵ | ۳۱ |
| ۲۵-جون-۱۶ | ۴۳ | ۶۸.۹۱ | ۶۸.۷۵ | ۶۸.۸۹ | ۶۸.۸۸ | ۱۶.۰۰ | ۱۴.۳۲ | ۳۶ |
| ۲۷-جون-۱۶ | ۴۵ | ۶۸.۷۳ | ۶۸.۵۸ | ۶۸.۷۱ | ۶۸.۶۹ | ۱۶.۰۰ | ۱۴.۱۸ | ۳۵ |
| ۲۹-جون-۱۶ | ۴۵ | ۶۸.۳۶ | ۶۸.۱۸ | ۶۸.۳۱ | ۶۸.۲۹ | ۱۵.۰۰ | ۱۲.۱۳ | ۳۱ |
| ۲-جولای-۱۶ | ۴۴ | ۶۸.۵۰ | ۶۸.۴۰ | ۶۸.۴۶ | ۶۸.۴۴ | ۱۴.۰۰ | ۱۱.۸۵ | ۳۰ |
| ۴-جولای-۱۶ | ۴۷ | ۶۸.۶۸ | ۶۸.۳۵ | ۶۸.۶۵ | ۶۸.۶۶ | ۱۴.۰۰ | ۱۳.۰۱ | ۳۳ |
| ۹-جولای-۱۶ | ۳۷ | ۶۸.۷۰ | ۶۸.۲۵ | ۶۸.۶۶ | ۶۸.۵۰ | ۱۴.۰۰ | ۹.۷۷ | ۲۷ |
| ۱۱-جولای-۱۶ | ۳۵ | ۶۸.۶۲ | ۶۸.۵۰ | ۶۸.۶۲ | ۶۸.۵۸ | ۱۵.۰۰ | ۱۱.۶۰ | ۲۷ |
| ۱۳-جولای-۱۶ | ۵۵ | ۶۸.۶۵ | ۶۸.۵۹ | ۶۸.۶۲ | ۶۸.۶۱ | ۱۵.۰۰ | ۱۳.۰۰ | ۳۱ |
| ۱۶-جولای-۱۶ | ۵۲ | ۶۸.۸۹ | ۶۸.۶۷ | ۶۸.۸۶ | ۶۸.۸۶ | ۱۵.۰۰ | ۱۳.۷۰ | ۳۳ |
| ۱۸-جولای-۱۶ | ۵۱ | ۶۸.۸۳ | ۶۸.۶۲ | ۶۸.۸۲ | ۶۸.۸۱ | ۱۵.۰۰ | ۱۲.۲۰ | ۳۰ |
| ۲۰-جولای-۱۶ | ۴۹ | ۶۸.۹۲ | ۶۸.۸۵ | ۶۸.۹۰ | ۶۸.۹۱ | ۱۵.۰۰ | ۱۴.۰۰ | ۳۵ |
| ۲۵-جولای-۱۶ | ۵۳ | ۶۹.۰۷ | ۶۸.۸۰ | ۶۹.۰۲ | ۶۸.۹۹ | ۱۸.۰۰ | ۱۶.۱۲ | ۳۶ |
| ۲۷-جولای-۱۶ | ۴۶ | ۶۸.۸۷ | ۶۸.۷۰ | ۶۸.۸۶ | ۶۸.۸۵ | ۱۵.۰۰ | ۱۲.۷۷ | ۳۲ |
| ۳۰-جولای-۱۶ | ۴۹ | ۶۸.۶۴ | ۶۸.۴۰ | ۶۸.۵۵ | ۶۸.۵۳ | ۱۵.۰۰ | ۱۳.۴۰ | ۳۳ |
| زده کړه | ۱.۷ | -۰.۱ | ۲.۸ | ۱.۹ | ۲.۱ | ۱.۶ | -۳.۸ | -۵.۸ | -۷.۳ | -۹.۷ | ۱۱.۴ | ۲۹.۷ | ۳۱.۶ |
| ريستورانتونه او هوټلونه | ۱.۰ | ۱.۵ | ۲.۳ | ۵.۲ | ۳.۱ | ۱.۷ | ۵.۵ | -۰.۶ | ۰.۰ | ۲.۲ | -۷.۴ | ۰.۸ | ۱.۵ |
| متفرقه | ۱.۳ | ۴.۳ | ۷.۹ | ۳.۸ | ۵.۰ | ۴.۵ | ۸.۳ | ۱۷.۸ | ۱۷.۹ | ۱۹.۱ | ۱۲.۵ | ۱۴.۹ | ۱۱.۴ |
| **اصلي انفلاسيون (۳۰ سلنه د اوسط موندلو ميتود)** | | ۵.۳ | ۵.۷ | ۶.۲ | ۴.۴ | ۰.۷ | ۱.۲ | ۱.۹ | ۴.۷ | ۸.۴ | ۸.۵ | ۸.۲ | ۸.۳ |
| **اصلي انفلاسيون (د ډوډۍ او حبوبات، غوړي او شحمياتو او تمباکو څخه پرته عمومي انفلاسيون)** | | -۱.۳ | -۱.۳ | -۳.۸ | -۳.۱ | -۱.۰ | -۲.۳ | -۱.۶ | -۰.۱ | ۵.۴ | ۸.۵ | ۹.۴ | ۶.۳ |

سرچینه: د احصائيې مرکزي اداره/ د پولي سياست د لوی آمريت د کارکوونکو محاسبه

*د افغانستان مالي کال له ۱۳۹۱ کال څخه پيل شوی (ډيسمبر- جنوري) له همدې امله ۳ ربعې رانغاړي.

### ۲.۳.۳ د کابل د مصرفي توکو د بیو د شاخص درې میاشتنۍ بدلونونه

د ۱۳۹۵ مالي کال په پای کې د کابل د انفلاسیون سنجش د ربعې په ربعې پر بنسټ لوړېدونکی بهیر درلوده چې د مصرفي توکو د بیو د شاخص په دواړو برخو خوراکي توکو او نا خوراکي توکو کې لوړ انفلاسیون ښکاره کوي. عمومي انفلاسیون په دې موده کې له ۱.۳ سلنې څخه ۱.۷ سلنې ته زیات شوی دی.

د خوراکي توکو په فرعي شاخص کې بدلونونه راغلي دي چې د انفلاسیون نرخ یې د تیرې ربعې له ۱.۶ سلنې څخه د ارزونې لاندې موده کې ۱.۹ سلنې ته زیات شوی دی. په دې برخه کې د تازه او وچو میوو، سبزیجاتو او اچارو د بیو د زیاتیدو له امله د خوراکي توکو انفلاسیون لوړ شوی دی. په دې کټګورۍ کې تر ټولو ډېر زیاتوالی د سبزیجاتو د بیو په شاخص کې راغلی دی چې له منفي ۳.۶ سلنې څخه ۱۵.۳ سلنې ته رسیږي. له بلې خوا د ډوډۍ او حبوباتو، غوښې، شیدو، پنیرو او هګیو، غوړیو او شحمیاتو، بورې او خواږه توکو او غیر الکولي مشروباتو د بیو شاخص (ربعه په ربعه) راکم شوی دی.

همدا ډول د مصرفي توکو د بیو د شاخص د نا خوراکي توکو کټګورۍ هم د ۱۳۹۵ مالي کال د څلورمې ربعې په اوږدو کې لوړ انفلاسیون تجربه کړی چې د دې توکو د انفلاسیون نرخ د تیرې ربعې له ۱.۰ سلنې څخه د ارزونې لاندې موده کې ۱.۶ سلنې ته زیاتوالی موندلی دی. د نا خوراکي توکو په کټګورۍ کې د انفلاسیون د زیاتیدو اصلي لامل د کور جوړونې، ټرانسپورټ او د معلومات او کلتور د بیو زیاتوالی په ګوته شوی دی چې په دې ډله کې تر ټولو ډېر زیاتوالی د ټراسپورټ په برخه کې ثبت شوی دی چې (ربعه په ربعه) له ۱.۵ سلنې څخه ۶.۲ سلنې ته رسیږي.

برعکس، د پوښاک، فرنیچر او کورنیو توکو، روغتیا، مخابراتو، ښوونې او روزنې، هوټلونو او رسټورانټونو او متفرقه بیو شاخص د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې کموالی ثبت کړی دی.

۵.۳ ګراف: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص ( ربعه په ربعه)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۴.۳ جدول: د کابل عمومي مصرفي توکو د بیې د شاخص د اجزاوو وېشنه**

(د ربعې له مخې د بدلونونو سلنه)

(د ۲۰۱۱ کال مارچ میاشت = ۱۰۰)

| | ۱۳۹۳ | | | | ۱۳۹۴ | | | | ۱۳۹۵ | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لومړۍ ربعه | دوېمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دوېمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دوېمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه |
| **ټولیز شاخص** | **-۳.۸** | **۱.۰** | **۰.۳** | **۱.۶** | **-۴.۷** | **-۰.۶** | **۱.۴** | **۳.۶** | **۰.۰** | **۱.۳** | **۱.۳** | **۱.۷** |
| **خوراکي توکي او څښاک** | **-۱.۲** | **-۰.۲** | **۰.۰** | **۳.۳** | **-۳.۹** | **-۰.۵** | **-۰.۸** | **۵.۵** | **۰.۷** | **۰.۹** | **۱.۶** | **۱.۹** |
| ډوډۍ او حبوبات | -۲.۸ | ۲.۰ | ۵.۱ | -۱.۱ | -۷.۴ | ۱.۰ | ۴.۸ | ۱.۴ | -۵.۸ | -۰.۳ | ۱.۹ | **۰.۹** |
| غوښه | -۰.۵ | -۲.۵ | ۴.۴ | ۱.۳ | -۲.۶ | -۱.۹ | ۳.۹ | ۴.۹ | ۱.۵ | ۱.۲ | ۸.۱ | **۰.۷** |
| شیدې، پنیر او هګۍ | ۲.۰ | -۱.۵ | ۲.۵ | ۳.۰ | -۱.۱ | ۱.۷ | ۴.۷ | ۱.۶ | -۰.۱ | -۱.۸ | ۳.۴ | **۱.۲** |
| غوړي او شحمیات | -۲.۶ | -۱.۶ | -۰.۸ | -۰.۶ | -۹.۹ | ۳.۹ | -۰.۵ | ۱.۵ | -۷.۷ | ۲.۲ | ۹.۳ | **۱.۸** |
| تازه او وچه مېوه | ۹.۹ | ۵.۱ | -۴.۵ | ۲.۳ | ۲.۳ | ۸.۳ | -۹.۲ | ۲.۴ | ۸.۹ | ۷.۷ | -۵.۳ | **-۴.۳** |
| سبزیجات | -۶.۶ | -۳.۹ | -۱۱.۰ | ۱۸.۲ | -۳.۴ | -۱۱.۷ | -۱۳.۴ | ۱۹.۸ | ۵.۹ | -۶.۰ | -۳.۶ | **۱۵.۳** |
| بوره او خواږه توکي | -۵.۲ | -۵.۶ | ۶.۰ | ۰.۰ | -۳.۰ | ۱.۵- | ۷.۳ | ۱۱.۱ | ۸.۱ | ۸.۱ | ۸.۱ | **۱.۵** |
| اچار، ترشي او... | ۳.۱ | ۰.۹ | ۱.۸ | ۱.۱ | -۲.۴ | ۳.۲ | ۷.۴ | ۱۰.۸ | ۵.۸ | ۷.۲ | ۶.۰ | **۶.۸** |
| غیر الکولي مشروبات | ۲.۰ | -۲.۶ | ۲.۳ | ۱.۵ | -۲.۰ | ۱.۲ | ۴.۶ | ۵.۵ | -۰.۱ | ۳.۰ | ۳.۲ | **-۱.۲** |
| **نا خوراکي توکي** | **-۵.۶** | **۱.۹** | **۰.۵** | **۰.۳** | **-۵.۳** | **-۰.۷** | **۳.۱** | **۲.۲** | **-۰.۴** | **۱.۶** | **۱.۰** | **۱.۶** |
| تمباکو | ۱.۹ | ۷.۴ | ۰.۵ | ۵.۰ | -۰.۴ | ۳.۸ | ۱۲.۹ | ۲.۸ | ۰.۲ | ۰.۷ | ۵.۱ | **۵.۳** |
| پوښاک | ۲.۲ | ۵.۲ | -۰.۱ | ۲.۶ | -۲.۲ | ۰.۵ | ۸.۸ | ۶.۴ | ۱.۲ | -۰.۴ | ۳.۹ | **-۱.۴** |
| کور جوړونه (استوګنځی) | -۱۴.۰ | ۰.۱ | -۰.۱ | ۰.۶ | -۶.۹ | -۳.۴ | -۰.۴ | ۰.۹ | -۱.۹ | ۳.۱ | -۱.۱ | **۳.۹** |
| فرنیچر او کورني توکي | ۱.۴ | ۸.۲ | ۱.۳ | ۱.۳ | -۳.۳ | ۴.۸ | ۵.۸ | ۶.۴ | ۱.۶ | ۰.۹ | ۰.۸ | **۰.۰** |
| روغتیا | ۱.۶ | ۰.۸ | ۳.۷ | -۲.۰ | ۱.۷ | ۰.۲ | ۰.۴ | -۲.۰ | ۳.۱ | -۰.۶ | ۰.۹ | **-۱.۲** |
| ټرانسپورټ | ۲۱.۹ | ۰.۵ | ۱.۷ | -۴.۱ | -۱۲.۹ | -۰.۴ | ۱۱.۴ | ۰.۰ | -۲.۴ | ۰.۵ | ۱.۵ | **۶.۲** |
| اړیکې | -۰.۱ | -۲.۱ | -۱.۹ | -۱.۰ | -۰.۸ | ۰.۱ | ۰.۱ | ۰.۴ | -۰.۳ | -۰.۲ | ۰.۲ | **۰.۰** |
| معلومات او کلتور | ۱۴.۰ | -۰.۳ | ۳.۶ | ۰.۵ | -۱.۹ | ۳.۴ | ۴.۸ | ۳.۲ | -۰.۲ | ۰.۱ | -۱.۲ | **-۰.۵** |
| زده کړه | ۱.۰ | ۲.۰ | ۰.۱ | -۱.۱ | ۰.۵ | -۳.۳ | -۱.۹ | -۲.۸ | -۲.۰ | ۱۹.۲ | ۱۴.۲ | **-۰.۵** |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | ۱.۵ | ۰.۸ | ۲.۹ | -۲.۰ | ۰.۰ | ۴.۶ | -۳.۱ | -۱.۳ | ۲.۲ | -۵.۲ | ۵.۴ | **-۰.۶** |
| متفرقه | ۰.۴ | ۳.۲ | -۱.۹ | ۳.۳ | -۰.۱ | ۷.۰ | ۶.۸ | ۳.۴ | ۰.۹ | ۱.۰ | ۹.۰ | -۱.۴ |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د پولي سیاست لوی آمریت د کارکوونکو محاسبه

*د افغانستان مالي کال له ۱۳۹۱ کال څخه پیل شوی (ډیسمبر- جنوري) له همدې امله ۳ ربعې رانغاړي.

### ۴.۳ د انفلاسیون لنډ مهاله لید لوری

تمه کیږي چې د انفلاسیون نرخ په افغانستان کې په لنډ مهاله توګه زیاتوالی ومومي. د افغانستان بانک د لاندې ذکر شویو لاملونو په پام کې نیولو سره د انفلاسیون نرخ د ۱۳۹۶ مالي کال په لومړی نیمایي کې لوړ اټکل کړی دی. لومړی د نړۍ په بازارونو کې د توکو د بیو زیاتیدل د افغانستان د انفلاسیون په نرخ باندې شدیده اغیزه لري. تمه کیږي چې د انرژۍ بیې په ۱۳۹۶ مالي کال کې ۲۶ سلنې ته زیاتې شي. په ورته وخت کې په ۱۳۹۶ مالي کال کې د وړاند وینې له مخې د غیر انرژۍ موادو بیې ۳ سلنه زیاتې شوي دي.[۲]

دویم؛ د کډوالو راستنیدل هم د یو مهم لامل په توګه د ۱۳۹۶ مالي کال د انفلاسیون د نرخ په لوړولو کې بنسټیز رول لري.

حال دا چې د تیر کال په اوږدو کې ۱.۵ میلیونه افغانان خپل هېواد ته راستانه شوي دي او تمه کیږي چې په ۱۳۹۶ مالي کال کې هم په همدې اندازه هېوادوال خپل هېواد ته راستانه شي چې دا شمېره شاوخوا د هېواد ۵ سلنه وګړي جوړوي.[۳] باید یادونه وشي چې دا کار په قطعي ډول په بازار کې د تولیزې تقاضا د لوړیدو او د انفلاسیون د نرخ د زیاتیدو لامل شوی دی.

۲ د نړیوال بانک د توکو د بازار لیدلوری، د ۲۰۱۷ کال جنوري

۳ UNAMA، د وګړو د بدلون لیدلوری، د ۲۰۱۷ کال جنوري

# د بهرني سکتور بدلونونه

## د بهرني سکتور بدلونونه

دا څېرکی په ۱۳۹۵ مالي کال کې د هېواد په اقتصاد کې د بهرني سکتور مهم بدلونونه او له تیر کال سره د هغه پرتله رانغاړي. شته شمېرې ښکاره کوي چې بهرنی سکتور ډېر ښه والی موندلی دی. د بهرني سکتور د ښه کیدو عمده لاملونه د توکو په صادراتو کې معتدله وده، د توکو د وارداتو دوامداره کموالی او په جاري لیږدونو (مرستو) کې د نغدي داخلي بهیدنو (جریانونو) زیاتوالی ګڼل کیږي. د جاري لیږدونو او د توکو د صادراتو له امله د عوایدو د زیاتیدو په پایله کې تر زیاته بریده پورې د وارداتو لګښتونه جبران شوي دي. د دې بدلونونو او له هېواد څخه د بهر کارګرانو د اجورو او د عوایدو د جریانونو د زیاتیدو په پایله کې د بهرني سکتور د جاري حساب کسر په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۳،۷۷۱.۸۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته راښکته شوی چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۴،۷۲۰.۶۸ میلیونه امریکایي دالرو په پرتله ۲۰ سلنه کموالی ښکاره کوي. حال دا چې د پانګې د حساب ورودي جریانونه، دولتي سکتور ته د ورودي جریانونو (د پانګې د لیږدونو) له امله راکم شوي دي.

همدا ډول د بهرنۍ مستقیمې پانګونې خالصه داخلي بهیدنې راکمې شوي، حال دا چې د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د پانګونې خالصه پورټفولیو زیاته شوې ده.

په ورته وخت کې د ادآینو بیلانس د ۱۳۹۴ مالي کال د ۲،۹۰۸.۲۰ میلیونه امریکایي ډالره کسر په پرتله په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۳،۰۲۲.۲۳ میلیونه امریکایي ډالره کسر ثبت کړی دی.

د یادونې وړه ده چې د رسمي شتمنیو زېرمې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۲۵۸.۴۵ میلیون امریکایي ډالره ثبت شوې کچې په پرتله په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۶۴۱.۲۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته زیاتې شوې دي.

### ۱.۴ د ادآینو بیلانس

۱.۱.۴ د جاري حساب بیلانس

د ادآینو د بیلانس د جاري حساب کسر په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲۰ سلنه کموالی موندلی دی چې اصلي لامل یې د صادراتو په پرتله د توکو د وارداتو د پام وړ کموالي او د جاري لیږدونو (مرستو) د نغدي جریانونو د زیاتوالي په پایله کې د سوداګریز کسر کموالی په ګوته شوی دی. د شته شمېرو پر بنسټ؛ د جاري حساب کسر د ۱۳۹۴ مالي کې د ۴،۷۲۰.۶۸ میلیونه امریکایي ډالره کسر په پرتله په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۳،۷۷۱.۸۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته راکم شوی دی. شننې ښکاره کوي چې د توکو واردات په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۶،۱۴۹.۳۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۷،۰۳۳.۷۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۳ سلنه کموالی ښکاره کوي.

له بلې خوا، د توکو له صادراتو څخه ترلاسه شوي عواید په ۱۳۹۵ مالي کال ۶۱۹.۱۲ میلیونه افغانی ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۵۷۹.۹۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د صادراتو عواید په ټولیزه توګه له خوراکي توکو ( تازه او وچو میوو) څخه ترلاسه شوي چې د ټولیزه صادراتو ۴۴ سلنه جوړوي او همدا ډول طبي بذرونه د ټولیزه صادراتو ۳۹ سلنه جوړوي.

د خدمتونو د حساب کسر د ۸ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۷۹۰.۷۶ میلیونه ډالرو ته رسیږي چې

د تیر کال د ۷۳۳.۰۶ میلیونه ډالرو په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي چې اصلي لامل یې د ټرانسپورټ د خدمتونو له امله د ادائینو زیاتوالی په ګوته شوی دی.

په ورته وخت کې د عوایدو د حساب ډېریدنه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۵۱.۷۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۱۷۹.۹۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۷۱ سلنه کموالی ښکاره کوي.

همدا ډول د جاري لیږدونو ډېریدنه چې په زیاته اندازه بسپنې او له بهرنیو هېوادونو څخه د کارګرانو د کورنې شخصي معاشونو ورکړې رانغاړي په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲،۴۹۷.۴۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې تیر کال د ۲،۲۸۶.۱۳ میلیونه ډالرو په پرتله ۹ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.

۱.۴ ګراف: د جاري حساب د ادائینو، توکو، خدمتونو، عوایدو او جاري لیږدونو بیلانس (په میلیون ډالر)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۱.۴ پانګه ایز حساب

د پانګه ایزه حساب د ادائینو بیلانس د ۱۳۹۴ مالي کال په پرتله په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۶ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي چې اصلی لامل یې هېواد ته د پانګې کمه لیږدونه ګڼل کیږي.

د پانګه ایز حساب خالصه جریانونه د ۱۳۹۴ مالي کال له ۱،۵۰۷.۴۸ میلیونه امریکایي ډالرو څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱،۴۱۸.۱۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته راکم شوي دي. د دې ټیټوالی اصلي لامل د دولت، شرکتونو او کورنیو لخوا د خالصه پانګې په لیږدونه کې د تیر کال له ۱،۵۳۴.۰۷ میلیونه امریکایي ډالرو څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱،۴۲۵.۸۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته کموالی په ګوته شوی دی.

### ۳.۱.۴ مالي حساب

د مالي حساب د ادائینو د بیلانس (BOP) خالصه داخلي جریان په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۶۶۸.۵۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي، حال دا چې په تیر کال کې د مالي حساب د ادائینو د بیلانس خالصه بهرني جریان ۳۰۴.۹۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیده. ( د لا وضاحت لپاره د ۲.۴ ګراف او ۲.۴ جدول ته مراجعه وکړئ).

د شمېرو شننه ښکاره کوي چې په بهر کې د هېواد د تولیزه مالي شتمنیو کچه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۳۶.۷۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۲۷.۱۲ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوې کچې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول ټولیزه مالي پورواینې د ۱۳۹۴ مالي کال له ۷.۸۹ میلیونه امریکایي ډالرو څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته راښکته شوي دي چې دې ټیټوالي په هېواد کې د نا امنۍ له کبله د مالي جریان د کمیدو لامل شوی چې دواړه بهرنی مستقیمې پانګونې او د پورټفولیو پانګونې اغیزمنې کړې دي.

۲.۴ ګراف: پانګه ایز او مالي حسابونه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۴.۱.۴ بهرنۍ مستقیمې پانګونې او د پورټوفولیو جریانونه**

د شته شمېرو له مخې، د بهرنیو مستقیمو پانګونو (FDI) ټولیزه بهیدنې په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۹۹.۶۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۱۶۳.۰۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله کموالی ښکاره کوي. حال دا چې د پانګې د بهیدنې پورټوفولیو د ۱۳۹۴ مالي کال له ثبت شوي ۸۱.۵۱ میلیونه امریکایي ډالرو څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۹۰.۸۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته زیاتوالی موندلی دی.

۳.۴ ګراف: د افغانستان د بهرنیو مستقیمو پانګونو جریانونه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۵.۱.۴ د توکو سوداګري (د مال التجاره/ سوداګري)**

د بولټن دا برخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې د افغانستان د توکو د سوداګرۍ د کړنو شننې او د ۱۳۹۴ مالي کال له سوداګریزو کړنو سره د هغه پرتله وړاندې کوي.

د توکو د سوداګرۍ کسر په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۵،۸۰۵.۵۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۷،۱۲۳.۳۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۹ سلنه کموالی ښکاره کوي. ( د لا وضاحت په موخه د ۴.۴ ګراف او د ۴.۳ جدول ته مراجعه وکړئ)

ټولیزه صادرات په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۶۱۳.۸۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۵۵۵.۷۱ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوي کچې په پرتله ۱۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د سوداګرۍ د احصائیو پر بنسټ؛ د څرمنو او وړیو، د خوراکي توکو او طبي بذرونو صادرات لوړیدونکی بهیر ښکاره کوي، حال دا چې د غالیو او ټغرونو صادرات په ۱۳۹۵ مالي کال کې ټیټیدونکی بهیر درلوده. د څرمنو او وړیو صادرات چې د ټولیزه صادراتو شاوخوا ۹ سلنه (۵۵ میلیونه ډالره) جوړوي، په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۹۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي

د خوراکي توکو (تازه او وچو میوو) صادرات چې د ټولیزه صادراتو شاوخوا ۴۴ سلنه جوړوي، په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲۶۹.۹۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۲۱۰.۱۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول د طبی بذرونو صادرات چې د ټولیزه صادراتو کابو ۳۸ سلنه جوړوي، په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲۳۶.۳۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۲۰۸.۷۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې د غالیو او ټغرونو صادرات چې د ټولیزه صادراتو ۸.۶ سلنه جوړوي، په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۵۲.۵۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۱۰۸.۳۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۵۲ سلنه د پام وړ کموالی ښکاره کوي.

په ورته وخت کې ټولیزه واردات په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۶،۴۱۹.۳۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۷،۶۷۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۶ سلنه کموالی ښکاره کوي.

د ټولیزه وارداتو د کمیدو تر ټولو ستر لامل د تیلو او روغنیاتو، صنعتي موادو او پانګه ایزه توکو کموالي ګڼل

کیږي.

د نفتو او روغنیاتو واردات په ۱۳۹۵ مالي کال کې عمدتاً د وارداتو د کچې د کموالي له امله راټیټ شوي دي. د نفتي موادو او روغنیاتو واردات په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱،۰۷۸.۷۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیرې دورې په پرتله ۳۶ سلنه کموالی ښکاره کوي او د ټولیزه وارداتو شاوخوا ۱۶.۸ سلنه جوړوي. د صنعتي موادو واردات چې د ټولیزه وارداتو شاوخوا ۸ سلنه جوړوي، په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۵۳۶.۷۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر مالي کال د ۷۰۹.۱۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۴ سلنه کموالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې، د پانګه ایزه توکو واردات چې د ټولیزه وارداتو کابو ۴۵ سلنه جوړوي، په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲،۹۳۶.۷۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۳،۵۶۶.۰۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۸ سلنه کموالی ښکاره کوي.

**۲.۴ د سوداګرۍ لوري**

په ۱۳۹۴ مالي کال کې د افغانستان د صادراتو لپاره عمده هېوادونه پاکستان، ایران، هند، چین او د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) دي.

د توکو د سوداګرۍ د احصائیو پر بنسټ، **پاکستان د افغانستان د صادراتو تر ټولو لوی پیریدونکی هېواد دی.**

پاکستان ته د افغانستان د ټولیزه صادارتو ونډه د ۱۳۹۴ مالي کال له ۴۰.۱۹ سلنې څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۴۷.۵۴ سلنې ته زیاته شوې ده. پاکستان ته ټولیزه صادراتو کچه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲۹۱.۷۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۲۲۳.۳۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳۱ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.

پاکستان ته د څرمنو او وړیو او خوراکي توکو (تازه او وچو میوو او نباتي تیلو) او طبي بذرونو صادرات په ۱۳۹۵ مالي کال کې په ترتیب سره ۱۷۳ سلنې،۱۰۷ سلنې او ۴۲ سلنې ته زیات شوي دي، حال دا چې پاکستان ته د غالیو او ټغرونو صادرات د ارزونې لاندې کال کې ۴۸ سلنه راکم شوي دي.

**هند، د افغانستان د صادراتو دویم ستر پیریدونکی هېواد دی.**

هند ته د افغانستان د صادراتو ونډه د ۱۳۹۴ مالي کال له ۳۰.۴۳ سلنه ثبت شوې کچې څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۳۲.۱۹ سلنې ته زیاته شوې ده.

هند ته د ټولیزه صادراتو کچه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱۹۷.۶۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۱۶۹.۰۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

په ۱۳۹۵ مالي کال کې هند ته د خوراکي توکو او طبي بذرونو صادرات په ترتیب سره ۱۸ سلنې او ۱۷ سلنې ته زیات شوي دي، حال دا چې د څرمنو او وړیو صادرات ۷۸ سلنه کموالی په ګوته کوي.

**د افغانستان د صادراتو دریم ستر پیریدونکي د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) دي.** د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونو (CIS) ته د افغانستان د صادراتو ونډه د تیر کال له ۷.۹۴ سلنې څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۶.۶۷ سلنې ته راښکته شوې ده. له ګډو ګټو خپلواکو هېوادونو(CIS) څخه د افغانستان د ټولیزه صادراتو عواید په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۴۰.۹۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۴۴.۳۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۷ سلنه کموالی ښکاره کوي. د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونو (CIS) ته د صادراتي توکو ستره برخه تازه میوې ګڼل کیږي چې د ارزونې لاندې کال کې د ټولیزه صادراتو شاوخوا ۶ سلنه جوړوي




۴.۴ ګراف: د صادراتو لوری ( د ونډې سلنه) د ۱۳۹۵ مالي کال

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه




۵.۴ ګراف: د صادراتو لوری ( د ونډې سلنه) د ۱۳۹۴ مالي کال

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونو (CIS) په ۱۳۹۵ مالي کال کې د افغانستان لپاره د وارداتو تر ټولو ستره سرچینه وه.** افغانستان ته د ګډو ګټو د خپلواکه هېوادونو (CIS) ټولیزه واردات په ۱۳۹۴ مالي کال کې د ۲۰.۵۷ سلنې ونډې په درلودلو سره ۱،۳۲۰.۷۰ میلیونه امریکايي ډالرو ته راکم شوي دي په داسې حال کې چې د ټولیزه وارداتو کچه په ۱۳۹۴ مالي کال کې د ۲۰.۵۹ سلنه ونډې په درلودلو سره ۱،۵۸۱ میلیونه امریکايي ډالره وه چې په ټولیزه وارداتو کې ۱۶ سلنه کموالی ښکاره کوي. په ۱۳۹۵ مالي کال کې د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونو مهم وارداتي توکي مصرفي توکي، خوراکي توکي، پترولیم او صنعتي مواد لکه؛ فلزي توکي او سره یا پارو) ګڼل کیږي چې د ټولیزه وارداتو په ترتیب سره ۸ سلنه، ۵ سلنه، ۵ سلنه او ۳ سلنه جوړوي.

**ایران د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې افغانستان لپاره دویمه ستره وارداتي سرچینه ګڼل کیږي.** له ایران څخه افغانستان ته د ټولیزه وارداتو ونډه د تیر کال له ثبت شوې ۲۲.۶۹ سلنې څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲۰.۱۹ سلنې ته راکمه شوې ده.

د ارزښت له پلوه، افغانستان ته د ایران ټولیزه واردات په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱،۲۹۶.۲۶ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱،۷۴۲.۱۸ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۲۶ سلنه کموالی ښکاره کوي. له ایران څخه ستر وارداتي توکي پترولیم(تیل)، پانګه ایز توکي او صنعتي مواد ؤ چې په ۱۳۹۵ مالي کال کې د ټولیزه وارداتو ۱۰ سلنه، ۷ سلنه او ۳ سلنه جوړوي.

**پاکستان د افغانستان لپاره په ۱۳۹۵ مالي کال کې د وارداتو دریمه ستره سرچینه ده.** له پاکستان څخه د ټولیزه وارداتو ونډه په ۱۳۹۵ مالي کال کې له ۱۸.۱۳ سلنې څخه ۲۰ سلنې ته زیاته شوې ده. خو د ارزښت له پلوه، افغانستان ته د پاکستان ټولیزه واردات په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱،۲۸۵.۲۶ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱،۳۹۱.۹۹ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۸ سلنه کموالی ښکاره کوي. مصرفي توکي، صنعتي مواد، پانګه ایزه توکي او پترولیم د پاکستان مهم وارداتي توکي دي.

**چین په ۱۳۹۵ مالي کال کې د افغانستان څلورم ستر وارداتي هېواد دی.** د چین د ټولیزه وارداتو ونډه په ۱۳۹۵ مالي کال کې شاوخوا ۱۷ سلنې ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۱۴.۲۱ سلنې ونډې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. خو د ارزښت له پلوه، افغانستان ته د چین ټولیزه واردات (۱۰۹۱.۸۵ میلیونه امریکايي ډالره) ثابته پاتې شوي دي. پانګه ایزه توکي (پرزې) او مصرفي توکي چې د ټولیزه وارداتو په ترتیب سره ۱۰ سلنه او ۷ سلنه جوړوي، د چین بنسټیز وارداتي توکي دي.

جاپان، هندوستان او د امریکا متحده ایالتونه د افغانستان لپاره په ترتیب سره پنځم، شپږم او اووم ستر وارداتي هېوادونه دي. په ټولیزه وارداتو کې د دې هېوادونو د وارداتو کچې په ترتیب سره ۴ سلنه، ۲ سلنه او ۱ سلنې ته رسیږي. په همدې ترتیب د جاپان ټولیزه واردات په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲۶۱.۳۳ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۲۰۳.۲۷ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۱۴ سلنه کموالی ښکاره کوي چې اصلي لامل يې په ۱۳۹۵ مالي کال کې د پانګه ایزو توکو او مصرفي توکو د وارداتو کموالی ګڼل کیږي.

همدا ډول افغانستان ته د هند د وارداتو کچه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱۳۴.۱۶ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۱۲۷.۲۵ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۵ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. بوره، پوښاک، درمل، سګرېټ او تارونه د هندوستان ستر وارداتي توکي دي.

افغانستان ته د امریکې د متحده ایالاتو د وارداتو کچه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۸۱.۹۳ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۲۴۴.۵۴ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۶۶ سلنه د پام وړ کموالی ښکاره کوي چې اصلي لامل يې په ۱۳۹۵ مالي کال کې د پانګه ایزه توکو (پرزو)، درملو او تارونو د وارداتو کموالی ګڼل کیږي. ( د لا وضاحت لپاره ۴.۴، ۵.۴ جدولونه او ۶.۴ او ۷.۴ ګرافونه وګورئ)

۶.۴ ګراف: د وارداتو لوری ( د ونډې سلنه) د ۱۳۹۵ مالي کال




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۷.۴ ګراف: د وارداتو لوری ( د ونډې سلنه) د ۱۳۹۴ مالي کال




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۳.۴ د سوداګرۍ ترکیب

### ۱.۳.۴ د وارداتو ترکیب

په ۱۳۹۵ مالي کال کې د وارداتو ترکیب ښکاره کوي چې؛

- د پانګه ایزه توکو واردات د وارداتو په ټوکرۍ کې د ۴۵.۷ سلنې ونډې په درلودلو سره تر ټولو ستره برخه جوړوي چې د پانګه ایزه توکو د وارداتو کچه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲،۹۳۶.۷۵میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۳،۵۶۶.۰۷ میلیونه امریکايي ډالره ثبت شوې کچې په پرتله ۱۸ سلنه کموالی ښکاره کوي.
- د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د وارداتو په ټوکرۍ کې دویمه لویه ونډه مصرفي توکو ثبت کړې ده چې کچه يې په ۱۳۹۵ مالي کال کې له ۲۲.۳ سلنې څخه ۲۹.۱ سلنې ته لوړه شوې ده. همدا ډول د ارزښت له پلوه، په ټولیزه وارداتو کې د دې توکو واردات د ۱۳۹۴ مالي کال له ۱،۷۱۵.۲۵ میلیونه امریکايي ډالرو څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱،۸۶۷.۳۶ میلیونه امریکايي ډالرو ته زیات شوي دي.
- د نفتو او روغنیاتو(پترولیم) واردات د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې دریمه لویه ونډه جوړوي چې کچه يې د تیر کال له ۲۲ سلنې څخه د ارزونې لاندې

کال کې ۱۶۸ سلنې ته راکمه شوې ده. په ټولیزه وارداتو کې د نفتو او روغنیاتو (نفتي موادو) کچه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱،۰۷۸.۷۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۱،۶۸۸.۵۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳۶ سلنه د پام وړ کموالی ښکاره کوي.

- همدا ډول د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د صنعتي موادو کچه چې د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې تر ټولو لږه ونډه لري. په ټولیزه وارداتو کې د صنعتي موادو ونډه د ۱۳۹۴ مالي کال له ۹.۲ سلنې څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۸.۴ سلنې ته راټيټه شوې ده. د صنعتي موادو د وارداتو کچه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۵۳۶.۴۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۷۰۹.۱۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۴ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي. صنعتي توکي چې فلزونه، کیمیاوي سره/پارو، کیمیاوي مواد او سمنټ رانغاړي، په ټول هیواد کې د پراختیایي پروژو د شمېر د کموالي له امله راکم شوي دي.



۸.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب ( د ونډې سلنه) د ۱۳۹۴ مالي کال

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه



۹.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب ( د ونډې سلنه) د ۱۳۹۵ مالي کال

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۳.۴ د صادراتو ترکیب

په ۱۳۹۵ مالي کال کې د صادراتو ترکیب ښکاره کوي چې؛

- خوراکي توکو، د افغانستان د صادراتو په ټوکرۍ کې تر ټولو ستره برخه درلوده. په ټولیزه صادراتو کې د خوراکي توکو ونډه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۴۴ سلنه زیاتوالی ثبت کړی دی، حال دا چې په ۱۳۹۴ مالي کال کې یې ونډه ۳۷.۸ سلنې ته رسیده.

د ارزښت له پلوه، د خوراکي توکو (تیلي بذرونو، تازه او وچو میوو) صادرات په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲۶۹.۹۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۲۱۰.۱۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

- د هیواد په ټولیزه صادراتو کې دویمه لویه برخه طبي بذرونو ثبت کړې ده چې کچه یې د ۱۳۹۴ مالي کال له ۳۷.۶ سلنې څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۳۸.۵ سلنې ته زیاته شوې ده. د ارزښت له مخې په ټولیزه صادراتو کې د طبي بذرونو د صادراتو کچه ۲۳۶.۳۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۲۰۸.۷۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.
- همدا ډول د هیواد په ټولیزه صادراتو کې دریمه ستره ونډه خرمنو او وړیو ثبت کړې ده چې کچه یې د ۱۳۹۴

مالي کال له ۵ سلنې څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۹ سلنې ته زياته شوې ده. د دې توکو د صادراتو عوايد په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۵۵ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيدلي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۲۸.۴۷ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۹۳ سلنه د پام وړ زياتوالی ښکاره کوي.

- همدا ډول غالي او ټغرونه چې په تيرو څو لسيزو کې يې د افغانستان د صادراتو بنسټيزه برخه جوړوله، د افغانستان د صادراتو په توکو کې تر ټولو لړه ونډه ثبت کړې ده چې کچه يې د ۱۳۹۴ مالي کال له ۱۹.۵ سلنې څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۸.۶ سلنې ته راکمه شوې ده.

د غاليو او ټغرونو د صادراتو عوايد په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۵۲.۵۱ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ۱۰۸.۳۱ ميليونه امريکايي ډالره ثبت شوې کچې په پرتله ۵۲ سلنه کموالی ښکاره کوي.

۱۰.۴ ګراف: د صادراتو ترکيب ( د ونډې سلنه) ۱۳۹۴ مالي کال




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۱۱.۴ ګراف: د صادراتو ترکيب ( د ونډې سلنه) ۱۳۹۵ مالي کال




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۴.۴ بهرنی پورراينې

د افغانستان ټوليزه بهرنی پورراينې (بدهي) په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲،۰۸۱.۲۸ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۲،۱۳۰.۰۶ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله شاوخوا ۲ سلنه يا ۴۸.۷۹ ميليونه امريکايي ډالره ټيټوالی ښکاره کوي. د ټوليزه بهرنيو پورراينو د ټيټوالي عمده لاملونه په اوږد مهاله ډول د بهرنی سوداګرۍ د پور په اداينې، د خالصه نړيواله شتمنيو (NIR) د امانتونو او د برداشت په ځانګړې حقونو(SDR) کې کموالی ګڼل کيږي. د برداشت ځانګړې حقونه (SDR) د پيسو د نړيوال صندوق (IMF) لخوا ټاکل کيږي.

افغانستان د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې نړيوال بانک، د آسيا پراختيايي بانک، اسلامي پراختيايي بانک، د پيسو نړيوال صندوق (IMF) او بلغاريا ته د پور د اصلي مبلغ بيا اداينه کړې ده. حال دا چې نړيوال بانک، د آسيا پراختيايي بانک او اسلامي پراختيايي بانک ته د خدمتونو لګښتونه هم تاديه شوي دي.

په ورته وخت کې افغانستان ته د ستر څو اړخيزه پور ورکونکي په توګه نړيوال بانک د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ځينې اصلي پورونه او د خدمتونو لګښتونه بخښلي

او د آسیا پراختیایي بانک بیا یوازې د خدمتونو لګښتونه بخښلي دي.

د پاریس کلب پور ورکوونکو ته د ټولیزه ورکول کیدونکو پورونو کچه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۸۸۴.۷۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې باید د روسیې فدراسیون ته ورکړل شي. په بله وینا، افغانستان ته کوم پورونه چې د پاریس کلب غړو ورکړي د ټولو جاري بهرنیو پورونو شاوخوا ۴۲.۵۱ سلنه جوړوي او د تیر کال په پرتله نږدې ۱ سلنه کموالی لري.

سربېره پر دې، ټولیزه پوراینې د پاریس کلب له غړو پرته لکه پراختیا لپاره د سعودي صندوق، بلغاریا، د کویټ صندوق او د ایران د پور ورکونې کچه د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ۸۴.۲۱ میلیونه امریکایي ډالره ثابته پاتې ده.

له بلې خوا، افغانستان ته د څو اړخیزو کریډیټونو کچه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱،۱۱۲.۳۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱،۱۵۰.۸۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د څو اړخیزو کریډیټونو په ټولیزه پوراینو کې ۳۸.۵۳ میلیونه امریکایي ډالره ټیټوالی ښکاره کوي.

۱۲.۴ ګراف: د بهرنی پوراینې پرتله؛ د ۱۳۹۴ مالي کال او د ۱۳۹۵ مالي کال




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۵.۴ خالصه نړیواله زېرمې

د وروستیو شمېرو پر بنسټ، خالصه نړیواله زېرمې(NIR) په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۶،۸۲۱.۹۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال ۶،۴۴۳ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوې کچې په پرتله ۵.۸۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د خالصه نړیواله زیرمو (NIR) د کچې د زیاتیدو عمده لامل د شتمنیو د زېرمو زیاتوالی په ګوته شوی چې په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۷،۵۴۱.۰۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۶،۹۶۵.۸۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول په ۱۳۹۵ مالي کال کې د پوراینې د زېرمو کچه ۷۱۹.۱۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۵۲۲.۸۰ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوې کچې په پرتله ۳۷.۵۵ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. دا شمېرې ښکاره کوي چې د پوراینې د زېرمو د کچې په پرتله د شتمنیو د زېرمو کچه لوړه ده. د پوراینو زېرمو د کچې د کمیدو اصلي لامل په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانتونه په ګوته شوي چې کچه یې په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۶۴۷.۶۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۴۳۳.۵۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۴۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

له تمویلي منابعو څخه د ګټې اخیستنې کچه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۷۱.۳۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۸۹.۱۰ میلیونه ډالرو په پرتله ۲۰ سلنه کموالی لري.

په بهرنیو اسعارو کې د نامیشتو امانتونو د پوراینې د زېرمې کچه د ارزونې لاندې کال کې تقریباً ثابته پاتې ده.

د افغانستان د خالصه نړیواله زېرمو اوسنی وضعیت د پولي سیاست لپاره ښه ابزار او د ادائینو د بیلانس ښه ملاتړ ګڼل کیږي. اوس مهال، خالصه نړیواله زېرمې(NIR) په منځنی ډول د شاوخوا ۱۳ میاشتو وارداتو لپاره بسنه کوي، په داسې حال

کې، هغه هېوادونه چې د خپلو زېرمو له لارې د ۶ میاشتو واردات ترسره کولای شي د خپلو زېرمو له نسبتاً ښه وضعیت څخه برخمنه کېږي.

۷.۴ جدول او ۱۴.۴ ګراف په تیرو څو دورو کې د افغانستان خالصه نړیواله زېرمې(NIR) وړاندې کوي.

۱۳.۴ ګراف: د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې خالصه نړیواله زېرمې ( په میلیونه امریکایي ډالر)




سرچینه: د احصائیې مرکزي ادراه/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۱.۴جدول: د جاري حساب بیلانس (په میلیون امریکایي ډالر)**

| توکي / دورې | ۱۳۹۳ مالي کال | ۱۳۹۴ مالي کال | ۱۳۹۵ مالي کال |
|---|---|---|---|
| پانګه ایز او مالي حسابونه | ۳،۰۶۸.۹۷ | ۱،۸۱۲.۴۷ | ۷۴۹.۶۱ |
| پانګه ایز حساب | ۲،۵۴۱.۱۵ | ۱،۵۰۷.۴۸ | ۱،۴۱۸.۱۳ |
| د پانګې لیږدونې | ۲،۵۷۴.۵۴ | ۱،۵۳۴.۰۷ | ۱،۴۲۵.۸۲ |
| مالي حساب | ۵۲۷.۸۲ | - ۳۰۴.۹۹ | ۶۶۸.۵۳ |
| د شتمنیو زېرمې | ۳۵۲.۴۷ | - ۲۵۸.۴۵ | ۶۴۱.۲۸ |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۲.۴ جدول: د تجارتي توکو سوداګري ( په میلیون ډالر)**

| کال | ۱۳۹۱ مالي کال | | ۱۳۹۲ مالي کال | | ۱۳۹۳ مالي کال | | ۱۳۹۴ مالي کال | | ۱۳۹۵ مالي کال | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) |
| واردات | **۶،۴۱۹.۶۷** | ۱۰۰٪ | **۹،۳۳۹.۶۰** | ۱۰۰٪ | **۷،۲۹۴.۶۳** | ۱۰۰٪ | **۷،۶۷۹.۰۹** | ۱۰۰٪ | **۶،۴۱۹.۳۱** | ۱۰۰٪ |
| صنعتي مواد | ۹۶۹.۸۸ | ۱۵.۱٪ | ۱،۲۷۲.۱۴ | ۱۳.۶٪ | ۸۶۳.۱۹ | ۱۱.۸٪ | ۷۰۹.۱۹ | ۹.۲٪ | ۵۳۶.۴۷ | ۸.۴ ٪ |
| تیل او روغنیات | ۱،۰۸۳.۶۵ | ۱۶.۹٪ | ۲،۱۶۷.۳۷ | ۲۳.۲٪ | ۱۱۵۵.۹۴ | ۱۵.۸٪ | ۱۶۸۸.۵۸ | ۲۲.۰٪ | ۱۰۷۸.۷۳ | ۱۶.۸٪ |
| مصرفي توکي | ۱،۲۵۵.۴۸ | ۱۹.۶٪ | ۱،۹۴۲.۸۵ | ۲۰.۸٪ | ۲۳۴۵.۸۶ | ۳۲.۲٪ | ۱۷۱۵.۲۵ | ۲۲.۳٪ | ۱۸۶۷.۳۶ | ۲۹.۱٪ |
| پانګه ایزه توکي او داسې نور | ۳،۱۱۰.۶۶ | ۴۸.۵٪ | ۳،۹۵۷.۲۴ | ۴۲.۴٪ | ۲،۹۳۰ | ۴۰.۲٪ | ۳۵۶۶.۰۷ | ۴۶.۴٪ | ۲۹۳۶.۷۵ | ۴۵.۷٪ |
| صادرات | **۲۶۱.۶۳** | ۱۰۰٪ | **۴۹۹.۸۱** | ۱۰۰.۰٪ | **۶۲۰.۸۸** | ۱۰۰٪ | **۵۵۵.۷۱** | ۱۰۰٪ | **۶۱۳.۸۰** | ۱۰۰٪ |
| غالی او ټغرونه | ۸.۴۳ | ۳٪ | ۸۵.۴۹ | ۱۷.۱٪ | ۸۷.۰ | ۱۴.۰٪ | ۱۰۸.۳۱ | ۱۹.۵٪ | ۵۲.۵۱ | ۸.۶ ٪ |
| خوراکي توکي | ۱۰۴.۲۳ | ۴۰٪ | ۱۷۵.۹۲ | ۳۵.۲٪ | ۲۷۲.۱۳ | ۴۳.۸٪ | ۲۱۰.۱۷ | ۳۷.۸٪ | ۲۶۹.۹۱ | ۴۴.۰٪ |
| څرمن او وړۍ | ۲۶.۸۲ | ۱۰٪ | ۵۹.۵۴ | ۱۱.۹٪ | ۴۹.۳۵ | ۷.۹٪ | ۲۸.۴۷ | ۵.۱٪ | ۵۵.۰۰ | ۹.۰٪ |
| طبي بذرونه او داسې نور | ۱۲۲.۱۵ | ۴۷٪ | ۱۷۸.۸۶ | ۳۵.۸٪ | ۲۱۲.۳۶ | ۳۴.۲٪ | ۲۰۸.۷۶ | ۳۷.۶٪ | ۲۳۶.۳۸ | ۳۸.۵٪ |
| د سوداګرۍ بیلانس | **-۶،۱۵۸.۰۴** | | **-۸،۸۳۹.۷۹** | | **-۶،۶۷۳.۷۵** | | **-۷،۱۲۳.۳۸** | | **-۵،۸۰۵.۵۱** | |
| د کورني ناخالص تولید له مخې د سوداګرۍ د بیلانس سلنه | -۳۱٪ | | - ۴۳٪ | | -۳۱٪ | | -۳۳٪ | | | |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۳.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لوری- د ۱۳۹۵ مالي کال ( میلیون امریکایي ډالر)**

| د هېواد نوم | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | ۲۹۱.۷۷ | ۴۷.۵۴٪ | ۱،۲۸۵.۲۶ | ۲۰.۰۲٪ | −۹۹۳.۴۹ |
| هند | ۱۹۷.۶۰ | ۳۲.۱۹٪ | ۱۳۴.۱۶ | ۲.۰۹٪ | ۶۳.۴۴ |
| ایران | ۲۲.۶۰ | ۳.۶۸٪ | ۱،۲۹۶.۲۶ | ۲۰.۱۹٪ | −۱،۲۷۳.۶۶ |
| جرمني | ۳.۵۷ | ۰.۵۸٪ | ۲۸.۱۹ | ۰.۴۴٪ | −۲۴.۶۲ |
| چین | ۹.۵۱ | ۱.۵۵٪ | ۱،۰۹۱.۸۵ | ۱۷.۰۱٪ | −۱،۰۸۲.۳۴ |
| انګلستان | | ۰.۰۰٪ | ۹.۱۸ | ۰.۱۴٪ | −۹.۱۸ |
| سعودي عربستان | ۵.۵۹ | ۰.۹۱٪ | | ۰.۰۰٪ | ۵.۵۹ |
| د امریکا متحده ایالات | | ۰.۰۰٪ | ۸۱.۹۳ | ۱.۲۸٪ | −۸۱.۹۳ |
| د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه | ۴۰.۹۵ | ۶.۶۷٪ | ۱۳۲۰.۷۰ | ۲۰.۵۷٪ | −۱۲۷۹.۷۵ |
| جاپان | | ۰.۰۰٪ | ۲۶۱.۳۳ | ۴.۰۷٪ | −۲۶۱.۳۳ |
| نور هېوادونه | ۴۲.۲۱ | ۶.۸۸٪ | ۹۱۰.۴۰ | ۱۴.۱۸٪ | −۸۶۸.۱۹ |
| ټولیزه | **۶۱۳.۸۰** | **۱۰۰٪** | **۶،۴۱۹.۲۶** | **۱۰۰٪** | **(۵،۸۰۵.۴۶)** |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۴.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لوری- د ۱۳۹۴ مالي کال ( میلیون امریکایي ډالر)**

| د هېواد نوم | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | ۲۲۳.۳۶ | ۴۰.۱۹٪ | ۱،۳۹۱.۹۹ | ۱۸.۱۳٪ | −۱،۱۶۸.۶۳ |
| هند | ۱۶۹.۰۸ | ۳۰.۴۳٪ | ۱۲۷.۲۵ | ۱.۶۶٪ | ۴۱.۸۳ |
| ایران | ۲۹.۵۷ | ۵.۳۲٪ | ۱،۷۴۲.۱۸ | ۲۲.۶۹٪ | −۱،۷۱۲.۶۱ |
| جرمني | ۶.۸۷ | ۱.۲۴٪ | ۳۳.۰۹ | ۰.۴۳٪ | −۲۶.۲۲ |
| د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه | ۴۴.۱۳ | ۷.۹۴٪ | ۱،۵۸۱.۰۰ | ۲۰.۵۹٪ | −۱،۵۳۶.۸۷ |
| چین | ۱۱.۶۶ | ۲.۱۰٪ | ۱،۰۹۰.۹۲ | ۱۴.۲۱٪ | −۱،۰۷۹.۲۶ |
| سعودي عربستان | ۰.۲۵ | ۰.۰۴٪ | | ۰.۰۰٪ | ۰.۲۵ |
| جاپان | | ۰.۰۰٪ | ۳۰۲.۲۷ | ۳.۹۴٪ | −۳۰۲.۲۷ |
| انګلستان | | ۰.۰۰٪ | ۵.۴۱ | ۰.۰۷٪ | −۵.۴۱ |
| د امریکې متحده ایالات | | ۰.۰۰٪ | ۲۴۴.۵۴ | ۳.۱۸٪ | −۲۴۴.۵۴ |
| نور هېوادونه | ۷۰.۷۹ | ۱۲.۷۴٪ | ۱،۱۶۰.۴۷ | ۱۵.۱۱٪ | −۱،۰۸۹.۶۸ |
| ټولیزه | **۵۵۵.۷۱** | **۱۰۰.۰۰٪** | **۷،۶۷۹.۱۲** | **۱۰۰.۰۰٪** | **−۷،۱۲۳.۴۱** |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۵.۴ جدول: بهرنی پوراینې، ۱۳۹۵ مالي کال

| | په میلیون ډالر | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|
| ټولیزه بهرنی پوراینې | ۲،۰۸۱.۲۸ | ۱۰۰.۰۰ |
| دوه اړخیزه | ۹۶۸.۹۱ | ۴۶.۵۵ |
| د پاریس کلب | ۸۸۴.۷۰ | ۴۲.۵۱ |
| د روسیې فدراسیون | ۸۸۴.۷۰ | ۴۲.۵۱ |
| متحده ایالات | – | ۰.۰۰ |
| جرمني | – | ۰.۰۰ |
| د پاریس کلب پرته | ۸۴.۲۱ | ۴.۰۵ |
| څو اړخیزې ټولنې: | ۱،۱۱۲.۳۶ | ۵۳.۴۵ |
| د پراختیا نړیواله ټولنه ( نړیوال بانک) | ۳۴۲.۱۴ | ۱۶.۴۴ |
| د آسیا پراختیایي بانک | ۶۴۱.۱۸ | ۳۰.۸۱ |
| د پیسو نړیوال صندوق | ۸۲.۱۶ | ۳.۹۵ |
| اسلامي پراختیایي بانک | ۴۵.۱۶ | ۲.۱۷ |
| د اوپک صندوق | ۱.۷۲ | ۰.۰۸ |

سرچینه: د پوراینې د شتمنیو د مدیریت واحد، د افغانستان د مالیې وزارت

## ۶.۴ جدول: خالصه نړیواله زېرمې، ۱۳۹۵ مالي کال (میلیون امریکایي ډالر)

| په تیره ربعه کې بدلونونه | ۱۳۹۲ مالي کال | د بدلونونو سلنه | ۱۳۹۳ مالي کال | د بدلونونو سلنه | ۱۳۹۴ مالي کال | د بدلونونو سلنه | ۱۳۹۵ مالي کال | د بدلونونو سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خالصه نړیواله زېرمې (په میلیون ډالر) | ۶،۶۷۸.۶۲ | ۲۳.۲۲ | ۶،۶۹۳.۶۵ | ۰.۲۲ | ۶،۴۴۳.۰۰ | -۳.۷۴ | ۶،۸۲۱.۹۰ | ۵.۸۸ |
| د شتمنۍ زېرمې | ۷،۱۸۳.۳۳ | ۲۲.۷۱ | ۷،۲۴۷.۷۶ | ۰.۹۰ | ۶،۹۶۵.۸۱ | -۳.۸۹ | ۷،۵۴۱.۰۲ | ۸.۲۶ |
| د پوراینې زېرمې | ۵۰۴.۷۱ | ۱۰.۹۱ | ۵۵۴.۱۲ | ۹.۷۹ | ۵۲۲.۸۰ | -۵.۶۵ | ۷۱۹.۱۳ | ۳۷.۵۵ |
| په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانات | ۳۶۷.۶۵ | ۴.۰۰ | ۴۴۳.۸۰ | ۲۰.۷۱ | ۴۳۳.۵۷ | -۲.۳۰ | ۶۴۷.۶۸ | ۴۹.۳۸ |
| په بهرنیو اسعارو د نا میشتو امانتونه | ۰.۱۴ | -۸۹.۵۷ | ۰.۱۴ | -۰.۰۲ | ۰.۱۴ | ۰.۰۰ | ۰.۱۴ | -۰.۰۳ |
| له تمویلي منابعو څخه ګټه اخیستنه | ۱۳۶.۹۲ | ۱۷.۵۳ | ۱۱۰.۱۸ | -۱۹.۵۳ | ۸۹.۱۰ | -۱۹.۱۴ | ۷۱.۳۱ | -۱۹.۹۶ |
| ناخالصه نړیواله زېرمې ( د وارداتو د میاشتې په اساس) | ۹.۲۳ | | ۱۱.۹۲ | | ۱۰.۸۹ | | ۱۴.۱۰ | |
| خالصه نړیواله زېرمې ( د وارداتو د میاشتې په اساس) | ۸.۵۸ | | ۱۱ | | ۱۰ | | ۱۳ | |

سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/ د افغانستان بانک

# د حقیقي سکتور بدلونونه

ځرنګه چې تمه کیده، د افغانستان اقتصادي وده په ۱۳۹۵ مالي کال کې د پام وړ زیاتوالی درلوده او همدا ډول د هېواد د ټولیزه کورني ناخالصه تولیدات په دې موده کې ۳.۶ سلنه اټکل شوې وده ښکاره کوي. د یادونې وړ ده چې د کرنې سکتور د پام وړ ښه والي موندلی او د خدمتونو سکتور هم د یو لړ مثبتو بدلونونو ګواه دی، حال دا چې د صنعت سکتور په دې موده کې کمزوره کړنې ثبت کړې دي.

د کرنې سکتور د دولت د ملاتړ او د مناسبې هوا په پایله کې ښه والی موندلی چې له امله یې د دې سکتور د ودې نرخ ۱۲ سلنې ته لوړ شوی دی. حال دا چې د دې سکتور د ودې نرخ په تیر کال کې منفي ۱۶.۹ سلنه ؤ. همدا ډول د کرنې د سکتور د ودې اصلي لامل د نشه یي موادو د تولیداتو پیاوړتیا په ګوته شوې چې له منفي ۴۸.۴ سلنې څخه ۴۵.۵ سلنې ته زیاتوالی ښکاره کوي.

د صنعت سکتور په ۱۳۹۵ مالي کال کې د پام وړ کموالی تجربه کړی چې اصلي لامل یې د لرګیو د تولیداتو او د ودانیزو چارو کمزوره کړنې ګڼل کیږي، د صنعت د سکتور وده له ۴.۵ سلنې څخه منفي ۱.۹ سلنې ته راکمه شوې ده. همدا ډول په دې سکتور کې د اصلي فلزونو تولیدات په استثنایي ډول ښه شوي دي.

په ورته وخت کې د خدمتونو د سکتور کلنی نرخ په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲.۴ سلنې ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۱.۴ سلنه ثبت شوي نرخ په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. د دې سکتور کړنې د ډېرو شاخصونو لکه: مالي، بیمې، املاک او سوداګرۍ، د استوګنځاینو مالکیت، ټولنې، شخصي او ټولنیزو خدمتونو، دولتي خدمتونو او داسې نورو خدمتونو په پایله کې ښې شوې دي.

## ۱.۵ کورني ناخالصه تولیدات د اقتصادي کړنو پر اساس

د افغانستان کورني ناخالصه تولیدات په هېواد کې د زیاتو ناډاډمنتیاوو سره سره د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې له منفي ۱.۸ سلنې څخه ۳.۶ سلنې ته زیات شوي دي. د کرنې سکتور د دولت د ملاتړ، مناسب موسم او د نشه یي توکو د پیاوړې ونډې په پایله کې د پام وړ وده درلودلې ده. په ورته وخت کې د خدمتونو سکتور هم د مالي، بیمې، املاک او سوداګرۍ برخو د پیاوړې ودې له امله ښه والی موندلی دی، خو د صنعت سکتور د لرګیو د تولیداتو او د ودانیزو کړنو د کموالی له امله کمزوره شوی دی.

همدا ډول د هېواد د کورني ناخالصه تولیداتو د زیاتیدو اصلي لامل د تریاکو د تولیداتو زیاتوالی په ګوته شوی دی چې د نشه یي توکو په تولیداتو کې د تریاکو د تولید ونډه ډېر کم ښه والی ښکاره کوي. د تریاکو تولیدات د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې له ۱.۳ سلنې څخه ۲.۱ سلنې ته زیات شوي دي.

۱.۵ ګراف: د اقتصادي کړنو پر اساس کورني ناخالصه تولیدات
( د ونډې سلنه)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره

په ټولیزه توګه، د کرنې سکتور چې د هېواد ډېرى وګړې په کې بوخت دي، د تیر کال له ټاکل شوي هدف ( منفي ۱۶.۹ سلنې) څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱۲.۴ سلنه ته د پام وړ وده موندلې ده. دا چې دې سکتور له ټاکل شوي حد

څخه ډېره وده کړې ده، لامل یې په دې سکتور کې د نشه یي توکو د پام وړ رول دی. د راپوروندو پر بنسټ، د تریاکو تولیزه تولیدات د تیر کال له منفي ۴۸ سلنه ثبت شوې کچې څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۴۵ سلنې ته زیات شوي دي. له مالدارۍ پرته د کرنیز سکتور نورو برخو په ۱۳۹۵ مالي کال کې ښې کړنې درلودلې دي. د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د غلو (حبوباتو) کچه له منفي ۱۴.۲ سلنې څخه منفي ۴.۷ سلنې ته او د میوو کچه له ۷.۲ سلنې څخه ۳۲.۱ سلنې ته زیاته شوې ده. د کرنیز سکتور نورو برخو هم له منفي ۲.۲ سلنې څخه ۶.۳ سلنې ته وده موندلې ده. د یادونې وړ ده چې کرنیز سکتور د تریاکو له تولیداتو پرته، د تیر کال له منفي ۵.۷ سلنه ثبت شوې کچې څخه د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ۶ سلنې ته وده کړې ده.

په همدې ترتیب، د صنعت سکتور وده د ۲۰۰۲ کال له ډېر خراب وضعیت راهیسې، په ۱۳۹۵ مالي کال کې منفي ۱.۹ سلنې ته راکمه شوې ده. په ټولیزه توګه د ودانیز سکتور وده د تیر کال له ۸.۱ سلنه ثبت شوې کچې څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې منفي ۴.۷ سلنې ته کموالی موندلی دی، حال دا چې د دې سکتور نورو برخو یا لوړېدونکی بهیر درلودلی او یا هم ثابته پاتې شوې دي. د کان او کان کیندې په برخه کې د بدلونونو بهیر لوړېدونکی دی چې له منفي ۷.۹ سلنې څخه ۱۰.۴ سلنې ته زیاتوالی ښکاره کوي. نورې برخې لکه: برېښنا، غاز او اوبه هم لوړېدونکی بهیر لري چې له منفي ۱.۵ سلنې څخه ۴ سلنې ته زیاتوالی ښکاره کوي.

د تولیداتو (د توکو جوړولو) فرعي سکتور وده په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱ سلنه ثابته پاتې شوې، سره له دې چې د هغه په ځینو برخو کې وضعیت مختلطه ؤ، لکه د فرنیچر په ګډون د لرګیو او د لرګیو تولیداتو د پام وړ کموالی درلود، خو منسوجاتو (نساجي)، پوښاکو او څرمنو؛ له پترولیم او ډبرو سکارو پرته نافلزي کاني موادو او په عمده توګه اصلي فلزونو لوړېدونکی بهیر درلودلی دی. له بلې خوا، ودانیزې کړنې ښې نه وې او د صنعت سکتور په وده کې منفي ونډه درلودلې ده. دا برخه د ارزونې لاندې دوره کې له ۸.۳ سلنې څخه منفي ۴.۷ سلنې ته راکمه شوې ده.

همدا ډول د خدمتونو د سکتور وده د تیر کال د ټاکل شوې کچې په پرتله په ۱۳۹۵ مالي کال کې زیاتوالی ښکاره کوي. د دې سکتور وده، د مالي، بیمې، املاک او سوداګرۍ، ټرانسپورټ، زېرمو، مخابراتو، د استوګنځاینو د مالکیت، شخصي او ټولنیزو خدمتونو، دولتي خدمتونو او داسې نورو خدمتونو په برخو کې د فعالې ونډې په درلودلو سره له ۱.۴ سلنې څخه ۲.۴ سلنې ته زیاته شوې ده. د مالي، بیمې، املاک او سوداګرۍ برخې له منفي ۲.۳ سلنې څخه ۲۰ سلنې ته زیاتوالی موندلی چې د خدمتونو په سکتور کې تر ټولو ډېره ونډه لري.

په ورته وخت کې، د غونډ(عمده) پلورنې او پرچونې سوداګرۍ، هوټلونو او ریسټورانټونو برخه له ۳.۸ سلنې څخه منفي ۷.۲ سلنې ته د پام وړ کموالی ښکاره کوي.

په پای کې کولای شو ووایو چې پر وارداتو د مالیو کچه د تیر کال له ۱۶.۱ سلنې څخه د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ۷.۸ سلنې ته د پام وړ راکمه شوې ده.

۱.۵ جدول: د تولیداتو د سکتورونو لخوا د حقیقي کورني ناخالصه تولیداتو وده (د سلنې له مخې)

| د بازار د بیو له مخې حقیقي کورني ناخالصه تولیدات<br>( د سلنې له مخې کلني بدلونونه)<br>*د ترياکو په ګډون | | | |
|---|---|---|---|
| **لمريز کال** | **۱۳۹۳** | **۱۳۹۴** | **۱۳۹۵** |
| **زیږدیز کال** | **۲۰۱۴/۱۵** | **۲۰۱۵/۱۶** | **۲۰۱۶/۱۷** |
| کرنه | **۳.۷** | **-۱۶.۹** | **۱۲.۴** |
| غلې (حبوبات) | ۳.۷ | -۱۴.۲ | -۴.۷ |
| تازه میوې | ۱۸.۹ | ۷.۲ | ۳۲.۱ |
| څاروي (کورنی ژوي) | ۰.۱ | ۰.۴ | ۰.۲ |
| ترياك (كوكنار) | | -۴۸.۴ | ۴۵.۵ |
| نور ** | -۵۷.۹ | -۲.۲ | ۶.۳ |
| **صنعت** | **۲.۴** | **۴.۵** | **-۱.۹** |
| کان او کان کیندنې | -۲.۲ | -۷.۹ | ۱۰.۴ |
| تولیدات | -۲.۵ | ۱.۰ | ۱.۰ |
| خوراکي توکي، څښاک او تمباکو | ۰.۷ | ۱.۵ | ۱.۱ |
| منسوجات(نساجي)، پوښاک او څرمن | -۳۵.۷ | -۱۵.۷ | -۱۴.۸ |
| د فرنیچر په ګډون لرګي او د لرګیو تولیدات | -۲۵.۲ | -۲۱.۲ | -۸۴.۲ |
| کاغذ، د کاغذونو تولید، چاپول او خپرول | ۸.۹ | ۰.۱ | ۰.۱ |
| کیمیاوي مواد، کیماوي پترولیم، ډبرو سکاره، ربړ او پلاستیک | -۱۶.۲ | ۱.۱ | ۱.۸ |
| د پترولیم او ډبرو سکارو پرته نا فلزي کاني مواد | -۲۶.۱ | ۹.۳ | ۲۱.۳ |
| اصلي فلزونه | -۷۶.۹ | -۴۱.۰ | ۱۰.۷ |
| برېښنا، غاز او اوبه | ۲.۷ | -۱.۵ | ۴.۰ |
| بیا رغونه | ۷.۰ | ۸.۱ | -۴.۷ |
| **خدمتونه** | ۴.۰ | ۱.۴ | ۲.۴ |
| غونډ(عمده) پلورنه او پرچونه سوداګري، ریستورانتونه او هوټلونه | -۱.۰ | ۳.۸ | -۷.۲ |
| غونډ پلورنه او پرچونه سوداګري | -۲.۷ | ۲.۹ | -۹.۳ |
| ریستورانتونه او هوټلونه | ۹.۲ | ۸.۹ | ۳.۶ |
| ټرانسپورټ، زېرمې او مخابرات | ۱.۸ | ۴.۲ | ۴.۹ |
| ټرانسپورټ او زېرمې | -۱.۷ | ۰.۷ | ۰.۵ |
| پُست او پُستي مخابرات | ۷.۸ | ۹.۸ | ۱۱.۱ |
| مالي چارې، بیمه، املاك او سوداګري | ۱۰۹.۰ | -۲.۳ | ۲۰.۰ |
| **مالي بانکوالي** | ۱۱۳.۳ | -۲.۳ | ۱۹.۶ |
| بیمه | ۲.۳ | ۳.۸ | ۵۴.۲ |
| املاك یا جایدادونه او سوداګریز خدمتونه | -۴.۵ | -۶.۳ | -۳.۱ |
| د استوګنځایونو مالکیت | -۲.۴ | -۴.۶ | ۲.۰ |
| د ټولنې، ټولنیز او شخصي خدمتونه | -۱.۲ | -۲.۲ | -۰.۶ |
| دولتي خدمتونه | ۸.۰ | -۲.۳ | ۰.۵ |
| نور خدمتونه | -۰.۶ | -۱۰.۱ | ۶.۷ |
| ټولیزه | ۳.۶ | -۲.۴ | ۳.۴ |
| مستثنی: د بانکونو اړوندو خدمتونو لګښتونه په وارداتو مالیې | -۱۰.۸ | ۱۶.۱ | ۷.۸ |
| **د بازار په بیو کورني ناخالصه تولیدات** | **۳.۱** | **-۱۸** | **۳.۶** |

**سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ ** لومړني معلومات**

## ۲.۵ د لګښت پر اساس کورني ناخالصه تولیدات

کورني ناخالصه تولیدات د لګښت د میتود له مخې یوازې له اسمي پلوه محاسبه کیږي. د ۱۳۹۵ مالي کال په بیلانس کې د هېواد د کورني ناخالصه تولیداتو د اسمي ودې نرخ د تیر کال له ۳.۲ سلنې ثبت شوې کچې څخه د ارزونې لاندې موده کې ۹ سلنې ته زیاتوالی موندلی دی. د دې زیاتیدو اصلي لامل د ټولیزه لګښتونو مثبته ونډه او د توکو په موجودۍ کې بدلونونه ګڼل کیږي. همدا ډول په کورني ناخالصه تولیداتو کې رامنځ ته شوی زیاتوالی د کورني ناخالصه ثابته پانګونو د کموالی او د صادراتو او وارداتو ترمنځ د نیمګړتیاوو د زیاتیدو له امله اغیزمن شوی دی.

د افغانستان د کورني ناخالصه تولیداتو تر ټولو عمده برخه ټولیزه نهایي مصرفي لګښتونه جوړوي چې په دوو برخو یعنې شخصي لګښتونو او دولتي لګښتونو وېشل کیږي.

د دواړو فرعي برخو په پام کې نیولو سره ټولیزه نهایي مصرفي لګښتونه د اوسني بازار په بیه د تیر کال له ۶.۴ سلنې څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې ۷.۵ سلنې ته زیات شوي دي.

له بلې خوا، د ناخالصه ثابتې پانګونې اسمي وده د تیر کال له ۱۱.۹ سلنه ثبت شوې کچې څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې منفي ۱.۵ سلنې ته راښکته شوې ده. سره له دې چې د دوامداره پانګه ایزه توکو د پام وړ زیاتیدو، د ودانیز سکتور د کمزوره کړنو چې د ناخالصه ثابتې پانګونې تر ټولو لویه برخه جوړوي، له امله اړوندې برخې منفي وده درلودلې ده.

د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې د موجودۍ او شمېرو بدلونونو (په مصرفي توکو کې پانګونو)، د کورني ناخالصه تولیداتو په زیاتیدو کې د پام وړ رول لوبولی چې د دې تولیداتو کچه یې د تیر کال منفي ۰.۱ سلنې څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱۸.۸ سلنې ته ډېره لوړه کړې ده.

د توکو او نافکتوري خدمتونو د صادراتو ټولیز ارزښت له ۸۶،۷۰۴ میلیونه افغانۍ څخه ۹۱،۹۸۳ میلیونه افغانۍ ته زیات شوی چې د تیر کال د ۱۱.۲ سلنه ثبت شوې کچې په پرتله د ارزونې لاندې کال کې ۶.۱ سلنه ټیټ نرخ ښکاره کوي. په ورته وخت کې د توکو او نافکتوري خدمتونو واردات له ۶۱۰،۶۸۶ میلیونه افغانۍ څخه ۶۵۳،۹۰۲ میلیونه افغانۍ ته زیاتوالی موندلی چې د ودې نرخ یې د تیر کال له ۱۲.۳ سلنې څخه د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې ۷.۱ سلنې ته رسیږي.

په پایله کې د منابع بیلانس (د صادراتو او وارداتو په منځ کې تشه) له ۵۲۳،۹۸۱ - میلیونه افغانۍ څخه ۵۶۱،۹۱۹ - میلیونه افغانۍ ته زیاتوالی موندلی دی، خو د ودې نرخ یې د تیر کال له ۱۲.۵ سلنې څخه ۷.۲ سلنې ته ټیټ شوی دی.

په ۱۳۹۵ مالي کال کې د احصائیې د مرکزي ادارې د خپاره شویو راپورونو پربنسټ، د هېواد نفوس د ۱۳۹۴ مالي کال له ۱.۸ سلنه زیاتوالي څخه ۲.۱ سلنې ته لوړ شوی دی.

همدا ډول د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ د تیر کال د ۱۱.۲ سلنه کمښت په پرتله په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۵.۶ سلنې ته راکم شوی دی او په ورته وخت کې د سړي سر عاید پر بنسټ کورني ناخالصه تولیدات له ۱.۴ سلنې څخه ۶.۷ سلنې ته زیات شوي دي. د کورني ناخالصه تولیداتو د تعدیلوونکو نرخ د تیر کال له ۵.۱ سلنې څخه ۵.۳ سلنې ته لږ څه زیاتوالی موندلی، حال دا چې شخصي لګښتونه له ۵.۸ سلنې څخه ۸.۵ سلنې او کورني ناخالصه سپماوو له منفي ۳۴.۴ سلنې څخه ۳۷.۶ سلنې ته د پام وړ زیاتوالی موندلی دی.

۲.۵ جدول: په اوسني نرخ د لګښت د کټګورۍ پر اساس کورني ناخالصه تولیدات، (کال په کال د سلنې بدلونونه)

| کټګورۍ | ۱۳۹۵<br>۲۰۱۶-۱۷ | ۱۳۹۴<br>۲۰۱۵-۱۶ | ۱۳۹۳<br>۲۰۱۴-۱۵ |
|---|---|---|---|
| **د نهايي مصرف ټولیزه لګښتونه** | ۷.۵ | ۶.۴ | ۱.۸ |
| خصوصي لګښتونه | ۷.۴ | ۷.۲ | ۱.۰ |
| دولتي لګښتونه | ۸.۰ | ۱.۵ | ۷.۶ |
| **ثابتې کورنی ناخالصه پانګونې** | -۱.۵ | ۱۱.۹ | ۷.۱ |
| د ثابتې ناخالصه پانګې جوړښت | -۱.۵ | ۱۱.۹ | ۷.۱ |
| بیا رغونه | -۲.۴ | ۱۴.۰ | ۱۲.۸ |
| دوامداره پانګه ایزه توکي | ۲۳.۲ | -۲۷.۹ | -۴۴.۹ |
| د منابعو بیلانس | ۷.۲ | ۱۲.۵ | -۷.۸ |
| **د توکو او نافکتوري خدمتونو صادرات** | ۶.۱ | ۱۱.۲ | ۶.۴ |
| د توکو صادرات | ۵.۷ | ۱۱.۲ | ۷.۴ |
| نا فکتوري خدمتونه | ۸.۱ | ۱۱.۲ | ۲.۱ |
| **کم شي: د توکو او نافکتوري خدمتونو واردات** | ۷.۱ | ۱۲.۳ | - ۶.۰ |
| د توکو واردات | ۵.۹ | ۱۱.۲ | - ۶.۸ |
| نافکتوري خدمتونه | ۱۶.۰ | ۲۲.۱ | ۲.۰ |
| *د توکو په موجودی او د معلوماتو په اختلافونو کې بدلونونه | ۱۸.۸ | - ۰.۱ | -۱۲.۴ |
| **د بازار په نرخ ناخالصه کورني تولیدات** | ۹.۰ | ۳.۲ | ۲.۰ |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ * لومړني معلومات

## ۲.۵ ۱۳۹۶ کال لپاره د کورني ناخالصه تولیداتو لید لوری

تمه کیږي چې په ۱۳۹۶ مالي کال کې د افغانستان کورني ناخالصه تولیدات د ودې لوړیدونکی بهیر تجربه کړی. د بیلانس په پام کې نیولو سره تمه کیږي چې د هیواد اقتصادي وده په ۱۳۹۶ مالي کال کې ۳.۰ سلنې ته ورسیږي او دا شمیره د ۱۳۹۸ مالي کال لپاره ۴ څخه تر ۵ سلنه اټکل شوي ده. د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د هیواد د اقتصادي ودې بنسټیز لامل د کرنیز سکتور د کړنو ښه والي په ګوته شوی دی او تمه کیږي چې دا سکتور په ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ کلونو کې د هیواد د اقتصادي ودې بنسټیز عامل وي. د یادونې وړ ده چې د کرنیز سکتور وده شدیداً له موسمي اورښتونو سره تړاو لري او تمه کیږي چې د کرنیز سکتور وده په دې کال کې د ډیرو اورښتونو له کبله مثبته بدلونونه ثبت کړي. خراب امنیتي وضعیت د خصوصي سکتور د پانګونې او د دې سکتور د ودې په لاره کې تر ټولو ستره ننګونه او محدودیت ګڼل کیږي.

ویل کیږي چې دوامداره تاوتریخوالي او اقتصادي ناډاډمنتیاوو د هیواد اقتصادي وده اغیزمنه کړې ده. له سیاسي او امنیتي ننګونو سره سره د افغانستان دولت او نړیوالې ټولنې تل هڅه کړې ده چې د هیواد اقتصادي نظام با ثباته او پرمختللی کړي. د کورنیو تاوتریخوالو سره سره د افغانستان دولت هڅه کړې چې پر اوږد مهاله بنسټیزو پروژو او پروګرامونو کار وکړي.

په دې برخه کې، د کرنې وزارت د کرنیز سکتور د پرمختګ او ودې په موخه د کرنیزو محصولاتو د سوداګرۍ په پروګرامونو باندې کار کړی دی. د افغانستان دولت د بهرنیو بسپنه ورکوونکو (ډونرانو) په همکارۍ سره ژمن دی چې د ظرفیت د لوړیدو او د تولید د کچې د زیاتیدو په موخه له دې سکتور سره تخنیکي همکاري وکړي. له همدې امله تمه کیږي چې په ۱۳۹۶ مالي کال کې به د کرنیز سکتور وده د پام وړ زیاتوالی ومومي.

همدا ډول د صنعت او خدمتونو سکتور به په ۱۳۹۶ مالي کال

کې د ښو کړنو ګواه وي. په همدې ترتیب د افغانستان دولت نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړي څو تولیدي او نساجي سکتور ته په هېواد کې د صنعت د دودیدو په موخه پیاوړتیا ورکړي. سربېره پر دې، دولتي او خصوصي سکتور په افغانستان کې پانګونې ته لیوالتیا لري او په نږدې راتلونکې کې به د مثبتو بدلونونو ګواه وي.

# د مالي سکتور بدلونونه

## د مالي سکتور بدلونونه

د مالیاتي سکتور بنسټیزې موخې د عوایدو د راټولیدو زیاتوالی او د هغو کړنو پر له پسې پوښښ رانغاړي چې د بهرنیو مرستو له لارې تأمینیږي او په ورته وخت کې د دې برخې موخه د لګښتونو وده او د افغانستان د پراختیا له ملي استراتیژۍ(ANDS) سره سم د لګښتونو له تخصیص څخه د ډاډ ترلاسه کول دي.

سربېره پر دې، د عامه لګښتونو د ودې مدیریت، د مالي پالیسۍ جوړول، په عامه تشبثاتو کې اغیزناکي، د مالیې او ګمرکونو اداره کول د دې سکتور نورې موخې ګڼل کیږي.

همدا ډول په نړۍ کې لکه د نورو راغوړیدلو او لږ پرمختګ لرونکو هېوادونو په شان افغانستان هم د بودجې له نا انډولتیا (د بودجې له کسر) سره مخ دی چې ټولیزه لګښتونه یې د ټولیزه عوایدو په پرتله ( له بهرنیو مرستو پرته) ډېر دي او دا کسر په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱۹۸.۴۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي، خو که چېرې بهرنۍ مرستې د هېواد په اصلي بودجه کې شاملې کړو، نو اصلي بودجه به مو د ۵.۳۰ میلیارده افغانۍ د ډېریدنې شاهد وي.

همدا ډول ټولیزه کورني عواید په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱۵۴.۴۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې دورې د ۱۲۳.۳۸ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۳۱.۱۰ میلیارده افغانۍ یا ۲۵.۲۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

په ورته وخت کې، ټولیزه اصلي لګښتونه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۳۵۳.۷۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۳۱۸.۲۵ میلیارده افغانۍ په پرتله ۳۵.۴۸ میلیارده افغانۍ یا ۱۱.۱۵ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.

له بلې خوا، د بسپنه ورکوونکو مالي بسپنې عملیاتي او پراختیایي لګښتونه تر پوښښ لاندې نیسي. د بسپنه ورکوونکو هغه ټولیزه بسپنې چې عملیاتي او پراختیایي برخو ته ځانګړې شوې، په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲۰۳.۷۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۱۸۰.۱۷ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۲۳.۶۱ میلیارده افغانۍ یا ۱۳.۱۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د عملیاتي او پراختیایي لګښتونو اصلي بسپنه ورکوونکي اداري د افغانستان د بیا رغونې لپاره د پیسو صندوق (ARTF)، د افغانستان د نظم او قانون لپاره د پیسو صندوق)، LOTFA، د امنیت لیږد لپاره د ګډو ځواکونو قوماندان، د اسیا پراختیایي بانک، نړیوال بانک، اروپایي کمیسیون، متحده ایالات او د متحده ایالاتو د پراختیا نړیواله اداره رانغاړي.

سربېره پر دې، د کلنۍ پرتلې له مخې ټولیزه اصلي بودجه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۴۴۴.۶۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال کې د ۴۳۶.۱۷ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۸.۴۳ میلیارده افغانۍ یا ۱.۹۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. له بلې خوا، د عملیاتي بودجې د اجراء نرخ په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۹۰ سلنې ته رسیږي چې د تیرې دورې د ۸۳ سلنې په پرتله ۷ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي، حال دا چې د پراختیایي بودجې د اجراء نرخ په ۱۳۹۵ مالي کال کې د ۰.۴۳ سلنه کموالي په درلودلو سره د ۱۳۹۴ مالي کال له ۵۵.۴۴ سلنې څخه ۵۵.۰۱ سلنې ته راکم شوی دی.

۱.۶ ګراف: د ټولیزه عوایدو، ټولیزه لګښتونو او ټولیزه بودجې پرتله کول، ۱۳۹۴ مالي کال او ۱۳۹۵ مالي کال




سرچینه: د مالیې وزارت

## ۱.۶ د بودجې د اجراء نرخ

د ۱۳۹۵مالي کال په اوږدو کې دولت په بریالیتوب سره توانیدلی دی چې د ۴۴۵ میلیارده افغانۍ ځانګړې شوې بودجې یوازې ۷۶.۳۴ سلنه مصرف کړي، حال دا چې په ۱۳۹۴ مالي کال کې له ۴۳۶ میلیارده افغانۍ ټولیزه ځانګړې شوې بودجې څخه ۷۲.۹۱ سلنه مصرف شوې ؤ چې دا شمېره په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۳.۴۳ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. سربېره پر دې، د عملیاتي بودجې د اجراء نرخ په ۱۳۹۵ مالي کال کې د ۲۷۶.۰۵ میلیارده افغانۍ اختصاص شوې بودجې په لرلو سره ۸۹.۸۹ سلنې ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۸۲.۸۷ سلنه ثبت شوې کچې په پرتله ۷.۰۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول د پراختیایي بودجې د اجراء نرخ په ۱۳۹۵ مالي کال کې د ۱۶۸.۵۵ میلیارده افغانۍ ځانګړې شوې بودجې په درلودلو سره ۵۴.۰۱ سلنې ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۵۴.۴۴ سلنه ثبت شوې کچې په پرتله ۰.۴۳ سلنه کموالی لري.

له بلې خوا، د ټولیزې بودجې د اجراء نرخ د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې ۳.۴۳ سلنې ته لږ څه زیاتوالی موندلی دی. د اصلي بودجې د اجراء په نرخ کې کموالی ډېر لاملونه لري چې مهم یې د تدارکاتو اوږده پروسه او د تدارکاتو د ملي اداري لخوا د لګښتونو په تصویب کې ځنډ، د بودجې د تصویب ځنډول، په ولایتونو کې خراب امنیتي شرایط او د بودجوي ادارو کمزوره کړنې ګڼل کیږي.

۲.۶ ګراف: د عملیاتي، پراختیایي او ټولیزه بودجې د اجراء د نرخ پرتله، ۱۳۹۴ مالي کال او ۱۳۹۵ مالي کال




سرچینه: د مالیې وزارت د بودجې د اجراء کلنی راپور

## ۲.۶ اصلي بودجه (کسر او ډېریدنه)

د بسپنه ورکوونکو له مرستو پرته اصلي بودجې په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱۹۸.۴۸ میلیارده افغانۍ کسر درلوده. حال دا چې د هېواد ټولیزه بودجه په ۱۳۹۵ مالي کال کې د بهرنیو مرستو سره یوځای د کورنیو عوایدو ټولیزه بودجه ۵.۳۰ میلیارده افغانۍ ډېریدنه ښکاره کوي.

په ورته وخت کې ټولیزه بودجه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۴۴۴.۶۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۴۳۶.۱۷ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله په کلنی بودجه کې ۸.۴۳ میلیارده افغانۍ یا ۱.۹۳ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.

سربېره پر دې، ټولیزه عملیاتي بودجه په ۱۳۹۵ مالي کال کې د ۷.۴۴ میلیارده افغانۍ یا ۲.۶ سلنه کموالي په درلودلو سره د ۱۳۹۴ مالي کال له ۲۸۳.۴۹ میلیارده افغانۍ څخه ۲۷۶.۰۵ میلیارده افغانۍ ته راښکته شوې ده. له بلې خوا، ټولیزه پراختیایي بودجه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱۶۸.۵۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۱۵۲.۶۹ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۱۵.۸۷ میلیارده افغانۍ یا ۱۰.۳۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

۳.۶ ګراف: د ۱۳۹۴ مالي کال او ۱۳۹۵ مالي کال د ټولیزه اصلي بودجې پرتله




۴.۶ ګراف: د ۱۳۹۴ مالي کال او ۱۳۹۵ مالي کال د ټولیزه بودجې پرتله




سرچینه: د مالیې وزارت د کلنی بودجې کړنلاره (منول) او کلنی نغدي پلان

### ۳.۶ ټولیزه عواید

د بسپنو په ګډون ټولیزه عواید په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۳۵۸.۲۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۳۰۳.۵۶ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۵۴.۷۱ میلیارده یا ۱۸.۰۲ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. سربېره پر دې، د ۱۳۹۵ مالي کال د بودجې د اوسني کسر د له منځه وړلو په برخه کې د بسپنه ورکوونکو ټولیزه مرستو د ټولیزه عوایدو په راټولولو کې د پام وړ رول لوبولی څو د هېواد کلنۍ بودجه ډېره کړي. سربېره پر دې، په ۱۳۹۵ مالي کال کې د مثبت بهیر او د ټولیزه عوایدو د زیاتیدو بنسټیز لامل په ګمرکونو او د عوایدو د راټولیدو په سیستم، په اداري فیس، د نوي مالیاتي اقدام په تطبیق، د مخابراتو د فیس په زیاتوالي او د سوداګریزو محصولاتو د مالیاتو (BRT) د کچې په لوړولو کې چې له ۲ سلنې څخه ۴ سلنې ته یې زیاتوالی موندلی، سمونونه رانغاړي.

۵.۶ ګراف د ۱۳۹۵ مالي کال د ټولیزه عوایدو پرتله ښکاره کوي.




۶.۶ ګراف: د ۱۳۹۴ مالي کال او ۱۳۹۵ مالي کال د ټولیزه عوایدو پرتله




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست د لوی آمریت محاسبه

### ۱.۳.۶ غیر مالیاتي عواید

غیر مالیاتي عواید چې د کورني عوایدو عمده برخه جوړوي، په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۵۳.۳۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۳۳.۶۸ میلیارده افغانۍ په پرتله ۵۸.۴۶ سلنه یا ۱۹.۶۹ میلیارده افغانۍ د پام وړ زیاتوالی په ګوته کوي. له بلې خوا د ۱۳۹۴ مالي کال د شمېرو په پرتله د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د غیر مالیاتي عوایدو د زیاتیدو اصلي لامل د اداري فیسونو د عوایدو ۶۰.۷۴ سلنه، د امتیاز حق د عوایدو ۷۰.۹۷ سلنه، د متفرقه عوایدو ۳۳.۴۹ سلنه او د کان کیندنې صنعت ۷۹.۴۳ سلنه زیاتوالی ګڼل کیږي.

همدا ډول د مخابراتو وزارت، د ټرانسپورټ وزارت او د کورنیو چارو وزارت هغه اداري دي چې په ټولیزه توګه غیر مالیاتي عواید لکه مخابراتي فیس راټولوي.

۷.۶ ګراف: د ۱۳۹۵ مالي کال د ټولیزه غیر مالیاتي عوایدو اجزاوې




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست لوی آمریت محاسبه

### ۴.۶ د بسپنه ورکوونکو مرستې

د افغانستان حکومت له بیلابیلو بسپنه ورکوونکو، د پیسو له صندوقونو او نړیواله کمیټو څخه د یو لړ پروګرامونو د تمویل په موخه مالي مرستې ترلاسه کوي. د بسپنه ورکوونکو مرستې د ملي بودجې مهمه برخه جوړوي چې د دواړو عملیاتي او پراختیایي برخو په بودجه کې د

توکو د لګښتونو تر ټولو لویه برخه تمویلوي. مالي ټینګښت هغه ته وایي چې ټولیزه کورني لګښتونه د ټولیزه کورنیو عوایدو له لارې تمویل شي. حال دا چې د افغانستان کورني لګښتونه د بهرنیو مالي مرستو، بهرنیو پورونو او کورنیو عوایدو له لارې تمویلیږي.

له بلې خوا، ټولیزه پراختیایي او عملیاتي بسپنې په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲۰۳.۷۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۱۸۰.۱۷ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۳.۱۱ سلنه یا ۲۳.۶۱ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي چې د تیر کال د ورته مودې په پرتله د دې زیاتوالي عمده لامل د ټولنیزې پراختیا د شورا ګانو (CDC) د ظرفیت د لوړولو لپاره د پیسو تخصیص ګڼل کیږي. د روغتیایي خدمتونو لومړنی کڅوړه او د روغتونونو د خدمتونو بنسټیزه کڅوړه د ټولیزه پراختیایي مرستو تر ټولو لویه برخه جوړوي.

د عملیاتي او پراختیایي لګښتونو اصلي بسپنه ورکوونکي اداري د افغانستان د بیا رغونې لپاره د پیسو صندوق(ARTF، د افغانستان د نظم او قانون لپاره د پیسو صندوق)، LOTFA، د امنیت لیږد لپاره د ګډو ځواکونو قوماندان، د اسیا پراختیایي بانک، نړیوال بانک، اروپایي کمیسیون، متحده ایالات او د متحده ایالاتو د پراختیا نړیواله اداره رانغاړي.

## ۵.۶ لګښتونه

اصلي لګښتونه په پراختیایي او عادي لګښتونو ډله بندي شوي چې د اتو بیلابیلو سکتورونو لکه؛ امنیتي، دولتي، ښوونې او روزنې، روغتیا، کرنه، ټولنیزه خوندیتوب، بیخ بنسټونو او د اقتصادي مدیریت لپاره ځانګړي شوي دي. همدا ډول دا لګښتونه د سکتور پربنسټ د دواړو برخو یعني عملیاتي او پراختیایي بودجو لپاره ځانګړي شوي، حال دا چې د بیخ بنسټونو او اقتصادي مدیریتي لګښتونو زیاتوالی موندلی او د کرنې د سکتور لګښتونه د افغانستان د پراختیا د ملي ستراتیژۍ د لومړیتوبونو له مخې ترسره شوي دي. سربېره پر دې، ټولیزه اصلي لګښتونه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۳۵۲.۹۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۳۱۸.۲۵ میلیارده افغانۍ په پرتله په عمومي پراختیایي او عملیاتي لګښتونو کې ۳۴.۷۲ میلیارده افغانۍ یا ۱۰.۹۱ سلنه زیاتوالي ښکاره کوي.

همدا ډول عملیاتي لګښتونه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲۵۹.۲۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ورته دورې د ۲۳۵.۳۵ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۰.۱۴ سلنه یا ۲۳.۸۶ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي چې د دې زیاتیدو بنسټیز لاملونه د نورو اجزاوو پرته د ټکټاني ادایني، د کارکوونکو حقونه او معاشونه او ټولنیزې لیږدونې په ګوته شوي دي. په ورته وخت کې پراختیایي لګښتونه د ۱۴.۰۱ سلنه یا ۱۱.۶۱ میلیارده افغانۍ د پام وړ زیاتوالي په درلودلو سره د ۱۳۹۴ مالي کال له ۸۲.۹۱ میلیارده افغانۍ څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۹۴.۵۲ میلیارده افغانۍ ته لوړ شوي دي.



۸.۶ ګراف: د بسپنو ورکوونکو د عوایدو پرتله، ۱۳۹۴ مالي کال او ۱۳۹۵ مالي کال

سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست د لوی آمریت محاسبه

۹.۶ ګراف: د ټولیزه لګښتونو پرتله، ۱۳۹۴ مالي کال او ۱۳۹۵ مالي کال




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست د لوی آمریت

# د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

# د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

د بانکي نظام شتمنۍ د تېر کال په پرتله کمزوره وده درلودلې چې د ۲۰۱۶ زېږدیز کال د ډیسمبر د میاشتې د ۱۲.۱۸ سلنه زیاتوالی په پرتله د ارزونې لاندې کال کې ۱۰.۵۶ سلنې یا ۲.۸۳ میلیارده افغانۍ ته زیاته شوې ده. د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د زیاتیدو اصلي لامل په خزانه کې د نغدو پیسو او د افغانستان بانک باندې د طلباتو، پانګو اچونو او د نورو شتمنیو زیاتوالی ګڼل کیږي.

د بانکي نظام د ناخالصه پورونو پورتوفولیو د تیر کال د ۵.۰۳ سلنې ودې په پرتله د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې 9.14 سلنه یا 4.15 میلیارده افغانۍ راکمه شوې ده.

د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د پور د پورتوفولیو د کمېدو اصلي لاملونه د شتمنیو بیرته ترلاسه کول، د پورونو اداینه او د اضافه برداشت پورونو کمه کارونه ګڼل کیږي.

امانتونه چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه جوړوي او ارزښت یې ۲۵۴.۹۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي او د ټولیزه پوراینې په سلو کې ۹۶.۱۸ جوړوي، د تیر کال (۲۰۱۵ ډیسمبر) د ۸.۲۹ سلنه زیاتوالي په پرتله ۷.۵۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې اصلي لامل یې د سپما امانتونه او هغه امانتونه چې په افغانۍ اینبودل شوي دي.

د بانکي نظام ډېری امانتونه په امریکایي ډالرو (۶۳.۴۴ سلنه) او ورپسې افغانۍ امانتونه (۳۰.۹۳) سلنه دي. د بانکي نظام افغانۍ امانتونه د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر میاشت د ۱۱.۴۶ سلنه کموالي پر وړاندې په سلو کې ۱۹.۴۲ سلنه زیاتوالی موندلی، په داسې حال کې چې ډالري امانتونه د ۲۰۱۵ کال په ډیسمبر کې د ۱۷.۴۵ سلنه زیاتوالي په پرتله په دې کال کې ۰.۵۰ سلنه زیات شوي دي.

د بانکي نظام پانګه په ۱۳۹۵ مالي کال کې پیاوړې وضعیت درلود او د ۳۳.۹۱ میلیارده افغانۍ په درلودلو سره ۳۷.۴۳ سلنه زیاتوالی موندلی دی.

د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت (CAR) ۲۷.۶۸ سلنه ثبت شوی دی. تجزیه او تحلیل ښکاره کوي چې د یوه بانک پرته ټولو بانکونو د پانګې د کفایت نسبت (د خطر پر اساس عیار شوی ۱۲ سلنه شتمنۍ) له ټاکلي حد څخه پورته دی. د خطر پر اساس عیار شوي پانګې لپاره د بازل معیار ۸ سلنه دی.

بانکي نظام د ارزونې لاندې کال کې ۴.۲۹ میلیارده افغانۍ خالصه ګټه کړې چې د تیر کال د ۵۲۲ میلیونه افغانۍ خالصې ګټې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د شتمنۍ ترلاسه شوې ګټه د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر د ۰.۲۰ سلنې په وړاندې ۱.۵۵ سلنې ته رسیږي او له پانګې (اکویټي) ترلاسه شوې ګټه د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر میاشتې د ۱.۶۹ په پرتله ۱۵.۳۸ سلنې ته زیاته شوې ده. د بانکي سکتور د ګټورتیا د زیاتوالي عمده لامل د غیر ټکټانې عاید کې د پام وړ زیاتوالی ښودل شوی دی. د دې ترڅنګ بل عامل د پور په تخصیص او د ټکټانې په لګښت کې کموالی او د عملیاتي (عادي) لګښتونو کې زیاتوالی ښودل شوی دی. دولتي بانکونو او د بهرنیو بانکونو نمایندګیو د ارزونې لاندې کال له ګټې سره پای ته رسولی دی، په داسې حال کې چې خصوصي بانکونو په دې کال کې زیان کړی دی.

## ۱.۷ د بانکي نظام شتمنۍ

د بانکي نظام شتمنۍ د تیر کال د ۱۲.۱۸ سلنه زیاتوالي په پرتله د ارزوني لاندې کال کې ۱۰.۴۵ سلنه وده ښکاره کوي. د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو اجزاء ښکاره کوي چې تر ټولو ښکاره زیاتیدنه په خزانه کې نغدو پیسو او د افغانستان بانک باندې طلباتو په برخو کې ثبت شوي چې ۲۵.۳۸ میلیارده افغانۍ (۲۱.۸۸ سلنه) زیاته شوې ده. وروسته په ترتیب سره پانګې اچونې ۶.۴۲ میلیارده افغانۍ (۳۴.۱۱ سلنه)، بیرته ترلاسه شوي شتمنۍ ۱.۵۳ میلیارده افغانۍ زیاته شوې، په داسې حال کې چې د بانکونو ترمنځ طلبات او ناخالصه پورونو د ارزوني لاندې کال کې په ترتیب سره ۵.۵۱ میلیارده افغانۍ (۷.۰۴ سلنه) او ۴.۱۵ میلیارده افغانۍ (۹.۱۴ سلنه) کموالی ښکاره کوي. د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د پورټوفولیو مهمې برخې په خزانه کې نغدې پیسې/ د افغانستان بانک باندې طلبات (۴۷.۲۸ سلنه)، د بانکونو ترمنځ طلبات (۲۴.۳۳ سلنه)، نګه (خالصه) پورونه (۱۲.۱۸ سلنه)، پانګونې (۸.۴۴ سلنه)، "نورې شتمنۍ" (۴.۶۴ سلنه) او ثابتې شتمنۍ د ټولیزه شتمنیو ۲.۳۵ سلنه جوړوي. ۷.۱ جدول

۱.۷ ګراف: د بانکي سکتور د ټولیزه شتمنیو ونډه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

۱.۷ جدول: د بانکي نظام شتمنۍ

| شتمنۍ | ۱۳۹۴ لینډۍ ۲۰۱۵ ډیسمبر | ۱۳۹۵ لینډۍ ۲۰۱۶ ډیسمبر | د ټولیزه شتمنیو/ پورواینو سلنه | کال په کال وده |
|---|---|---|---|---|
| **شتمنۍ** | | | | |
| په خزانه کې نغدې پیسې او په افغانستان بانک باندې طلبات | ۱۱۵،۹۸۴ | ۱۴۱،۳۶۷ | ۴۷.۲۸ ٪ | ۲۱.۸۸٪ |
| د بانکونو ترمنځ طلبات | ۷۸،۲۶۱ | ۷۲،۷۴۸ | ۲۴.۳۳ ٪ | -۷.۰۴ ٪ |
| پانګونې | ۱۸،۸۱۵ | ۲۵،۲۳۲ | ۸.۴۴ ٪ | ۳۴.۱۱٪ |
| پورونه (خالصه) | ۴۱،۱۸۶ | ۳۶،۴۲۸ | ۱۲.۱۸٪ | -۱۱.۵۵ ٪ |
| نا ملموسه شتمنۍ | ۵۹۴.۶۰۳۹ | ۷۸۴.۷۶۵۲۱ | ۰.۲۶٪ | ۳۱.۹۸٪ |
| بیرته ترلاسه شوي شتمنۍ | ۰ | ۱،۵۳۴ | ۰.۵۱٪ | |
| ثابته شتمنۍ | ۷،۳۵۲ | ۷،۰۱۲ | ۲.۳۵٪ | -۴.۶۲ ٪ |
| نور | ۸،۴۹۵ | ۱۳،۸۷۳ | ۴.۶۴٪ | ۶۳.۳۰٪ |
| ټولیزه | ۲۷۰،۶۸۹ | ۲۹۸،۹۷۹ | | ۱۰.۴۵ ٪ |
| **پوراینې** | | | | |
| امانتونه | ۲۳۷،۰۰۲ | ۲۵۴،۹۵۲ | ۹۶.۱۸٪ | ۷.۵۷ ٪ |
| پور اخیستنې | ۴،۴۵۲ | ۳،۵۹۷ | ۱.۳۶٪ | - ۱۹.۲۰٪ |
| فرعي پور | ۴۳ | ۲۱ | ۰.۰۱٪ | - ۵۰.۰۰٪ |
| نور | ۴،۵۲۰ | ۶،۵۰۲ | ۲.۴۵ ٪ | ۴۳.۸۵٪ |
| ټولیزه | ۲۴۶،۰۱۷ | ۲۶۵،۰۷۲ | | ۷.۷۵ ٪ |
| **مالي پانګه** | ۲۴،۶۷۱ | ۳۳،۹۰۶ | | ۳۷.۴۳٪ |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

### ۱.۱.۷ ناخالصه پورونه

د بانکي نظام ناخالصه پورونه د تیر کال راهیسې ۴.۱۵ میلیارده افغانۍ یا ۹.۱۴ سلنه کموالی ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۱۳.۸۰ سلنه جوړوي. د پور په پورتوفولیو کې د شتمنیو بیرته ترلاسه کول چې ارزښت یې ۱.۵۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي، د نوي پورونو ادباینه او د اضافه بـرداشـت پـورونـو کمه کارونه د کموالي ستر لاملونه ګڼل کیږي.

۲.۷ ګراف: د بانکي ډلو ترمنځ د ناخالصه پورونو د پورتوفولیو ونډه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

د پور په پورتوفولیو کې کموالی نهو بانکـونـو پـورې تـړاو لري، په داسې حال کې چې پنځو بانکونو د خپل پـور پـه پورتوفولیو کې زیاتوالی او پاتې یو بانک (نوی کابل بانک) په پور ورکولو کې ونډه اخیستې نه ده.

د ناخالصه پورونو پورتوفولیو په خصوصي بانـکـونـو او د بهرنیو بانکونو په نمایندګیو کې راکم شوي په داسې حال کې چې په دولتي بانکونـو کـې بـیـا زیـات شـوي دي. خصوصي بانکونو د ارزونې لاندې کال په اوږدو کـې د ټولیزې پورتوفولیو د ۹۱.۵۷ سلنې ونډې په لرلـو سـره ۱۰ سلنه یا ۴.۲۰ میلیارده افغانۍ کموالی، د بهرنـیـو بـانـکـونـو نمایندګیو د ۱.۰۳ سلنې ونډې په درلودلو سره ۳۷ سلنه یـا ۲۵۸ میلیونه افغانۍ کموالی درلودلی، په داسې حـال کـې چې دولتي بانکونو د پورتوفولیو د ۷.۴۱ سلنې ونـډې پـه درلودلو سره ۱۱ سلنه یا ۳۰۷ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ثـبـت کړی دی.

### ۲.۱.۷ د پور د زیان زیرمې

د اعتباري خطر د کچې د ارزولو پر مهال، بانکونه بـایـد د خطر د کمولو د اډانې له مخې د اعتباري خطر د کـمـولـو ابزارونو ته پاملرنه وکړي. بانکونـه اړ دي چـې د دواړو عمومي زیرمو (معیاري شتمنیو) او د ځانګـړې تـدارکـاتـو (غیر معیاري شتمنیو) د چمتو کولو له لارې خپل اعتـبـاري خطرونه راکم کړي او د شتمنۍ د طبقه بندۍ او د پـور د تخصیص د تجدید شوي مقررې له مخې، د ۲۰۱۶ کـال د سپتمبر میاشتې څخه بانکونه اړ دي چې د خپلـو مـعـیـاري شتمنیو لپاره لږ تر لږه ۱ سلنه زیرمه بیله کړي.

د ۲۰۱۶ زیږدیز کال د ډیسمبر (۱۳۹۵ لینډی) په پای کې د بانکي نظام ټولیزه تدارکاتي زیرمې د تـیـر کـال (۲۰۱۵ ډیسمبر) په پای کې د ۹.۳۰ سلنې پـه پـرتـلـه د ټـولـیـزه ناخالصه پورونو ۱۱.۷۱ سلنه جوړوي.

### ۳.۱.۷ د کریډټ وېشنه

د دې لپاره چې د پور د پورتوفولیو کچه پراخه او د خطر متنوع والی ارتوالی ومومي او د نویو عـوایـدو د تـرلاسـه کولو سربېره مالي منابعـو تـه لاسـرسـی زیـات شـي، د افغانستان بانک د نورو سوداګریزو پورونو د وېش سکتـور په ۳۰ نورو سکتورونو وېشلی دی.[۴] پـه بیلابیلو سکتـورونـو کې د کریډټ له تجزیې څخه معلومیږي چې د پـور د پورتوفولیو ستره برخه "د نورو سـوداګـریـزو پـورونـو" (د ۲۰۱۵ کال په ډیسمبر کې د ۹۲.۷۸ سلنې په پـرتـلـه ۹۰.۱۳ سلنه) په توګه ډله بندي شـوې چـې پـه عـمـده ډول د

[۴] د ۲۶/۰۶/۱۳۹۳ نیټې د ۹۳/۰۱ شمیرې د محاسبې محتدالمال

"پټرولیم او روغنیاتو" لپاره (۱۱.۰۸ سلنه)، "د نورو ټولو خدمتونو" سکتور لپاره (۹.۹۰ سلنه)، د "ودانیز او رغاونې" لپاره (۸.۲۰ سلنه) او د "خوراکي توکي" لپاره ( ۷.۸۰ سلنه) او د پرچون پلورنې سکتورونو (۷.۳۱ سلنه) لپاره ځانګړې شوې دي. د غونډ پلورنې، تولید او صنعت او د اضافي پرزو په سکتورونو کې د مطلق مبلغ او د ټولیزه ناخالصه پوروونو د سلنې له پلوه د پام وړ کموالی لیدل شوی، په داسې حال کې چې د پرچون پلورنې او ټولو نورو خدمتونو برخې د لوړو سکتورونو له ډلې شمېرل کېږي. د کوچنې پورونو سکتور ته ځانګړي شوي پورونه ۴.۰۸ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې ۷۰۹ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي چې د یو بانک لخوا برابر شوي دي. د کوچنې او منځنې تشبثاتو لپاره ځانګړي شوي پورونه ۲.۵۹ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې ۵۳۶ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي او د پنځو بانکونو لخوا برابر شوي، خو اقتصادي سکتورونو ته د پورونو ځانګړی کولو سره بانکونه د ځانګړي سکتور د کړکیچن کېدو په صورت کې د هغه له اعتباري خطر سره مخ کېږي چې دا کار سکتورونو باندې ناوړه اغېزه کوي.

له همدې امله بانکونه باید د صعب الحصول پورونو د لوړ نسبت په پام کې نیولو سره د مهمو سکتورونو پورې تړلي خطرونه له نږدې څخه وڅاري. شاوخوا ۷۴.۰۱ سلنه پورونه د کابل لپاره ځانګړي شوي په داسې حال کې چې هرات او بلخ ولایتونه په دویم او دریم ځای کې راځي او ورپسې ننګرهار او بادغیس ولایتونه په څلورم او پنځم درجه کې واقع کېږي. په نورو ولایتونو کې د پور تناسب ډېر لږ و. د بانکي نظام د پورونو په جغرافیایي، سکتوري او اداري وېش کې لازمه تنوع راغلې نه ده، خو تمه کېږي چې د وخت په تیریدو سره د پورونو وېش متنوع شي. دا به ښه وي چې ټول بانکونه په پور ورکولو کې فعاله ونډه واخلي او د پور ورکولو خدمتونه متنوع او په مالي نظام کې خپل رول په ښه توګه ترسره کړي.

**۲.۷ جدول: د کریډېټ سکتوري وېش**

| | د ۱۳۸۸ کب (د ۲۰۱۰ مارچ) | د ۱۳۸۹ کب (د ۲۰۱۱ مارچ) | د ۱۳۹۰ کب (د ۲۰۱۲ مارچ) | د ۱۳۹۱ لیندۍ (د ۲۰۱۲ ډسمبر) | د ۱۳۹۲ لیندۍ (د ۲۰۱۳ ډسمبر) | د ۱۳۹۳ لیندۍ (د ۲۰۱۴ ډسمبر) | د ۱۳۹۴ لیندۍ (د ۲۰۱۵ ډسمبر) | د ۱۳۹۵ وږی (د ۲۰۱۶ سپتمبر) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ملکیتونو او ودانیزه پورونه | ۱۹.۹۲ | ۲۵.۹۸ | ۲.۸۵ | ۲.۲۹ | ۲.۰۲٪ | ۱.۸۰٪ | ۱.۹۰٪ | ۲.۹۲٪ |
| **نور سوداګریزه پورونه** | – | – | – | – | – | | | |
| کان کیندنه | – | ۰.۰۲ | ۰.۷۲ | ۰.۱۱ | ۰.۰۷٪ | | | |
| تولیدات | ۱.۲۲ | ۲.۷۲ | ۱۳.۳۲ | ۱۱.۸۸ | ۹.۳۶٪ | | | |
| سوداګري | ۳۲.۲۹ | ۳۴.۱۶ | ۲۷.۸۴ | ۲۸.۳ | ۲۹.۸۱٪ | | | |
| اړیکې | ۱.۰۴ | ۱.۲۳ | ۰.۹۴ | ۲.۳۵ | ۳.۷۰٪ | | | |
| خدمتونه | ۴.۸۴ | ۶.۷۲ | ۱۱.۹۵ | ۱۵.۹۴ | ۲۲.۱۱٪ | | | |
| سهولتونه | ۲.۴۷ | ۰.۰۳ | ۰.۳ | ۰.۰۷ | ۰.۰۵٪ | | | |
| کرنیز پورونه | | | | | | ۰.۲۷٪ | ۰.۳۳٪ | ۰.۱۲٪ |
| څاروي او فارمونه | | | | | | ۰٪ | ۰.۰۳٪ | ۰.۰۶٪ |
| تولیدات او صنعت (د فلزونو، لرګیو، پلاستیک او ربړ تولید) | | | | | | ۲٪ | ۴.۴۲٪ | ۳.۴۷٪ |
| تولیدات، لاسي او ماشیني تولیدات | | | | | | ۴٪ | ۴.۲۴٪ | ۳.۷۴٪ |
| سمنټ او ودانیز مواد | | | | | | ۳٪ | ۱.۹۶٪ | ۱.۲۷٪ |
| منسوجات (نساجي) | | | | | | ۲.۵۹٪ | ۰.۵۲٪ | ۰.۷۲٪ |
| بریښنا | | | | | | ۰.۳۵٪ | ۰.۲۲٪ | ۰.۳۸٪ |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ودانیز او تعمیرات | | | | | | ۱۲.۵۲٪ | ۷.۵۴٪ | ۸.۲۰٪ |
| خدمتونه | | | | | | ۴.۷۹٪ | ۳.۸۰٪ | ۳.۳۲٪ |
| هوټل او رستورانتونه | | | | | | ۱.۲۰٪ | ۱.۴۶٪ | ۱.۳۳٪ |
| مخابرات | | | | | | ۲.۹۲٪ | ۵.۷۰٪ | ۵.۹۶٪ |
| ځمکني ټرانسپورټ | | | | | | ۴.۸۷٪ | ۵.۳۱٪ | ۴.۸۶٪ |
| هوايي ټرانسپورټ | | | | | | ۴.۱۸٪ | ۲.۶۶٪ | ۲.۳۵٪ |
| روغتیا | | | | | | ۰.۷۱٪ | ۱.۱۶٪ | ۱.۴۲٪ |
| رسنی، اعلانونه او چاپ | | | | | | ۰.۰۴٪ | ۰.۰۴٪ | ۰.۰۵٪ |
| نور ټول خدمتونه | | | | | | ۱.۴۱٪ | ۷.۵۶٪ | ۹.۹۰٪ |
| غونډ پلورنه | | | | | | ۴.۹۳٪ | ۹.۸۹٪ | ۴.۳۴٪ |
| ماشینونه | | | | | | ۰.۱۲٪ | ۰.۲۵٪ | ۰.۱۳٪ |
| نفت او روغنیات | | | | | | ۸.۷۴٪ | ۹.۸۰٪ | ۱۱.۰۸٪ |
| پرزه جات | | | | | | ۰.۲۴٪ | ۱.۴۲٪ | ۰.۲۶٪ |
| الکترونیکي وسایل | | | | | | ۱.۴۰٪ | ۱.۵۸٪ | ۱.۹۱٪ |
| سمنټ اور نور ودانیز مواد | | | | | | ۱.۸۷٪ | ۲.۷۳٪ | ۲.۳۵٪ |
| خوراکي توکي | | | | | | ۴.۵۲٪ | ۸.۲۴٪ | ۷.۸۰٪ |
| نور ټول توکي | | | | | | ۵.۷۲٪ | ۳.۴۷٪ | ۴.۱۷٪ |
| پرچون پلورنه | | | | | | ٪۳.۹۲ | ۳.۲۸٪ | ۷.۳۱٪ |
| سړکونه او د ریل پټلی | | | | | | ٪۲.۴۱ | ۱.۱۷٪ | ۰.۶۴٪ |
| بندونه | | | | | | ۰.۶۱٪ | ۰.۰۹٪ | ۰.۰۴٪ |
| کانونه | | | | | | ۰.۰۸٪ | ۱.۴۸٪ | ۰.۵۲٪ |
| نورې بیخبنسټیزې پروژې | | | | | | ۱.۸۱٪ | ۲.۴۴٪ | ۲.۴۴٪ |
| مالي او پور ورکوونکي ادارې | | | | | | ۰.۰۰٪ | ۰.۰۰٪ | ۰.۰۰٪ |
| کرنیز پورونه | ۰.۸۸ | ۰.۷۵ | ۲.۰۶ | ۲.۶۶ | ۲.۳۸٪ | ۲.۳۴٪ | ۲.۳۵٪ | ۳.۰۸٪ |
| مصرفي پورونه | ۱.۳۳ | ۱.۰۱ | ۰.۸۲ | ۰.۷۴ | ۰.۲۴٪ | ۰.۲۶٪ | ۰.۳۰٪ | ۰.۶۵٪ |
| اشخاصو ته د استوګنې رهني پورونه | ۷.۳ | ۸.۹۵ | ۱۵.۶۵ | ۱۴.۴۶ | ۱۰.۸۴٪ | ۷.۱۴٪ | ۲.۶۸٪ | ۲.۷۸٪ |
| ټول نور پورونه | ۳.۶۹ | ۱۰ | ۱۲.۶۵ | ۱۰.۷۱ | ۹.۴۱٪ | ۶.۶۸٪ | ۰.۰۰٪ | ۰.۴۳٪ |

**سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک**

## ۲.۷ د پورونو ډله بندي

### ۱.۲.۷ صعب الحصول پورونه

بانکونه باید د خپل اعتباري خطر مدیریتي تدابیر پیاوړي کړي څو د صعب الحصول پورونو لوړه کچه چې یو مطلوبه وضعیت نه ګڼل کیږي، ډېر راکم کړي. سربېره پر دې، داسې انګیرل کیږي هغه بانکونه چې د کریډټ کمزوره کړنه لري، د خطر مدیریت یې نا اغېزناکه دی. ‌پکاره ده چې د پور د کمزوره کیفیت لرونکي بانکونه د پور لپاره غوښتنلیکونه په کره توګه وارزوي، له ټولو نافذه قوانینو، مقررو، بیت المالونو، داخلي پالیسیو او کړنلارو سره مطابقت وکړي او د خپلو پور وړونکو مالي وضعیت له نږدې څخه وڅاري څو ډاډمن شي چې نور پور ورکړه د مالي نظام د ثبات لپاره کوم خطر نه پېښوي.

په پولي اصطلاح، د ۲۰۱۶ کال د ډیسمبر د میاشتې په پای کې د صعب الحصول پورونه ۵.۲۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۱۲.۶۷ سلنه جوړوي او د بانکي نظام مقرراتي پانګه د تیرې کال د ټولیزه ناخالصه پورونو د ۵.۶۰ میلیارده افغانیو یا ۱۲.۳۴ سلنې په پرتله د ارزونې لاندې کال کې ۱۷.۴۴ سلنې ته رسیږي. د صعب الحصول پورونو د کموالي عمده لاملونه د پورونو بیرته ترلاسه کول او لغو کول ښودل شوي دي. له ۷۵ سلنه زیات صعب الحصول پورونه په دریو خصوصي بانکونو پورې تړاو لري چې د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو په سلو کې ۵۷.۶۸ جوړوي.

د مالي چارو د څارنې لوی آمریت له هغو مالي ادارو سره له نږدې کار کوي چې د پور کمزوره کړنه لري څو د شتمنیو کیفیت یې ښه شي. دا وضعیت تنظیمي څارنې او چټکه اصلاحي اقداماتو ته اړتیا لري څو د اعتباري خطر مدیریت پیاوړی کړي او د پور کمزوره کیفیت لرونکي بانکونو پر ګټورتیا او پانګه ایز کفایت باندې له ناوړې اغېزې مخنیوی وکړي.

د بانکي نظام د صعب الحصول پورونو سکتوري ویش ښکاره کوي چې د صعب الحصول پورونو عمده برخه سوداګریزو پورونو چې د سکتور ۳۸.۶۸ سلنه جوړوي، ورپسې د خدمتونو او تولیداتو سکتورونو پورې تړاو لري. په داسې حال کې چې د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې صعب الحصول پور په دغو سکتورونو کې کموالی ښکاره کوي، په نورو سکتورونو کې بیا زیاتوالی راغلی دی.

**۳.۷ ګراف: د پور د پورټوفولیو کیفیت**




### ۲.۲.۷ معکوس ډله بندي شوي پورونه

معکوس ډله بندي شوي (تحت المعیار، مشکوکه)[۵] پورونه د تیر کال په اوږدو کې د ۲.۴۰ میلیارده افغانۍ زیاتوالی په درلودلو سره ۱۱.۱۰ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۲۶.۹۱ سلنه یا د مقرراتي پانګې ۳۷.۰۷ سلنه جوړوي چې له همدې امله د عامل پلاوي لخوا دقیقه

۵. د شتمنیو د ډله بندۍ او تخصیص د نوي مقررې له مخې، هغه شتمنۍ او مخکې ورکړې چې اصلي مبلغ یا ټکټانه یې د ۳۱ تر ۹۰ ورځو پورې (تحت المعیار) ناتصفیه (ناترلاسه) شوی پاتې وي. پاتې راغلې شتمنۍ او مخکې ورکړې چې اصلي یا د ټکټانې مبلغ یې د ۹۱ تر ۳۶۰ ورځو (مشکوکه) ورځو لپاره نا تصفیه شوی پاتې وي.

څارنې او د مدیریت لخوا اصلاحي اقداماتو ته اړتیا لري څو د معکوس ډله بندي شوي پورونو کچه مطلوب حد ته راښکته کړي. سربېره پر دې، د هغو بانکونو چې د پور ورکړې کیفیت یې ټیټ دی، د ګډې اداري د پیاوړې کولو، د داخلي ابزارونو د اغېزمنتیا زیاتولو او د اصلي (داخلي) او غیر داخلي خطر پر ښه مدیریت باندې ډېر ټینګار وشي. د بانک لوی مقامات باید مناسبه تدابیر تر لاس لاندې ونیسي څو هغو مسایلو او کمزورتیاوو باندې غور وکړي چې د احتیاطي مقررو له مخې د پور د کمزوره کړنې لامل شوي دي.

که څه هم سیستماتیک خطر او اقتصادي رکود به د بانکونو کمزوره او له اصولي پلوه مهم شتمنیو کیفیت کمزوره کړی په تېره بیا پورونه، د بانک لوی مقامات باید داسې میکانیزمونه طرحه کړي چې د دا شان خطرونو وړاندې وینه وکړي، له بالقوه خطر څخه مخنیوی وکړي او د احتیاطي مقررو له مخې مناسبه احتیاطي تدابیر اتخاذ کړي.

### ۳.۲.۷ تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه

تر نظر لاندې کټګورۍ[۶] کې ډله بندي شوي پورونه ۳.۸۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصو پورونو په سلو کې ۹.۴۵ جوړوي او د تیر کال (۲۰۱۵ ډیسمبر) راپدېخوا ۱۹.۷۰ سلنه کموالی ښکاره کوي چې دا کموالی د بانکي نظام په دریو سوداګریزو بانکونو او یو دولتي بانک پورې تړاو لري. د پورونو دا کټګوري نږدې څارنې ته اړتیا لري، ځکه چې دا کټګوري د لازیاتو معکوسه ډله بندي شوي پورونو (تحت المعیار، مشکوکه) او په راتلونکي کې د خسارې لامل کیږي.

### ۴.۲.۷ په خساره کټګورۍ کې پورونه[۷]

په خساره کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه د ټولیزه ناخالصه پورونو ۵۵۶ میلیونه افغانۍ یا ۱.۳۵ سلنه جوړوي چې د تیر کال راهیسې ۲۱۰ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي چې په زیاته اندازه اوو بانکونو پورې تړاو لري. بانکونه اړ دي چې هر وخت کافي پانګه ولري څو په دې کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونو څخه رامنځ ته شوي خسارې جبران کړي ځکه چې دا کټګوري د بیلانس شیټ څخه د پورونو د لغو کولو لامل کیږي.

### ۵.۲.۷ د بانکونو ترمنځ طلبات

د بانکونو تر منځ طلبات چې د شتمنیو د بېلابېلو کټګوریو په منځ کې دویم ځای لري، د تیر کال ( د ۲۰۱۵ ډیسمبر) راهیسې د ۵.۳۳ میلیارده افغانۍ یا ۶.81 سلنه کموالي په درلودلو سره د ټولیزه شتمنیو ۷۲.۹۳ میلیارده افغانۍ یا ۲۴.۳۹ سلنه جوړوي چې دا کموالی په نهو بانکونو پورې اړه لري. دا بهیر ښکاره کوي چې بانکي نظام د خپل بانکونو ترمنځ طلباتو یوه برخه په خزانه کې نغدو پیسو او د افغانستان بانک پانګه ایزو پاڼو ته اړولې ده څو د شتمنیو د خطر کچه راکمه او د سیالیت وضعیت پیاوړی کړي، په داسې حال کې چې د ټولو بانکونو د پراخه سیالیت نسبت د حد اقل هدف څخه لوړ دي.

د هېواد د امنیتي او اقتصادي وضعیت په ښه کېدو سره بانکي سکتور کولای شي چې دا شتمنۍ د لوړ عاید کوونکي شتمنیو باندې بدل کړي. بانکونه نه یوازې باید د شخص د بانک اړوند خطرونه وارزوي، بلکې په کوم هېواد یا هېوادونو کې چې یو شخص مالي وجوه ایښې وي. (۷.۴ جدول وګورئ)

---

۶ د شتمنیو د ډله بندۍ او تخصیص د نوي مقررې له مخې، هغه شتمنۍ او مخکې ورکړې چې اصلي یا ټکتانې مبلغ یې د ۱ تر ۳۰ ورځو پورې (د نظر لاندې) ناتصفیه شوی پاتې وي.

۷ د ۱۶/۰۹/۱۳۹۲ نیټې د ۰۳/۹۲ شمېرې د محاسبې لیک له مخې، هغه شتمنۍ چې د اصلي یا ټکتانې مبلغ اداینه یې د ۵۴۰ یا زیاتو ورځو لپاره نا ادا شوې پاتې وي.

## ۶.۲.۷ پانګه اچونه

د بانکي نظام د پانګې[۸] پورتوفولیو په اړوندو کمپنیو کې پور پاتې، دولتي بیه لرونکي پاڼې او پانګه رانغاړي. د بانکي نظام د پانګې پورتوفولیو په ۱۳۹۵ مالي کال کې د ۳۴.۱۱ سلنې یا ۶.۴۲ میلیارده افغانۍ زیاتوالی په درلودلو سره ۲۵.۲۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه شتمنیو ۸.۴۴ سلنه جوړوي. په پانګونې کې زیاتوالی د یوولسو بانکونو لخوا رامنځ ته شوی دی. د بانکي نظام د پانګونېستره برخه له هېواد څخه بهر ترسره کیږي. د پانګونې په پورتوفولیو کې دا زیاتوالی دوو دولتي بانکونو، شپږو سوداګریزو بانکونو او دریو د بهرنیو بانکونو نمایندګیو پورې تړاو لري.

۴.۷ ګراف: د بانکي ولو ترمنځ د بانکونو ترمنځ د طلباتو




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت

## ۷.۲.۷ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات

په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات د ټولیزه شتمنیو تر ټولو لویه کټګوري ده چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۴۷.۲۸ سلنه جوړوي چې د تیر کال (د ۲۰۱۴ ډیسمبر) د پای راهیسې د ټولیزې شتمنی په دواړه مطلق او همدا ډول سلنه ایز کې ۲۵.۳۸ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي.

بانکي نظام په بشپړه توګه د اجباري زیرمې له مقررې سره په تطابق کې دی او په محتاط او ورو ډول راجلب شوې پیسې د شتمنیو نورو ډولونو کې ځای په ځای کوي.

## ۳.۷ پوراینې

د بانکي نظام ټولیزه پوراینې د تېر کال (د ۲۰۱۵ ډیسمبر) د ۲۴۶.۰۲ میلیارده افغانۍ په پرتله ۲۶۵.۰۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې ۱۹.۰۵ میلیونه افغانۍ یا ۷.۷۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د څنډیدلي حسابونو، پور اخیستنو، فرعي پور او د تامیني مشتقاتو پرته د ټولیزه پوراینو ټولو برخو زیاتوالی ښکاره کړی دی.

ډېری پوراینې د امانتونو (۹۶.۱۸ سلنه) څخه جوړې شوې چې نورې پوراینې په دویم او پور اخیستنې په دریم ځای کې واقع کیږي. (د ۷.۳ جدول وګورئ)

### ۱.۳.۷ امانتونه

د امانتونو د ډولونو له پلوه، جاري امانتونه د ۴.۱۷ سلنې زیاتوالي په درلودلو سره د ټولیزه امانتونو ۷۴.۷۹ سلنه جوړوي، د سپما امانتونه د ۲۱.۱۳ سلنې زیاتوالي په درلودلو سره د ټولیزه امانتونو ۱۹.۸۲ سلنه جوړوي، په داسې حال کې چې موده ایز امانتونه د تېر کال (د ۲۰۱۵ ډیسمبر) په پرتله د ۱۲.۲۷ سلنې زیاتوالي سره د ټولیزه امانتونو د پورتوفولیو ۵.۳۹ سلنه جوړوي.

۵.۷ ګراف: د بانکي ډلو ترمنځ د پوراینو زیاتوالی




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

---

۸ پانګې اچونې کې په پور پاڼو، په اړوندو شرکتونو، په یو فرعي شرکت او په یو بانک کې پانګه اچونې شامل دي

امانتونه چې د بانکي نظام مهمه تمويلي سرچينه جوړوي، د ارزونې لاندې کال کې ۲۵۴.۹۵ ميليارده افغانۍ ته رسيږي چې د ۲۰۱۵ کال د ډيسمبر مياشتې په پرتله ۱۷.۹۵ ميلياره افغانۍ يا ۷.۵۷ سلنه زياتوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام د امانتونو د زياتيدو عمده لاملونه د سپما امانتونه او په افغانۍ ترسره شوي امانتونه ويل شوي دي.

د اسعارو په ترتيب شننه ښکاره کوي چې په افغانۍ نومول شوي امانتونو ۱۹.۴۲ سلنه زياتوالی موندلی (د ۲۰۱۵ کال په ډيسمبر مياشت کې ۱۱.۴۶ سلنه کموالی موندلی) چې د ټوليزه امانتونو ۳۰.۹۳ سلنه جوړوي، په داسې حال کې چې په امريکايي ډالرو نومول شوي امانتونه يوازې ۰.۵۰ سلنه زيات شوي (د ۲۰۱۵ کال په ډيسمبر مياشت کې ۱۷.۴۵ سلنه زياتوالی موندلی) چې د بانکي نظام د ټوليزه امانتونو ۶۳.۴۴ سلنه جوړوي.

خصوصي بانکونو د بانکي نظام د ټوليزه امانتونو تر ټولو زياته برخه ۱۶۵.۱۴ ميلياره افغانۍ راجذب کړې، چې د تير کال د ۱۱.۵۲ سلنه زياتوالي په پرتله ۵.۲۵ سلنه زياتوالی ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټوليزه امانتونو ۶۴.۷۷ سلنه جوړوي.

د بانکي نظام په ټوليزه امانتونو کې د دولتي بانکونو ونډه د ارزونې لاندې کال کې ۱۲.۳۹ سلنې (د ۲۰۱۵ کال په ډيسمبر مياشت کې ۱.۹۱ سلنه) زياتوالي سره ۶۵.۷۸ ميلياره افغانۍ ته رسيږي چې د بانکي سيستم د ټوليزه امانتونو په سلو کې ۲۵.۸۰ جوړوي.

د بانکي نظام په ټوليزه امانتونو کې د بهرنيو بانکونو د نمايندګيو ونډه د ۱۱.۴۳ سلنې زياتوالي (د ۲۰۱۵ کال په ډيسمبر مياشت کې ۴.۰۹ سلنه زياتوالی موندلی) سره ۲۴.۰۴ ميلياره افغانۍ ته رسيږي چې د بانکي نظام د ټوليزه امانتونو ۹.۴۳ سلنه جوړوي.

۶.۷ ګراف: په افغانيو اينبودل شوي امانتونه




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت/ د افغانستان بانک

۷.۷ ګراف: د امانتونو اسعاري ترکيب




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت

**۸.۷ ګراف: د بانکي ډلو ترمنځ د امانتونو زياتوالی**




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت/ د افغانستان بانک

**۹.۷ ګراف: د امانتونه ویشنه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

### ۲.۳.۷ پور اخیستنې

د بانکي نظام د تمویل په ټولیزه جوړښت کې د پور اخیستنې ونډه د ۱۹.۲۰ سلنې کموالي سره د ۲۰۱۶ کال د ډیسمبر میاشتې په پای کې ۳.۵۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ۱۱.۸۳ سلنه زیاتوالي په پرتله د بانکي نظام د ټولیزه پوراینې ۱.۳۶ سلنه جوړوي. اوس مهال د بانکي نظام درې بانکونه پوروړي دي.

### ۴.۷ نقدینه ګی (سیالیت)

د نقدینه ګی خطر کولای شو د پور اخیستونکو او امانتونو اېښودونکو د تقاضاوو د پوره کولو لپاره د کافي سیالو شتمنیو نه درلودل تعریف کړو. ټول بانکونه اړ دي څو د نقدینه ګی څخه د راولاړې شویو ستونزو د مخنیوی لپاره سیالیت په مطلوب حد کې وساتي.

له همدې کبله، بانکونه باید د شتمنیو یوه مسؤوله کمېټه (ALCO) ولري چې د دې کمېټې دندې د بانک د سیاستونو په پام کې نیولو سره د نیمګړتیاوو د تحلیل او تجزیې له لارې د بانک د نقدینه ګی، د حساسیت د ټیسټ، د سناریو د شننې، د نغدي جریان د شننې او داسې نورو له مدیریت څخه عبارت دي.

**۳.۷ جدول: د بانکي نظام د مالي ټینګښت مهم شاخصونه**

| نسبتونه | د ۲۰۱۰ مارچ | د ۲۰۱۱ مارچ | د ۲۰۱۱ مارچ | د ۲۰۱۱ مارچ | د ۲۰۱۲ ډیسمبر | د ۲۰۱۳ ډیسمبر | د ۲۰۱۴ ډیسمبر | د ۲۰۱۵ ډیسمبر | د ۲۰۱۶ ډیسمبر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د پانګې د کفایت د نسبت مجموعه | ۲۵.۸۱ | – ۱۴.۴۶ | ۳۰.۳۹ | ۲۳.۰۶ | ۲۱.۸۴ | ۲۶.۳۴ | ۲۶.۴۶ | ۱۹.۹۴ | ۲۷.۶۸ |
| په ۱ ردیف کې د پانګې د کفایت نسبت | ۲۴.۱۹ | – ۱۴.۵۱ | ۳۰.۲۹ | ۲۳.۹۸ | ۱۹.۹۷ | ۲۴.۶۵ | ۲۶.۰۹ | ۱۹.۶۶ | ۲۲.۹۳ |
| په ټولیزه ناخالص پورونو کې د صعب الحصول پورونو ونډه | ۰.۵ | ۴۸.۴ | ۳.۷۵ | ۵.۱۵ | ۵.۳۱ | ۵.۱ | ۸.۰۹ | ۱۲.۳۴ | ۱۲.۶۷ |
| له شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټه(ROA) | ۱.۴۱ | –۲۰.۰۸ | ۰.۲۴ | – ۱.۲۱ | – ۰.۵۴ | ۰.۷۴ | ۰.۹۰ | ۰.۲۰ | ۱.۵۵ |
| د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه(ROE) | ۱۰.۳۵ | – ۵۲۰.۶۶ | ۱.۹ | – ۱۷.۹ | – ۷.۱۷ | ۱۰.۰۳ | ۷.۳۵ | ۱.۶۹ | ۱۵.۳۸ |
| د سیالیت نسبت ( پراخه منځنۍ کچه ) | ۵۹.۱۹ | ۶۳.۳۲ | ۶۳.۸۳ | ۵۷.۳۷ | ۷۲.۱۳ | ۶۷.۹۳ | ۷۳.۶ | ۶۸.۲۲ | ۶۷.۷۴ |
| په ټولیزه شتمنیو کې د سیالو شتمنۍ ونډه | ۰.۳۸ | ۴۰.۵۸ | ۴۷.۰۱ | ۵۵.۸۲ | ۶۳.۷۵ | ۷۳.۱۸ | ۷۳.۲۸ | ۷۵.۰۵ | ۷۱.۹۸ |

× د نوي کابل بانک پرته

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/د افغانستان بانک

### ۱.۴.۷ د سیالیت نسبت (پراخه کچه)

بانکونه مکلف دي چې د نغدي (سیالو) شتمنیو نسبت له ۱۵ سلنې ټیټ ونه ساتي. دا کار د سیالیت د کمیدو د مخنیوی لپاره ښه لاره ګڼل کیږي.

د بانکي سکتور د نقدینه ګۍ کچه په ټولیزه توګه په دې دوره کې زیاته شوې ده چې د ټولیزه شتمنیو ۷۱.۹۸ سلنه نغدي شتمنی جوړوي. په منځنی ډول د ټول بانکي نظام د نقدینه ګۍ کچه ۶۷.۷۴ سلنې ته رسیږي. د ټولو بانکونو د نقدینه ګۍ نسبت له ټاکلي حد څخه لوړ دی. (۷.۴ جدول)

### ۵.۷ پانګه

بانکي نظام کافي پانګه لري، د بانکي نظام پانګه ۳۳.۹۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال په پرتله ۰.۳۷۴ سلنه یا ۹.۲۳ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي.

د بانکي نظام په مالي پانګه کې دا زیاتوالی په عمده توګه ګټو او د پانګې اضافه کېدو پورې تړاو لري.

په ټولیزه توګه، د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت ۲۷.۶۸ سلنې ته رسیږي.

خو ناټولیزه شننه او تجزیه ښکاره کوي چې د یوه بانک پرته د ټولو بانکونو د پانګې د کفایت نسبت د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد ( د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ په سلو کې ۱۲) څخه لوړ دی. د بازل معیار د پانګې او د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ لپاره په سلو کې ۸ دی.

### ۶.۷ ګټورتیا (نافعیت)

بانکي نظام د ۱۳۹۵ مالي کال په پای کې په ټولیزه توګه ۴.۲۹ میلیارده افغانۍ خالصه ګټه کړې چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۵۲۲ میلیونه افغانۍ خالصه ګټې په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.

د بانکي نظام د ګټورتیا د زیاتوالي چې په ۶.۵ جدول کې څرګند شوی عمده عوامل د غیر ټکټاني په عاید کې د پام وړ زیاتوالی، د دې ترڅنګ بل عامل د پور په تخصیص او د ټکټاني په لګښت کې کموالی ښودلی دی، په داسې حال کې چې عملیاتي (عادي) لګښت د ارزونې لاندې کال کې زیاتوالی ښکاره کوي.

له شتمنیو څخه د ترلاسه شوې ګټې نسبت د تیر کال له ۰.۲۰ سلنې څخه ۱.۵۵ سلنې ته او له پانګې څخه ترلاسه شوې ګټې نسبت له ۱.۶۹ سلنې څخه ۱۵.۳۸ سلنې ته رسیږي.

۴.۷ جدول: د ګټې/ زیان جدول

| موضوع | ۱۳۹۴ (د ۲۰۱۵ دسمبر) | ۱۳۹۵ (د ۲۰۱۶ دسمبر) | د کال په کال بدلونونو سلنه |
|---|---|---|---|
| د ټکټاني عاید | ۹،۰۷۶ | ۹،۰۵۴ | - ۰.۲۵ |
| د ټکټاني لګښت | ۲،۰۴۴ | ۱،۸۱۳ | - ۱۱.۲۹ |
| د ټکټاني خالص عاید | ۷،۰۳۲ | ۷،۲۴۰ | ۲.۹۶ |
| د غیر ټکټاني عاید | ۵،۲۴۳ | ۱۰،۰۰۵ | ۹۰.۸۳ |
| د غیر ټکټاني لګښتونه | ۵،۶۰۷ | ۵،۸۴۶ | ۴.۲۶ |
| د معاش لګښت | ۳،۶۸۷ | ۳،۷۵۱ | ۱.۷۲ |
| د پور تخصیص | ۲،۹۵۲ | ۲،۳۵۴ | -۲۰.۲۶ |
| د مالیې مخکې ګټه/زیان | ۷۶۲ | ۵،۲۷۱ | ۵۹۱.۸۹ |
| د مالیې وروسته ګټه/زیان | ۵۲۲ | ۴،۲۹۳ | ۷۲۱.۹۲ |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

په ټولیزه توګه دریو بانکونو ۱.۱۹ میلیارده افغانۍ زیان کړی چې د ۱۳۹۴ مالي کال په پای کې ۱.۲۸ میلیارده افغانۍ زیان د دوو بانکونو لخوا شوی ؤ.

د اصلی عاید (Core Income) پر بنسټ، دري بانکونه په زیان کې دي، حال دا چې په تیر کال کې دوه بانکونه په زیان کې ؤ.

د ډلې په ترتیب شننه ښکاره کوي چې دولتي بانکونه او د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ د ارزونې لاندې کال لـه ګټې او خصوصي بانکونو دا کال له زیان سره پای تـه رسولی دی. ۷.۱۰ جدول

د بانکی نظام د ګټورتیا تر ټولو ستره برخه دولتي بانکونه جوړوي چې ۴.۲۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ګټه ۳۵۹ میلیونه افغانۍ ته رسیږي په داسې حال کې چې خصوصي بانکونو د ۲۰۱۶ کال د ډیسمبر میاشتې کې ۲۹۷ میلیونه افغانۍ زیان کړی دی.

**۱۰.۷ ګراف: د بانکي نظام ګټورتیا**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت

**۱۱.۷ ګراف: د بانکي نظام د پانګې او شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټه**




**۱۲.۷ ګراف: خالصه نهایي ټکټانه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

### ۷.۷ د اسعارو خطر

د اسعارو پرانیستی عمومي وضعیت د خطر کچه تر ډېره حده پورې په هغه محدوده کې د بانکونو لخوا په پام کې نیول شوی چې د افغانستان بانک لخوا ټاکل شوې ده. بانکونه په ټولیزه توګه د افغانستان بانک لخوا د اسعارو د عمومي پرانیستي وضعیت لپاره د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې قرار لري، پرته له اوو بانکونو څخه چې د اسعارو د پرانیستي عمومي وضعیت او همدا ډول د اسعارو د انفرادي وضعیت (د امریکایي ډالرو اوږدمهاله او لنډمهاله وضعیت، د یورو اوږدمهاله وضعیت) له ټاکل شویو حدودو څخه سرغړونه کړې ده. دا بانک باید خپل اسعاري وضعیت په ټاکلو حدودو کې واقع کړي، که نه نو د امریکایي ډالرو د ارزښت کموالی د بانکونو د لازیان لامل کېدای شي.

د بانکي نظام په مقرراتي پانګې باندې د اسعارو په نرخ کې د بدلونونو اغیزه ښکاره کوي چې د اسعارو د ۲۰ سلنې مبادلوي ارزښت د لوړیدو سره د بانکي نظام مقرراتي پانګه ۱.۶۱ میلیارده افغانۍ ډیریږي او د دې برعکس راکمیدلی شي. په ورته وخت کې ۴ سلنه بدلون ۳۲۳ میلیونو افغانیو په کچه بدلون راولي

او کمښدل یې د دې عکس بدلون راوستلی شي.

**۸.۷ د ټکټانې د نرخ خطر**

ټول بانکي نظام د ټکټانې د نرخ د حساس وضعیت څخه برخمن دی. خو بیا هم د بانکونو د ټکټانې نرخ د حساسیت د مهال وېش محاسبه ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټکټانې خالص عاید به په راتلونکو ۱۲ میاشتو کې په بازار کې د ټکټانې د ۰.۰۳ سلنې نرخ د زیاتوالي (د ټکټانې د زیاتیدونکي نرخ شاک) له امله ۱.۴۱ ملیارده افغانۍ ته زیات شي. برعکس، که چېرې د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه ټیټوالی (د ټکټانې د ټیټیدونکي نرخ شاک) ومومي له ټکټانې څخه ترلاسه شوی عاید به ۱.۴۱ ملیارده افغانۍ ټیټ شي. که چیرې د دریو بانکونو د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه زیات شي دا کار به د ۱۲ راتلونکو میاشتو په ترڅ کې د دې بانک د خالصې ټکټانې عاید راکم کړي.

د بانکونو د شتمنیو د حساسیت په میزان باندې د فشار راوړلو عمده لامل د پوراینې د ټکټانې د اداینې په نسبت د شتمنیو د ټکټانې د اداینې زیاتوالی دی. که څه هم دا کار د بانکونو د خالصه ټکټانې کچه او ګټه زیاتوي، خو په بازار کې د نرخونو د ناڅاپي کموالي له امله بانکونه ډېر زیانمنوي.

**مدیره پلاوی**

د پولي سیاست د لوی آمریت آمر: سید اسحاق علوي

د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: خالد معراج

د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: نایب خان جمال

د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: عبدالله مسعود

**د ایډیټ مسؤول**

اقتصادي څېړونکی: اسد الله شریفي

**د کارکوونکو ونډه**

اقتصادي څېړونکی: اقبال صافی

د بهرني سکتور شنونکی: ولي الله روحي

د پولي سکتور شنونکی: محمد جواد فریاد

د مالي چارو د څارنې د لوی آمریت

د داخلي برخې مدیره: انیسه اثیر

اقتصادي څېړونکی: شفیق احمد فقیر زاده

د مالي سکتور شنونکې: نقیب الله مشعل

ژباړه: عین الله عیان

ایډیټ: ایمل هاشور، د اسنادو او اړیکو لوی آمر

ډیزاین: خالد احمد فیضي

عکس: زیرک ملیا

د زیاتو معلوماتو لپاره:


ټلیفون: ۰۲۰-۲۱۰-۳۹۳۲

فکس: +93 (0) 202100305

برښنا لیک: info@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af

فیس بوک: https://www.facebook.com/AFGCentralbank

ټویټر: https://twitter.com/AFGCentralbank

د اسنادو او اړیکو لوی آمریت






info@dab.gov.af
Da Afghanistan Bank-Youtube
www.facebook.com/AFGCentralbank
Web: www.dab.gov.af
0093 0202104146
Da Afghanistan Bank-Google+
twitter.com/AFGCentralbank

د اسنادو او اړیکو لوی آمریت